# افغانستان

# په

# اوستاکې

مؤلف

سرمحقق دوست شینواری

۱۳۶۹

# اهداء

دمیرو یس نیکه سپیڅلي روح ته - مولف

# افغانستان
# په اویستاکی

( د اویستا لنډه پېژندنه )

مؤلف : سرمحقق دوست شینواری

کابل ۱۳۶۹ کال

# عنوانونه


| مخ | عنوان | ګڼه |
| --- | --- | --- |
| الف | سریزه | ۱ |
| ۱ | (لومړی برخه) بلخ - د زردښت لومړی ټاټوبی - | ۲ |
| ۱۳ | زردښت او ساک - | ۳ |
| ۱۹ | د زردښتي بزم سره د ساکو رابطه - | ۴ |
| ۲۱ | توران، تورانیان - سلم، سلیمان - | ۵ |
| ۳۲ | د ساکو د ارغوني تاریخ ځرک - | ۶ |
| ۳۶ | ساک څوک دي - | ۷ |
| ۳۸ | ساکي قبایل - | ۸ |
| ۴۲ | ساک په پامیر کې - | ۹ |
| ۴۳ | ساک او پښتانه - | ۱۰ |
| ۴۵ | د ساکو مهاجري څانګې - | ۱۱ |
| ۴۶ | د ساکو سیاسي اتحادیه - | ۱۲ |
| ۵۰ | په ساکو کې د ښځو مقام - | ۱۳ |
| ۵۱ | ساک او هخامنشیان - | ۱۴ |
| ۵۷ | ساک په اوستایي ټولنه کې - | ۱۵ |
| ۵۸ | د اوستایي عصر باختري نومونه - | ۱۶ |
| ۵۸ | د پیکان څوک دي - | ۱۷ |
| ۶۰ | دانو - | ۱۸ |
| ۶۱ | داهه، دای - | ۱۹ |
| ۶۳ | ادهیو، دادهیو - | ۲۰ |
| ۶۳ | وردکه، هیوله - | ۲۱ |
| ۶۴ | پښین، اورګون - | ۲۲ |

| مخ | عنوان | کڼه |
|---|---|---|
| ٦٥ | کنکهه ـ | ٢٣ |
| ٦٥ | کابل ـ | ٢٤ |
| ٦٦ | بلخ ـ | ٢٥ |
| ٦٧ | البرز ـ | ٢٦ |
| ٧٠ | (دویمه برخه) زردشت، دهغه د ظهور شرایط او عقیده یې | ٢٧ |
| ٧٢ | د زردشت د پیدا یښت نیټه ـ | ٢٨ |
| ٧٧ | د زردښت د ظهور شرایط ـ | ٢٩ |
| ٨١ | د زردشتي مذهب عقاید ـ | ٣٠ |
| ٨٣ | د اهورا مزدا پرستیالان ـ | ٣١ |
| ٩٠ | (دریمه برخه) د ژوپوسره د زردشتیزم رابطه ـ | ٣٢ |
| ٩٨ | افسانوي ـ | ٣٣ |
| ١٠٢ | د اورو کش ډله د البرز غر ـ | ٣٤ |
| ١٠٨ | (څلورمه برخه) اویستا څه شی دی او کله ولیکله شوه | ٣٥ |
| ١١٦ | د اویستا په بیا ټولولو ډول ـ | ٣٦ |
| ١٢٠ | یوه تشریحي رساله ـ | ٣٧ |
| ١٢٣ | د اویستا ټاټوبی ـ | ٣٨ |
| ١٢٩ | (پنځمه برخه) د اویستا بیلې بیلې برخې | ٣٩ |
| ١٣٢ | وینديداد ـ | ٤٠ |
| ١٣٦ | یسنا ـ | ٤١ |
| ١٣٩ | یشتونه ـ | ٤٢ |
| ١٤٢ | وړه اویستا ـ | ٤٣ |
| ١٤٥ | (شپږمه برخه) د اویستا د څیړ لو تاریخچه ـ | ٤٤ |
| | ماخذونه ـ | ٤٥ |

# ښو خبري

زردښت زموږ د گران هیواد په لرغوني تاریخ کې ویاړلی او ستر مقام لري، ځکه چې ښايي هغسې دلته له دې هېر شوی. د دې نیمگړتیا ستر علت هم دا دی چې د عصر په یوه حساسه مرحله کې د گران افغانستان په ښتوني باندې د روسي په شان نړیوال امپریالیزم او د هغه استازیو د قدرت تورې منگولې ښخې کړې وې، هیوادوال یې له حرکته غورځولي او د هر ډول علمي، اقتصادي، تخنیکي او اجتماعي پرمختگ ته یې موقع نه وه ورکړې. په گران هیواد باندې د دې توري سلطې لړۍ په تېرو وختونو کې خوره وه او هم دا وخت په نړۍ کې د علومو د بې ساري پرمختگونو دوره وه.

په دغه زماني واټن کې نوره نړۍ په اصطلاح له کېږدۍ څخه سپوږمۍ ته ورسېده، خو زموږ گران هیوادوال له حیاتي ضروري لیک او لوست څخه هم لرې وساتل شول او د همدغې بې علمۍ په تیاروکې له خپلو تاریخي افتخاراتو څخه مطلق بې خبره وو. له دغو افتخاراتو څخه یو هم زردشت او اوېستا دی.

د لته چې د دې توري سلطې په توره تیاره کې له یوې خوا زموږ علماوو او پوهانو ته داسې شرایط نه برابرېدل چې خپل تاریخي ویاړ- ونه وڅېړي او هغه د اثبات په کورسۍ کښېنوي، له بلې خوا زموږ په ډېرو تاریخي افتخاراتو نورو هو چې دعوې کولې او په دې باب یې زیات ډېر نشریات او تبلیغات کول.

د دغو له غرضه ډکو تبلیغاتو له امله په دلته کې ډېر داسې کسان ولیدل چې د زردشت او اوېستا د تاتوبي په باب شکمن شوي وو.

حقیقت دا دی چې زردشت زموږ د لرغوني هیواد ویاړلی زوی او اوېستا هم د دغه هیواد لور ده. د دغه مطلب د زیات روښانه کولو له پاره مې د موثقو اسنادو او مدارکو په راټولولو پیل وکړ او په دې باب مې یوه لنډه څېړنه وکړه چې د هغې نتیجه یې گرانو لوستونکو ته وړا- ندې کوم.

ماخذونو ته او اوستا د زردښتیزم ټول مذهبي اصول او د زردښت
ټول تاریخ نه دی څېړلی او که نه نو په دې هره موضوع باندې
بېلابېل کتابونه لیکل شوي او لا به نور لیکل کېدای شي. له دغې
لنډې څېړنې څخه زما هدف دا دی چې ووایم د زردښت او اوستا
لومړی تاتوبی زموږ ګران لرغونی هېواد په تېره بیا د بلخ تاریخي
سیمه ده. له همدغه ځایه بیا د بلې هرې جهاني عقیدې په څېر د زرد-
ښتیزم وړانګې لیرو لیرو سیمو ته په تېره بیا د معاصر ایران خاورې
ته خپرې شوې بیا وروسته د پر کار ورته وشو خو د دې معنا دا نه
ده چې لومړی تاتوبی لکه څنګه چې دعوه کوي د معاصر ایران خاوره
ده.

د همدغه مطلب د اثبات له پاره ما هغه مواد او مطالب را
ټول کړي دي چې زموږ د هېواد او زموږ د تاریخي خاورې پورې
مربوط دي او په اوستا کې ئې افکار نامونه نښې انعکاس لري. د
زردښت او اوستا څرګه داشناری به خاطر ما په زردښتیزم او د
اوستا په بېلو بېلو اړخونو رڼا هم اچولې ده چې زموږ د ګرانو
هېوادوالو د علاقې او مینې ور به وي.

د زردښتیزم تاریخ هم د ساکو د تاریخ له مطالعې څخه پرته
نیمګړی دی نو ما څکه د ساکو په لنډه څېړنه هم دلته وړاندې کړه.

زه فکر کوم زما دا لنډه څېړنه به په دې باب د راتلونکو
محققینو ته ګټه وي ځکه چې د ثور پرتمین انقلاب د بل هر وخت
په زیات د علمیه مواد او څېړونکو پر اووږ علمي تحقیقاتو درونه مسئو-
لیت ایښی دی او په مقابل کې ئې د دوی د هلو ځلو له پاره د پره
امکانات برابر کړي دي نو هیله لرم چې نور افغاني محققین ا
په دې لاره کې ستر ستر ګامونه پورته کړي او ډېر ارزښتناک تو-
لنه به ئې په برخه شي. د دوی د زیات موفقیت په هیله

مرستیال محقق دوست شینواری
د پښتو څېړنو د اریوال مرکز رئیس

# د مؤلف نور کتابونه



الف: تالیفات

۱- ملګی (د اشعارو مجموعه)
د پښتو ټولنې چاپ ۱۳۴۶ کال

۲- د افغانستان ژبې او توکمونه
پښتو ټولنه - ۱۳۵۴ کال

۳- د پښتو د اولسي ادب لارې
پښتو ټولنه - ۱۳۵۶ کال

۴- پښتانه له کوچیانه - لومړی ټوک
د علومو اکاډمۍ - ۱۳۶۲ کال

۵- د ادب د تیورۍ اساسونه - د طبع او نشر د کمیټې خپرونه - ۱۳۶۵ کال

۶- زړه پانګه لومړی ټوک (قاموس) - د علومو اکاډمۍ - ۱۳۶۳ کال

۷- د خوشحال خټک اشعار چې تراوسه نه دي چاپ شوي (خپرنه - قلمي)
د هغو اشعارو چې له قلمي نسخو څخه راټول شوي دي یوه برخه یې د خوشحال
د کلیاتو په لومړي ټوک کې خپره شوې چې په ۱۳۵۹ کال کې د علومو -
د اکاډمۍ له خوا چاپ شوي دي.

ب - هغه آثار چې د مؤلف په اهتمام، تحلیل، تحشیه، مقدمه
او لغت لیک چاپ شوي دي:

۱- د میرزاخان انصاري دیوان - پښتو ټولنه - ۱۳۵۴ کال

۲- روښاني رساله - پښتو ټولنه - ۱۳۵۵ کال

۳- د سکندر خټک لیلی او مجنون - پښتو ټولنه - ۱۳۵۸ کال

۴- د صدیق دیوان - پښتو ټولنه - ۱۳۵۸ کال

۵- د علم رساله - د علومو اکاډمۍ - ۱۳۶۴ کال

۶- اختیارات بدیعي (د علومو د اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو په مرکز کې چاپ ته انتظار باسي.)

# Afghanistan in Avesta

by

Prof. Dost ShinwaraY

Kabul, 1990

د کتاب مؤلف -- سرمحقق دوست شینواری
خپروونکی موسسه -- د نشراتو ریاست
تیراژ--دوه زره
مهتمم -- لطف الرحمن خاموش

دولتی مطبع

PROPERTY OF ACKU 4067

لومړۍ برخه

# بلخ

## دزردشت لومړی ټاټوبی اودزردشتي مذهب لومړی ځانګو

زردشت زیږېدونکی د هیواد د لرغونې خاورې (بلخ) یو تاریخي شخصیت او اوستا د ده د مذهبي احکامو، اصولو او مناسکو د مجموعې کتاب دی. د زردشت او اوستا تاریخي موجودیت په باب د لرغوني یونان، او سوري، ارمني او عربي تاریخي منابعو زیات روایتونه لري چې په هغوی باب د معلوماتو لمن هغه وخت پراخه شوه چې لویدیځو ټولنپوهانو د اوستا متنونه ولوستلای شول. د متنونو، کیندنو او تاریخي روایتونو په رڼا کې یې په دغه موضوع سیستماتیک کار پیل کړ او نوي بریالیتوبونه یې په برخه شول او لا په دې باب یې هاند او زیار دوام لري.

په لویدیځ کې د زردشتي مذهب په باب لا په (۱۶۳۰) کې څېړنې پیل شوې او تر ننه پورې په دې باره کې ستر و پوهانو کار کړی دی. څېړنو زیات وخت پوهانو د اوستا د لوست او تحلیل سره مینه ده. دا پوښتنه یې وروسته طرحه شوه چې ((زردشت څوک و؟ افسانوي

شخصیت وکړ واقعي تاریخي؟ د زردشت د زیږېدنې او اوېستا د پیدا-
ښت لومړی ټاټوبی کوم ځای دی؟ د دې پوښتنې ته بیا وروسته محققینو او
مؤرخینو بېل، بېل ځوابونه ورکړي دي چې موږ په جمله کې یوه ډېره
مهمه نظریه دا ده. چې وایي زردشت د بلخ و او لومړی ـ یعنې د لرغوني
باختریا (بلخ) خاوره ده ، د زردشت مذهب ځانګړو او د مذهبي مقدس کتاب
(اوېستا) ژبه یې د لرغوني باختر پورې اړه لري.

په دې باب زموږ د ګاونډي هیواد ـ ایران نشراتي منابع کله کله
د همدغه حقیقت عالمانه تایید کوي او د زردشتیزم لومړی ټاټوبی
د باختر لرغونې خاوره ګڼي (لکه زردشتي مشر محقق هاشم رضي په
(فرهنګ اعلام اوېستا) او (ګنجینهء اوېستا) کې څو ځایه دغه حقیقت
تایید کړی) او کله بیا ځینې نور په تنګ نظرانه توګه زردشت او
زردشتیزم له یوې مخې خپلې خاورې ته منسوبوي.

غواړم دا موضوع په همدغه ملحوظ دلته وړاندې کړم.
په ځینو ایراني منابعو کې کله کله دا موضوع ډېره مختصره طرحه کېږي
مثلاً په یوه کتاب کې لیکي: (د زردشت دین د ایران په خاوره کې په قبل ـ
المیلاد د ... پېړۍ کې پیدا شوی دی د دغه دین د پېروانو شمېر
(۰۰۰۱۲۵) تنو ته رسېږي) (۱)

ځینې ایراني منابع زردشت او اوېستا ایران ته منسوبوي،
خو ایران په پراخه معنا اخلي (کله د اریانو ټولګو خاوره، کله
د هخامنشیانو د امپراتورۍ قلمرو، خو په افغانستان کې خوله هم نه
خوځوي. مثلاً په دې باب یو محقق لیکي:

---

۱ ـ ((فرهنګ دانش و هنر)) څلورم چاپ، تهران (۱۳۴۹) کال

((دزندژبه ، یوه هغه لرغونی ژبه چی مخصوصا له ایرانیانو هغه پاتی ده. هغه دزند ژبه ده او هغی ته لرغونی (باکتریانی) هم وایی ، ځکه‌چی دایران په‌ختیځ کی باختر یانو اری‌خبری کولی . دزند اصطلاح داروپایانو ده . زندهغه ژبه‌ده چی‌داویستا کتاب پری‌لیکل شوی دی اوداویستا کتاب دزردشت مذهبی کتاب اود ایرانیانو دادبی اومذهبی لرغونو اثاروڅخه دی . )) ( ۱ )

پدغسی لیکنه‌دلته خبری کول‌زما په خیال‌ضرور نه‌دی ، ځکه څوك چی اویستاد (باکتریانی) په نامه یاد وی او( باختریان ) ایرانیان بولی په ځواب ورکولو نه شایی ، یوبل محقق په دی باب لیکی :

«د زردشت مذهبی کتاب اویستا بولواوهغه‌په‌حقیقت کی دلرغونی ایران‌ژبه ده اودزری پارسی سره خپلوی لری ، د غه ژبه دایران په‌شمال کی‌مروجه وه‌اوله هر څه زیات دروحانیانو اومقد سو متنولو ژبه ده . » (۲)

نوموری محقق په‌دی باره کی کوم اسنادنه روانڈی کوی .
همدغه شان ځینی داسی اثار هم په‌ایران کی تر جمه شوی‌چی که ترجمه یی امانته اوددادوروی همدغسی‌روح لری لکه چی په

---

۱ ـ تاریخ ادبیات ایران ـ لومړی توك ـ مؤلف اقا میرزا جلال‌الدین‌همایی ـ اصفهانی تبریز ۱۳۰۹ کال ـ ۱۲۳ مخ

۲ ـ تاریخ ادبیات ایران مولف دکتور رضا زاده شفق . ۱۳۲۴ کال

یوه ترجمه (۱) کی به دی باب داسی ویل شوی دی :

« داخیره یوخی ثابته او مدلله ده چی اویستا یوه ایرا نی ژبه ده اودزړی پارسی به نسبت دغه ژبه ددوه خوینه و مناسبت لری ، نه دلوریا مور . خوپه دی باب چی دغه ژبه د ایران په کومه سیمه کی مروجه وه دنظر بیوا لی نشته ځکه چی دار مستترهغه د ماد ژبه گنی ، خوهغه عقیده چی په المان کی غلبه لری دا ده چی دادزاړه بلخ ژبه ده . (۲)

دار مستتر په هغه لنډ اورو ښان سبک چی لری هغه دلیلونه په لنډدول تشریح کوی چی د زاړه بلخ ژبه یی بولی او بیایی په دی دول ردوی .

۱ ـ زند (اویستا) د پارس ژبه نه ده .

۲ ـ دروایتونوله مخی د زردشت لومړی ارپالیتوب داوچی په بلخ کی گشتاسپ وا کمن پری وکړو هید .

۳ـ هغه جغرافیه چی په اویستا کی راغلی ده یوازی دایران دختیځ پوری اړه لری لومړی موضوع دارمستتر سمه بولی . ددویمی په باب وایی بلخ ځکه دزردشت په حماسو کی زیا ته ارزښه لرله چی هلته څه ځای د تورانی بت پرستانو په مقابل کی دزر دشتی مذهب دمبار زو ډگر و . بلخ دپایددیت پرستا نوسره دزردشتیا نود مبارز ودسرحدیو سنگرو بوـ لو.. ا وحتی کیدای شی دبلخ په و اکمن گشتاسپ با ندی دزردشتی مذهب دغلبی تاریخی مربوطی خاطری هلته دخلکو په اذها نو کی پاتی شوی میراث وگڼو .

---

۱ ـ تاریخ ادبی ایران ـ دپروفیسورا دوارد براون تالیف د علی ـ پاشاصالح ترجمه ، تهران دو یم چاپ ۱۳۳۵ کال دریم توك ۴۰ ـ ۴۲ مخونه .

۲ ـ دگیگر ، برتوله او شپیگل په دی عقیده لری چی اویستا د باختر یا ژبه ده وگوری دتاجیکی اولسی نظم له تاریخ څخه (۱۹۲) مخ

دریم دلیل هم درست نه دی. ځکه چی د ایران په تاریخ علاوه پداو پستاکی د ایران د شمال او او پدیخ یا دو له هم شته. داو پستا دو پندیدا دلو مړی فصل د (ارانویج) له پیل کیږی . ارانویج د (اتر وپاتن اوسنی ازر بایجان) په سرحد کی پروت دی (۱). دارمستتر دلته د مادی ژبی سپا کا Spaka د هرودوت په روایت چی (مادیانو سپی ته سپا کا ویل) او د او پستا د سپن (Span) د ریښی کلی و ن د ژبو د خپلوی سبب بولی (۲) البته دارمستتر په خپل یو بل کتاب کی پښتو داو پستا یوستر خالف الصدق بولی (۳) داو ود ایرانی منابعو دلیلو نه .

د پرو فیسورا دوارد براون په کتاب کی دو بل شو یوه لیاو تو ردول پښتی اسان کار دی ، خو د غه موضوع په لیکه په براخه پیما نه طرحه کړو. ځکه چی : د دارمستتر له وخته تر او سه البته په دی موضوع کی زیات انکشافات راغلی دی چی په پخو انیو معلوماتو اکتفا نه کیږی او له بلی خوا هم څسی نظر یا څونو نورو محققینو هم کله کله ورکړی دی چی د هغو د کمزوری ارخونه هر کند او د نوری نور وپا ورومستشر قینو رد کړی دی .

---

۱ ـ د گیگر په عقیده (اریا نه و یج) په پامیر کی دی او پداو پستا کی تهاپی لو یدیځه برخه و هر کانه د چی له جوز جا ن ـ کو ز گا ن څخه عبارت د .

۲ ـ که د مادی ژبی (سپا کا) او د او پستا (سپن) د د خپلوی د خپلوی نخښه و بولو په هغه صورت کی د او پستا د (سپن) نه د پښتو (سپی) مادی ژبی ته پښتی نژدی دی .

۳ ـ د پښتو ټولنی له خوا چاپ شوی (د دار مستتر د پښتو هیر نی) و گوری .

د دغو پوهانو په جمله کی د شوروی اتحاد پوه نامتو محقق بدر تلمس (۱۸۹۰-۱۹۵۷) د دغه موضوع په یوه پراخه عالمانه او بیطرفانه ډول مطرح کړی ده (۳) د دغه محقق هغه ټول نظریات په لنډ ډول اخیستی چی د اویستا لومړی تاتوبی او د زردشتی مذهب لومړی ځانګوپوهای یا بلځای بولی. په خپل عالمانه تحقیق هغه ټول ردوی او مستند او مدلل نظر وړاندی کوی چی د زردشتی مذهب لومړی تاتوبی او د اویستا لومړی ځانګو یوازی بلخ دی او بس. ښاغلی بیر تلمس دا موضوع داسی طرحه کوی :

... په هند کی د زردشتیانو د عنعنوی روایاتو او د زردشت په باب د فانتتا زیبیو ګرافی له مخی د زردشت تاتوبی ارغونی راهو (اوسنی ری) یعنی میدیا بلل شوی. له دغه ځایه ځینی پوهان خیال کوی چی د زردشتیزم د خپریدو ساحه د اریانی خاوری د جنوب لویدیځ له ترشمال ختیځه پوری خپره وه . نو که دا خیال سم وی په هغه صورت کی لازمه وه چی زردشتی مذهب د ایران د جنوب لویدیځ لومړیو ټولواکو واکمنو هخامنشیانو منلای وای . خو دا ثابته ده چی هخامنشیانو د زردشت مذهب منلی نه و . دا ثابته او یقینی ده چی له هخامنشیانو هغه په پاتی شویو اسنادو کی حتی د زردشت د نامه ، یا د هغه د عقیدی او مذهب په باب یوه کلمه هم نشته دا خبره بیخی زیات پام ځان ته اړوی چی د زردشتیزم د پیدا ښت لومړی تاتوبی د لرغونی باختر مرکز بلخ دی. په شهنامه کی په مفصل ډول ویل کیږی چی په بلخ کی ګوشتاسپ د اویستا - کوی ویشتسپ (Kavivishtasp)

---

۳- په (د پارسی - تاجیکی ادب تاریخ) کی د دغه موضوع مفصله مطرح شوی ده .

واکمن دزر دشت دین و مانه . دا یقینی ده چې دشهنامې دا ارخه فردوسي نه ده لیکلی ، بلکې داد دقیقی لیکنه ده چې خپل هیواد یې ښه پېژانده .

که داومنو چې د « پیشداد یانو » واکمنی کورنی په باب د شهنامې خصوصیات داویستا «پرادانه» سره سمون لري نودشهنامې قصوته یوازې شاعر انه تخیل نه شو ویلای ، بلکې شهنامه لکه اویستا له هغو لرغونو خما.بو څخه سرچینه اخلي چې د باختر یانو لرغونو نیکونو جوړې کړي وي ( ۱ ) .

ځینو پوهانو دا خیال هم کړی دی چې دزر دشت ددین حامی گشتاسپ دهخامنشي لومړی دارا پلار دی ، خو دا یوه تشه دعوه ده اوپه دې باب قناعت بخښونکي مواد نشته ، بلکې داسې اتکل ایستلی لری دی . ځکه ، لکه د مخه چې و ښودل شوه . د گو شتاسپ کلمه په اویستا کې ( کوی‌وېشتاسپ ( Kavi-vishtasp ) ده . ( کوي) یوازې دباختري‌واکمنو لقب و لکه کیکوباد ، کیکاوس ، کیخسرو اونور . ( ۲ ) دهخامنشیانودکورنۍ‌واکمنو ( کوی ) لقب نه‌درلود بلکې هغه وخت په ایران کې د پادشاه له پاره د (خشا ثیه) لقب استعمالېده .

ایادا (کوی) لقب ایرانی واکمنوته معلوم نه‌و ؟ دوی‌ولې خپل واکمن اسلاف په‌دغه نامه نه یاددول ؟ ترټولو مهمه لادا ده چې دهخامنشي دکورنۍ (گیشتاسپ) اصلاواکمن نه‌و .

---

۱ ـ «دپارسي ـ تاجکي ادب تاریخ » ۳۰ مخ.

۲ ـ داکلمه د(کوی) Kavi هغه (کی) ته‌وروسته مخفف شوې ده .

تاریخي اسناد وايي دزردشتي عقيدې پيدا ښت او خپريد لود تولواريايي توکمونواو ا ولسونو په ذهنونواو جهان بينی کي انقلاب راوست . نوهغه وخت دهخامنشيانو ددربار سترومؤرخينو لکه کسينوفونت ( Ksenofont ) نژدي : ۴۳۰ - ۳۵۵ ق م چې دهخامنشيانود کورني اود هغوی د قلمرو په چارو کي ښه بلد ود زردشت اوزردشتي مذهب په باره کي يوه کلمه هم نده ويلی .

دی چې دهخامنشي واکمن نوم په ډير احترام اخلي دهغه دقلمرو وړی اوغټی پيښي يادوي ولی نه ليکي چی په دغه قلمرو کي زردشتي مذهب هم شته . سترابون چې خوسوه کاله وروسته (دلومړی ميلادی پيړی دنولوکالونوپه شاوخوا کی مړشوی ) دايران په باب ډير هغه ليکي دی ولی يی هلته دزرشت اوزر دشتيزم په باب هيڅ نه دی ليکلی ؟ ددی تولو پوښتنو ځواب ډيرساده اوآسان دی اوهغه دا چې هلته نه زردشت تيرې شوی وا ونه د زرشت مذهب هلته لاخپور شوی و .

ترتولو مهمه پوښتنه لادادہ : که داومنوچې د زردشت لومړی تاټوبی هلته و ، دزردشتي مذهب لومړی حامی واکمن گيشتاسپ لومړي دارا پلارو ، نوبيا ولي هخامنشي کورنی زردشتي نده ؟

ځيني محققين (۱) وايي چی دهخامنشي واکمنو خپل ځانونه د خدای اوخلکوتر منځه واسطه گڼل» يعني دوی هغه رول درلود کوم چی زردشت درلود . نوکه داومنونود اهم ارمرو ومنوچی دوی ته په دسيالی اورقابت له امله زردشت پوسر سخت اوخطر ناك دښمن ښکاريدۀ بيا

۱ـ لکه اکاديمسن و. و پهستروو ی ( V.V. Struve ۱۸۸۹ـ۱۹۶۵ )

نو دوی کولای شول چی فرضاً ددوی په قلمرو کی دغه دښمن پر ځای ددوی ، ددوی د کورنی گشتاسپ پېر و او جاماسپ دی او په دوی پسی اغېزه نه ده کړی. هخامنشیانو په دیر کو هیڅ خپل دښمنان په گوته کړی دی، خو د دغه خطرناک دښمن نوم هم دوی نه دی یاد کړی. دا ولی؟ دا ټول د داسی روایتونو کمزوری ښیی چی هندی زړ د ښتیانو په افسانو دول ورانډی کړی او هغو نو روایتونو ته یی اتکاء کړی ده (۱)

لکه څنگه چی د زردشتی مذهب د موسس (زردشت) په باب دا موضوع طرح ده هماغه شان د هغه د مذهبی کتاب (اوستا) په باب هم طرح حه ده، خو د اوستا او زردشت په باب پوښتنی سره توام لری: زردشت د یوی تاکلی زمانی زوی دی، خو اوستا د څو سوو کلونو په جریان کی جوړه شوی ده. نو په دی اساس د ټولی اوستا په باب پوښتنه نشته ، بلکی یو پوښتنه داده چی د اوستا د زړو برخو لومړی تاټوبی کوم دی ، پوهانو پخوا د هندی زردشتیانو د روایت له مخی د هغو تاټوبی ایران فرضاوه. هغه وخت چی ایران د اوسنی محدودی جغرافیوی سیمی نوم نه و، د (ایران) له اصطلاح څخه دا نه پوهول کېده چی ایران یعنی کوم ځای؟ د لویدیځو او مرکزی اروپا ئیانو سیمه او که د ایران اوسنی جغرافیوی سیمه؟ دا یی هم نه څرگندوله چی اوستا د کوم اولس ژبه وه هغه اولس اوس په کومه ژبه خبری کوی؟

دا هغه پوښتنی دی چی اوسنی پوهان ځواب ورکوی.

د دغو پوښتنو د طرحی په جریان کی بېلو بېلو پوهانو په بېل بېل

۱ ـ د «پارسی ـ تاجیکی ادب تاریخ» ۳۲ مخ.

دوول ځواب ورکړی دی. د شوروی اتحاد څېړونکو پوهانو لکه و. و. ستروی V.V. Struve، ک. و. ترېور (۱)

او س. پ. تولستووا (۲) د اوستا لومړی برخو او زردشت لومړی ټاټوبی منځنۍ اسیا او په خاص ډول خوارزم بللی دی.

د لوېدیځې اروپا ځینو پوهانو لکه اهن او پهد بسکو په خپلو لومړیو آثارو کې کوښښ کړی چې اوېستا د میډی ژبې په حیث و پېژني خو په ورو ستو آثارو کې یې د اژبه داریانی ژبو د شمال لوېدیځ خواو شا یعنې پخوانی پارسیا ته منسوبه کړې ده.

نورو پیاوړو محققینو لکه بېنو ېنیست، مارکوارټ او هـ نیوبرګ د اوېستا لومړی ټاټوبی (اریاناویژ ـ اریاناویجو) په نامه یاده کړ او د اسیمه د امو په ساحه کې ده چې هلته د (وایجو، و په داتیه «Vaijo 'vayadatya دېه، داتیه غاړه» یاد شوې ده.

ونیو ېنیست لیکي: «د اوستا په باب تاریخي او انسانوي چاپېریال د مرکزي اریانی (باختری) سیمې سره تړلی دی هېڅ تصور نه شي کولای دغه حقوقت چې په ډېرو اسنادو و لاړدی بل شان کړي . . »

یو بل پو. ار کیالو ژیست پی. هر سفیلډ په خپلو لومړیو اسنادو کې د زردشت لومړی ټاټوبی خوارزم ګاڼي، خو په ۱۹۳۷ کې یې په متحده ایالتونو کې یو کتاب خور کړ چې په هغه کې یې د ځانګړي ډېر دلیل په قول په ډېر تکلف، په غلطه ترجمه او له

---

۱ ـ K.V. Trever ۱۸۹۲ـ۱۹۷۳ ـ

ـ Ser Pav. Tolstov ۱۹۰۷ـ۱۹۷۶

فرضیه په ډېر تفسیر کوښښ کړی چې د اوېستا ټاټوبی د ایران په جنوب کې وښیي . رافیلي Rafili په خپل کتاب (د آذربایجان د ادبیاتو لنډ تاریخ) (باکو ۱۹۴۳ کال) کې د اوېستا په باب د استاد برتلس په قول ګڼ شمېر معلومات وړاندې کړي دي . رافیلي د ټولې اوېستا مؤلف یو شخص یعنې زردشت بللی او لیکلی یې دي چې (د افسانې له مخې زردشت په میډیا کې زیږېدلی او میډیا آذربایجان دی . نتیجه دا ده چې زردشت آذربایجانی دی او اوېستا د آذربایجان له بقایاوو څخه ده . دغه نظریه واقعاً ډېره ګډوډه او مدلله نه ده . د دغې د کمزورۍ ټکي خپله ښاغلي برتلس په ګوته کړي دي(۱) مثلاً دا چې څوک نه شي منلای چې اوېستا د یوه شخص تالیف او د یوه عصر اورده .

البته د دغه ټول تاریخي اشتباهات او د نظریاتو ګډوډي اساس لري او هغه دا چې د اوېستا لومړی ټاټوبی او د زردشتي مذهب لومړی ځای یوازې بوخدي (بلخ) دی، خو بیا وروسته د هغو لمنه بیخي پراخه شوه چې هم د ایران او هم د آذربایجان پورې وغځېده . نو ځکه د هغوی وروستي موجودیت دا معنا نه لري چې ګویا هغه سیمې بې لومړی ټاټوبی وګڼل شي . په دې باب ښاغلی برتلس لیکي :

ترټولو د اخیره یقیني سمه ده چې د اوېستا پخوانی ټاټوبی باختر (بلخ) دی ، هلته زیږېدلی ، هلته یې خپور کړی او له هغه ځایه یې لمن نورو برخو ته خوره شوې ده .

په دې باب فردوسي په خپله شهنامه کې د دقیقي پخوانی

---

۱- «پارسي-تاجیکي ادب تاریخ» (۴۰) مخ

حماسوی روایت ساتلی دی :

یکی پاك پیدا شدا ندر زمان بدستا ندرش مجمر عود بان
خجسته پی و نام او زردهشت که اهرمن بد کنش را بکشت

دغه حماسه وایی : گشتاسب د زردشت عقیده ومنله او اور تونونه (اتشکدی) یی جوړ کړل چې د هغو په جمله کې یی تر ټولو د مخه په بلخ کې مهر برزین او ر تون جوړ کړ . او مړی یې په دا ختر کې د زردشت عقیده خپره شوه او هما لته د عنعنوی روایاتو له مخې زردشت د یوه مړی له لاسه چې بلات نارسه ( Balatnarsa ) نو میده ووژل شو ( ۱ ) . په دې باب د شور ـ وی اتحاد بل نا متو محقق او دار یانی ( ۲ ) ژبو ستر پوه ی . م .
اورانسکی مفصله څیړنه لري چې لنډیزیې دادی ( ۳ ) :
د پارسیانو (هندی زردشتیانو) متضاد و عنعنوی روایاتو او تاریخی منابعو او د اوستا هغو کډوو ومتنو نو چې تر اوسه ساتل شوی دی د پوهانو سره بیلی بیلی نظر یی پیدا کړی دی ، خو په دی وروستیو وختو کې پوهنه په ټینګار سره تا ییدوی چې اوستا په ختیځه اریانی سیمه کې منځ ته راغلې ده . د دغې تیوری داثبات له پاره پدلنډ ډول دغه شواهد او اسنادشته دی :

(۱) (دفارسی ـ تاجیکی ادب تاریخ) ( ۱۳۶ ) مخ .

(۲) د (ایرانی) پر ځای چې د مخدو دی سیمې نوم دی په علمی اصطلاحاتو کې دافغانی پوهانو سره د ( اریانی ) نوم منل شوی دی . په دې باب «د پښتو څیړنې لوسړی ټوك» ( ۱۸۸ مخ و ګووی )

(۳) د اریانی فیلالوژی اساسونه) (۹۰ ـ ۹۳) مخونه .

۱ ـ په اوېستا کې راغلي جغرافيوي نومونه ددغې سيمې پورې اړه لري .

۲ ـ داوستا حماسي افسانې دختيځو اريانې (ساکو او باختريانو) دلرغونو او لکوريکو حماسو سره يووالي لري (۴) .

۳ ـ دزردشتيانو داسې روايتونه چې وايي زردشت په باختريا کې پيدا شوی او دغې خاورې د زردشتي مذهب زيات معابد درلودل .

۴ ـ دختيځو اريانې ژبو سره دا وېستا ځينې ګډ او سره ورته خصوصيات .

۵ ـ همدارنګه دهخامنشيانو په کتيبو کې چې دا هور امزدا نځنه يې کوله هيڅ ځای د زردشت نوم نه دی ياد شوی . همدغه شان لرغوني مورخين لکه ګزنفون ، هيرودوت او سترابون چې د ايران دمذهبي ژوند سره له نژدې نه پېژندل او هيڅ ځای د زردشت نوم نه يادوي . داود پټاغلي او را نسکي د نظريا تو لنډيز .

دلته ترتولو مهمه خبره دا ده چې د زردشتيزم سرچينه او عنعنات هغه باختري قبايل وو چې اکثريت يې لرغوني عنعنوي عقايد لل او د زردشت دمذهبي ريفورم نه يې غاړه غړ وله . دغه خلك چې په اوېستا يي متونو کې کله توره (تورانيان) دير ويکه (د ير ييك) سرسکه او داسې نورو په نامه ياد شوي او داستو ګنې سيمه يې باختر او دهغه خوا وشا ده امکان نه لري دوی د زردشت دمذهب د پيروانو نژدې ګاونډيان نه وي ، ځکه چې هم دوستي او هم د دښمنۍ په هغوشرايطو کې د ګاونديتوب مستلزمه وه .

---

(۴) په دی باب « د پښتو د اولسی ادب لاري » لوسري برخه ګوری چې زيات مواد لري .

دلته به ددی موضوع د ښه روښانولو له پاره هغه لرغونی باختری نومونه راواخلو چی په اوېستاکی راغلی دی :

زردشت او ساك

ددی موضوع د ثبوت له پاره چی د زردشت د زیږیدنی او د اوېستاد پیدا ښت لوړی تاټوبی باختریا (بلخ) دی تر ټولو خورا مهم دلیل دادی چی د اوېستا د لوړی برخی مؤلف (پاموڼافانو) په اوېستاکی هغه نومونه ځای کړی چی ورسره ښه بلد وو او هغه پوازی د ختیځوار یا نیانو دسیمی یا قبایلو نومونه دی ، نه د کوم بل ځای او بل چا .

دغه نومونه زما په خیال په دوو ګټه ګوریو ویشل شوی دی :

الف : هغه سیمی یا قبایل چی زردشتی مذهب ور کی منل شوی او اوسیدونکی او افراد یی ددغه مذهب پیروان دی . دغسی ځایونه دیر ښه اود ( اهورا مزدا ) په لاس خلق دوی بلل شوی دی (لکه بلخ ، آریا ، اریانو یجو او نور ) .

ب : هغه ځایونه او قبایل چی زردشتی مذهب یی نه و منلی ، همیشه یی ور سره دښمنی کړی . دغسی ځایونه ناوړه بلل شوی او هغه دانګر من (اهریمن) په لاس خلق شوی ګڼل شوی دی (۱) .

داریایی توکمو او دلرغونو جغرافیوی سیمو په باب دلرغونو (زړی پارسی ، یونانی ، ارمنی او نورو) لیکنو او اسنادو په جمله کی له نورو ټولو نه دیر زیات داوېستا لوړی فراکلردو په یو دات

---

۱ — په دی باب (داریا نی فیلالوژی اساسونه) (۵۷ — ۶۰) مخونه ګوری .

زیات اوږده مواد لري چې په هغه کې د اهورا مزدا په خوله لاس دودانې شوې نړۍ افسانه درج شوې ده :

د دغې برخې مولف زموږ د سیمې د سترو حوزو په باب داسې معلومات وړاندې کوي :

۱ ـ د اهورامزدا سپېڅلي زردشت ته وویل : ای سپېڅلیه زردشته! ما هغه ځای چې خیر یې نه رساوه د هوساینې په ځای واړاوه ، ځکه چې که ما او سپېڅلیه زردشته ! هغه ځای چې خیر یې نه رساوه د هوساینې په ځای نه وای اړولای ـ تو له مادي نړۍ به اریانا ویجه راښکلې وای » . (۱) .

۲ ـ « د ځایونو او هیوادونو هغه لومړی او ډېر ښه آسا اهورامزدا آریانا ویجه جوړه کړه چې ښه ساحل (ښه سیمه) لري . خو د هغه په مقابل کې تباه کارانګرمن (اهریمن) سور ښامار پیدا کړ او د دیوانو په لاس جوړونکی ژمی» (۲) .

۳ ـ « هلته لس ژمي میاشتې دي ، یوا زې دوه (یا) دوه اوړي (۳) او هغه د اوبو پاره سړې دي ، د ځمکې له پاره سړې دي ، د بوټو له پاره سړې او د ژمي منځ د ی او د ژمي زړه (دی) او کله چې ژمی پای ته نژدې کېږي هغه وخت اوبه زیاتې خپاړندې وي » .

---

۱ ـ د ژباړو محققینو په عقیده دا مو په خاره موقعیت لري او د اریایي قبایلو او خپله د زردشت لومړی ټاټوبی د ی .

۲ ـ په اوستا کې (ښه دایتیه) ( daitya ) راغلی چې داد (ساحل) په معنا اخیستی او چاد (اموسیند) .

۳ ـ (په ځینو نسخو کې) « اووه دوه یې میاشتې دي پنځه ژمي» .

۴ـ «دهما یونو اوهیو اد ونو څخه دویم د پرته (یی) ماهو را مزدا کاوه (۱) جوړه کړه، خود هغی په مقابل کی تباه کارانکړمن دغواو د پرتباه کوونکی مکا یتی ( skaiti ) د سا کو سیده ) او ر دایه ( ɐʎɐp ) خلق کړل» (۲)

۵ـ «دهما یونو اوهیو ادو نو څخه د ریم د یر پته (یی) ما آهورا مزدا ژورور سوبخلی اشاوان ( Ashavan ) جوړ کړ، خوددی په مقابل کی تباه کار انګرمن مر مذو ( Maradu ) او ویشوشیا ( vithushya ) جوړ کړل».

۶ـ «دهما یونو اوهیو ادو څلورم د یر پته (یی) ما آهورا مزدا دیر ښکلی ښخدی (بلخ) د لوړو بیر غونو سره پیدا کړ، خوپه مقابل کی یی تباه کارانګرمن برواره ( Baruara ) او او ساذ ( usad ) پیدا کړل».

۷ـ «دهما یونو او هیواد وهغه پنځم د یر پته (یی) آهورا مزدا نیسایا ( harahvaiti ) نسایا جوړه کړ چی د بلخ او سروی ترمنځ ده، خو په مقابل کی یی تباه کارانګرمن ... او د تباهی اوهلك. نیسای چاپی د یار تیلانا پای تخت وی چی زښتی د یری کتوپکی سوبدل شوی دی دا تا ریخی ښار د هو ر و ی له تر کمنستان دمر کزد عشق ـ آباد، دشمال لوید یږ په (۱۸) کیلومتری کی و اقع دی (۳)

---

۱ـ ځینو محققینو (لکه پونو ینیست) ورته (سوغد) اخیستی ځنو د (غوایا نووطن) په معنا اخیستی.

۲ـ تفصیل یی وروسته راځی.

۳ـ نه دی لوستل شوی.

۴ـ فرهنګ نامهای واستا جلد دوم ـ ربه ۸۰) مخ

۸- «د خدایونو او هیوادونو شپږم د یرښه (یی) ما اهور امزدا اریا (Arya) هرات) جوړ کړچی هلته کورونه پریښوول (کډیږی) ، خو پهٔ مقابل کی یی تباهکار انگرمن سر سکه (۱) (Saraska) او دریونکه (driwika) پیدا کړل» .

۹- «د خدایونو او هیوادونو څخه اووم د یرښه (یی) ما اهو رامزدا وایکرته (vaI karata) (گندهارا) (۲) پیدا کړچی د دوژکه (duzhaka) استو گنځی دی ، خو پهٔ مقابل کی تباهکار انگرمن هغه جادوگره هناساتی (Hnosati) پیدا کړه چی له کرساسپو (krsaspu) سره یوځای شوه» .

۱۰- د خدایونو او هیوادونو څخه اتم د یرښه (یی) ما اهور امزدا پهٔ مرغوبه اینه اوروا (urva) (۳) پیدا کړه ، خو پهٔ مقابل کی یی تباهکار انگرمن تاوره خاوندان (یی وزلی) پیدا کړل» .

د اویستا د دغی برخی د نورو جغرافیوی نومونو پهٔ لړ کی د د یرښکلی هره هوایتی (harahvaiti) اراخوزیا ، رخج یعنی اوسنی

---

۱- د برتولومی او ولف ترجمه همداسی ده دوی (د مړوله پاره) ورسره زیا توی . گیگر او کرستین سون داسی معنا کوی (هغه اریا چی د یر کلی لری) .

۲- د ځینو محققینو پهٔ عقیده دغه کلمه له دوو توکو جوړه ده : (وا یو - کومه اسما نی رب النوع او کرته - کړی) محققینو د لرغونی گندهارا - کابل - ننگرهار سره سمون ورکړی .

۳- پهٔ تعین کی یی اختلاف زیات دی . ځینو غزنی گڼلی دی (فرهنگ نامهای اویستا - ۸۱ مخ)

کندهار (۱) له پرسه ولک پر بنه هیواد هایتومنت ( haetu Mant )
یعنی اوبنی هیلمندا وهمد غه شان اوبنی بادغیس ده (ویتی گیسه
vaitigaesa) اوهمدغه شان مرغاب
دمرغو. ( Margha )(۲) ، په یونانی مرگیانا دی.
په نامهٔ همدا رنگه خوارزم ( kvarizam )یاد شوی دی.
دلته ډیره په زړه پوری خبره داده چی داویستا په دغه برخه کی
دانکرمن په لاس پیدا شوی سیمی هم غالباً دمعاصر افغانستان دخاو
ری برخی دی.
داچی ددغی سیمی ځینو برخوته په درانده نظر کتل شوی او
مغه د اهورامزد پیدا یښت ګڼل شوی او ځینو نوروته په بد نظر او
دانکرمن مخلوق بلل شوی علت یی دادی: دسیمی کوم یو (غالبا
دپښتنو) خلکو چی زردشتی مذهب منلی ودغوی سیمی هم ځی بلل
شوی او کوم (غالبا ساکو او دغوی متحدینو) چی دغه مذهب
نه و منلی دغوی سیمی هم د اهریمن پیدا یښت ګڼل شوی دی.
ددوینی دلی سیمود نومو لو په معنا پل کی محققینو کاله
دسوال په (؟) نخبه ایښی ده څو د نمارکی محقق ه. کرستن سن
(Christen sen) په (۳ر۵ر۶ر۸) پراکرانونو کی داتول هغه کروه
پونه ګڼلی دی چی زردشتی مذهب یی نه و منلی. دی وایی: له
(ماکایتی) له مطلب ساک له (مرذا) نه مطلب (ماردا) له (دیرویکه)

۱ـ فرهنگ نامهای اویستا دوهم جلد ـ(۸۱۱) مخ
۲ ـ داریابی فیلالوژی ۷۵ مخ.

نه مطلب د ډېرېکان دی (۱) او داسې نور .

د موضوع د زیاتې روښنایي له پاره دلته د زردښت او د ساکو تر منځه په تاریخي اړیکو لږ څه رڼا اچوله کیږي .

د زردښتیزم ( Zordashtism ) سره د ساکو رابطه :

د میلاد نه تقریبا درې زره کاله پخوا چې دا هندو اریایي توکمونو ټکونه له خپل اصلي ټاټوبي څخه د امو په غاړو ، په جنوبي سیمو او د هندوکش د غرونو په دوار و خواو کې ورو ورو خپاره شول وروسته یې ځینې دا باسیند (اندوس) حوزې او ورپسې ځینې نورې د اوسني ایران خواته ولاړ دېدل چې په دغه صورت اریایي توکمونه په دریو مهمو سیمو کې میشته وو .

الف ـ مرکزي اریایان چې د امو او هندوکش د دوارو غاړو په شمول په منځنۍ آسیا کې پاتې شول .

ب ـ د هند په لور کوچېدلي اریایان چې د ختیځو یا هندي اریا ـ یانو په نامه باید یادشي .

ج ـ هغه اریایان چې د معاصر ایران په خوا کوچېدلي او د فارس تر خلیجه رسیدلي ووچې د موقعیت په لحاظ لویدیځ اریایان دي .

د زردښت د ظهور سره ورو په ورو مرکزي اریایان په دوو برخو و ـ یشل شول :

الف ـ هغه چې د زردښت مذهبي اصولو ( ریفورم ) ته یې غاړه کېښوده . او د زردښتیزم پیروان شول .

ب ـ هغه چې د خپلو پخوانیو نیکونو په عقاید و کلک ولاړ وو او

---

۱ ـ د اریایي ګربو د ښیلا لوړی اسامو نه (۵۹ مخ حاشیه )

د زردشتي مذهب له منلو يې ډډه وکړه . د زردشتي اصولو سره د ژوند د ځينو نورو شرايطو په لرلون هم ملګري وچې ددوارو ډلوتر منځه يې د عقيدې او د ژوند د سويې واټن لا زيات کړ . مثلاً د زردشتي مذهب په اصولو کې د کوچ او لېږ د د غندنې او معمول ژوند په ځاى د کليوالي ژوند او د نويو ځمکو د آبادولو او د کروندې خواته زيات امرونه او تشويقونه موجود وو . له دغه ځايه وه چې زيات زردشتي پيروان د ځمکو په آبادولو او کرونده بوخت شول او په دوى کې د کوچ او لېږ د ژوند په ځاى د کليوالي ژوند لمنه مخ په پراختيا شوه .

خو په مقابل کې يې هغه مرکزي آرياېان چې په اکثر د ساکو ټولې پېلې ځانګې هم پکې شاملې وې د پخوا په شان د کوچ او لېږد په حالت په موسمي لحاظ د سيمې په پېلو پېلو غرنيو سيمو او پراخو دښتو کې اوسېدل . (۱)

لکه چې وويلاى شو ل د ساکو ژوند د کوچ او لېږد په طرزېناو او زردشتي پيروان د آبادو کروندو خاوندان وو نو د پېرو غلاو په ژوند څښتنان وو . ساک چې تکړه سوار کاران او پياوړي جګړه مار خلک وو له رمو او ګلو څخه پرته يې نور څه معمولاً نه درل ، دوى د غرونو او دښتو په دامنو کې اړول چې د کليو الو ورتک سخت او له هغو سره يې جګړه او مقابله ګرانه وه . دوى به په کليو او آبادو سيمو يرغلونه کول ، هر څه به يې ورنه لوټ کول او بيا به خپلو سيمو ته ستنېدل . همدا وجه وه چې کليوالو به واره کلي

---

۱ - (عصر اوستا) (۱۴۱) او (۲۳۸) مخونه .

اووړی یا لدی پر بشودلی او په ځای به یی لوی لوی زراعتی او کلتوری مرکزونه جوړول اوله هغو به یی لوی لویی کلاگانی اوحصارونه تاوول چی دکوچیوساکو له چپاوشخه په امان وی؛له همدغه ځایه وه چی دافغانستان په زیاتو سیمولکه باختر ، درنګیانا ، مرګیانا ، پاړتیانا او دمنځنی آسیا په نورور اخیرسه سیمو کی لکه هیرکاندیا ، سوغه ، خوارزم کی ستری تاریخی کلاگانی جوړی شوی چی کلیوالی او دبانډوژوند ځای یه ځای په اصطلاح په ښاری ژوند بدل شو . (۱)

او په دغه صورت د زردشتی پیروانواود هغود مخالفوساکوتر منځه سخت مذهبی ، اجتماعی او اقتصادی تضادونه موجود وو چی هغه په اویستا کی دیوی تاریخی منبع په حیث ثبت شوی دی او دساکو پیلو پیلوقبایلو او ټپوته لکه سا که رواکو ، د یریکانو ، داهیانو اونوروته سخت بدویل شوی دی اود دوی سیمی داهریمن د پیدا ینبت په نامه یادی شوی دی .

توران ، تورانیان ، سلم ، سلیمان :

د زردشت دهمنان په اویستا کی کلمه کله دتوران ( tura ) په مجموعی نامه هم یاد شوی دی چی دغه تاریخی ( توره ) نوم وروسته په حماسی تصوکی د(توران) او خلک یی دتورانیانو) په شکل او ښتی دی او مطلب ورنه هغه ساك دی چی اصلی او مهم ټاټوبی دسردریا ، آمو دریاحوزی او د منځنی آسیاو رنهورامه سیمی وی چی دیروپا پیزادد غرونوپوری یی د کوچ اولین دلمنه غزیدلی وه .

---

۱ ـ « دافغانستان تاریخ » لومړی ټوك (۵۳-۵۴) مخونه .

د اوستا دوينديداد په (۱۸) يشت (۱۲) پارګي کي داسي ښکاره ده
«څوږ زرګونه سور و ځکره مارونه په نامه پاد شوي چي د زرد شتي
سري يي وژل او څاروي يي ورته لوټ کول » . (۱)
دلته په د توره (توران) ، سلم او ايرج په باب ليوه څه زياته رڼا اچوو:
د ديرو لرغونو زمانو څخه د فريدون او د هغه د دريو زامنو
ترمنځه د نړۍ د ويش افسانه موجوده وه .
افسانه وايي : فريدون (پها و يستايي متونو کي ترېتون
(1(Treton) دري زامن لرل چي ۱- تور ، توريه ۲- سلم ، سرم
۳ - ايرج نوميدل . فريدون نړۍ په دخپلو دريو زامنو وويشله .
ددغي افساني په باب په پهلوي ادبياتو او شهنامه کي ډير مطالب
راغلي دي ، خو په اوستا کي دغه ويش ته يوازي يوه اشاره
ښکاري چي په دپار لسم يشت (فروردين يشت) (۴۳) (بند) کي د فريد-
ون د دريو زامنو د هيواد ونو هرګ يکي ليدل کيږي . هلته وايي :
« د (ائيرين) ايران د ملکو نو د پاك دينو سړيو فروهر (اسما-
ني روحي سيك) ستايو د ( ائيرين د ملکونو د پاك دينو ښځو فروهر
ستايو ، د( توئيرين) توران د ملکونو د پاك دينو سړيو فروهر
ستايو د توئيرين د ملکونو د پاك دينو ښځو فروهر ستايو د(سيريمين)
سوريمان د ملکونو د پاك دينو سړيو فروهر ستايو ، د سيريمين د ملکونو
د پاك دينو ښځو فروهر ستايو (۲)

۱ - آريانا ني فيلالوژي اسا سونه» (۹۳) مخ - د ترکي قبيلي وروسته الکه
نه وروسته دغي سيمي د( ترکو ، ترکستان) په نامه شهرت وموند .
۲ - فرهنګ نامهاي اوستا ۷۰۰ مخ .

محققینو عقیده. اری دغه دری دوله سلکونه هماغه دری برخې دي چې فریدون خپلو زامنوته دنړی پهویش کې وربیلې کړی دي.

نامتو مستشرق کرستن سن ددغې افسانی منشا ساکې تاتوبې بللی اووایی چې د اشکانیانو په عصر کې دغه افسانه لهساکو څخه نور آریانی تولکلو رته داخله شوی ده. ساکی افسانه وایی چې یوه پادشاه نړی دخپلو دریوزامنو یعنی سیریمین ( Seremin ) سیریمیان پهاویستا کې سریم ( Serim ) او تور ین ( )

توران او ایرین ( = ) ایران تر منځه ووېشله لومړی یقینا سرم ( سیریمیان ) اودوهم توران او دریم اریان یا ایران دی (۲)

دغه لرغونی افسانه د فردوسی په شهنامه کې په مفصله توګه منعکسه شوی چې څو بیتونه یې داذی:

نهفته چو بیرون کشید ازنهان
به سه بخش کرد آفریدون جهان
یکی روم وخاور دګر ترک وچین
سوم دشت ګردان ایران زمین
نخستین سلم اندرون بنګرید
همه روم وخا ورمراورا ګزید

بل ځای لیکی:
کنون بازګردم بهګردار سلم
که چون ریخت زایرج همی خون ګرم.

(۲) فرهنګ نامهای اویستا - مخونه ۷۸-۸۰

PROPERTY OF ACKU

بخشید مر سلم را دل ز جای

دگر گونه شد زآیین و رای . . .

دلته د افسانې لنډیز وایو : چې فریدون خپله پاچاهي د خپلو دریو زامنو ترمنځ وویشله :

سلم ته یې روم او لویدیځ ور کړ ، تورته یې چین « چیني ترکستان » او ایرج ته یې اریایي ځمکه او عربستان ور وبښل کړل. سلم او تور په نیکۍ سره ایرج وواژه او د هغه سر یې فریدون ته ور واستاوه . او له دغه امله د ایرج د پلویانو او تورانیانو ترمنځه پرله پسې جګړې پیل شوې . د ایرج د کسات اخیستلو له پاره دلور له لارې د هغه لمسی منوچهر پورته شو . هغه لا نوی ځلمی (ایلوځ) و چې فریدون د جمشید له او لادې هغه د سیستان یوه اتل ته چې (سام) نومیده د روزنې له پاره سپارلی و. له روزنې وروسته منوچهر د سام او د سیستان د نورو اتلانو په ملګرتیا د تور او سلم د هغو لښکرو مقابلې ته وروت چې د دوی په ځمکه یې یرغل کړی و . د تور او سلم سرونه یې غوڅ کړل . هغه یې فریدون ته واستول او له پاتې لښکر سره یې سوله وکړه . (۱)

په دغه افسانه کې که فردوسي هر څومره شاعرانه مبالغه کړې وي او یا په هر رنګ ده ته رسیدلي وي ، خو بیا هم په دې باب په ډاګه چې وویل شول په ارغوني آریاپانو کې د دغه دول حماسي روایات موجود وو چې تر زر دښتي وخته او بیا د فردوسي تر عصر پاتې او بیا یې د سومي په ادبیاتو کې انعکاس موندلی دی.

---

۱ ـ دغه افسانه په شهنامه کې بشپړه درج ده .

البته په ادبياتو کې ساکې (يا توراني) اتلان په داسې دريځ کې ښوول شوي چې ګويا د توراني انو مقابل دي ، حال دا چې هغو ځېنې تورانيان دي .

سلم څوک دی ؟ د سلم ( د «ل» په سکون ) دتشخيص په باب محققينو بېل بېل نظريات وړاندې کړي دي . دپور داود په عقيده دسلم (سرم) هېوا د په اوېستا کې سور يمه ( - ) ر اهلي دي او يقيناً همدغه سلم او سرم دي ، خود هغه په ټاکلو کې شك لري .

ځېنو نورو محققينو روم ، روسيه ، الان ، لوېديځ ، ختيځ د اوروپا څاروته پهخپل فکر ذکر کړي دي . ځېنو بيا په اتکل سره يو سامي نژاد سوليم ( - ) بللی چې د ورې آسيا په ليسې ( - ) کې مېشته و ځېنو ګومان کړی چې دا په سرمات (۱) او يا سرومات (۲) وي .

سلم په پهلوی متونو کې دسارم (Sarm) په څېر راغلی چې هماغه دساکې سېريميان اوداوېستا سېريم دي . ځېنو لرغونو مور

(۱) سرمات (Sarmat's) د ا د څو لرغونو کوچيو او پوونده و قبايلو د يوې تاريخي اتحاديې نوم دی چې په (٦-۴ ق . م) کې دتوبول (Tobol) اوولګا دسيند ونوتر منځه مېشته وو ( دشوروي انسايکلو پېډيا يي قاموس ) .

(۲) سورومات (Sauromat) د ايو . کوچي پوونده قبيله وه چې د سکيتيانو خپلوان وه ، دسرمات اتحاديې غړې او په (۷-۴ ق . م) کې داورال او ولګا په خوا وشاوخوا کې اوسېدل . ( دشوروي انسايکلو پېډيا يي قاموس ) .

خانودځې کلمې داصالت په مراعات د (ل) په ځای په (ر) لیکلې دي لکه چې طبري لیکلي دي: و کان ثلاث بنین اسم الاکبر سرم والثانی طوج والثالث ایرج (ترجمه ـ د ده زامن وو: د مشر نوم سرم، ددویم طوج او د دریم ایرج). ابو حنیفه دینوري د (سرم) په ځای په (شرم) لیکلی، یعنې د (س) دغږ په ځای د (ش) غږ (۳)!

اوس به را وګرځو خپل لومړي مطلب ته چې سلم څوک دی سلم، تور او ایرج که څه هم دا درې نوي فریدون درې زامن یاد شوي دي، خو یقیناً هغوی د ریو اړه د دریو عزیزانو او سره نژدې توکمونو سمبولونه دي. نو د هغوی د ریو اړو تاتوبي باید هم دلته په اریایي خاوره کې ولټول شي.

د سامي سیر یمن (سیر یمان) د اویستا سیریم او د پهلوي سرم چې په وروستیو متونو لکه شهنامه کې سلم شوی دی د ادورو ستیو مولفینو او شهنامې کار نه دی چې د (ر) غږیې په (ل) اړولی دی، بلکې دغه په اریایي ژبو کې څېز معمول بدلون زموږ په سیمه کې د کوم توکم په نامه کې راغلی وچې شهنامې هم اخیستی دی. دغه بدلون

---

(۳) فرهنګ نامهای اویستا (۷۰۷)

(۴) د سیلمان غرونو به باب بر تولد لیکي: د هند، د هیلمند د حوزې او دولاړ واو بو ترسنځه مملکت د سلیمان په غرونو شهرت لري ...
په دغو غرونو کې په قبل التاریخ عصرونو کې پښتون اولس چې له اریایي توکم څخه دي میشته وو. دوی ځان ته پښتون پختون وای چې هیرود وت پکتیان بللي دي (۷) جغرافیهٔ تاریخی ایران (۳۰ ، مخ)

د ساکی په سریمین ( سیریمان ) کی ولټوو ، ځکه چی د (سلیمان )
کلمه له همدغی (سریمین ) بشپړ او مکمل فورم دی . د غه کلمه
پښتانه سلیمان (Sleman) او قوم ته سلیمانخیل وایی نه سولیمان
او سولیمان (Sulayman) چی دا د عربی په اثر بیا وروسته
(سولیمان ) شوی دی .

د پښتنو په لرغونی تاتوبی ( د کسی غره د سلیمان په نامه (۴) او د پښتنو
یوه ستره څانګه د سلیمان خیل په نامه یادیږی او حتی خپله پښتانه
د پښتون ، افغان ترڅنګه د سلیمانی په نامه هم یاد شوی دی او ضمناً
د تاریخی شاهدانو او شماریانو نومونه له همدغی ریښی دی
څیړنو د دغی کلمی د اصالت په مراعات د ( ل ) په ځای ( ر ) لیکلی
په دی باب الفنستون وایی :

عربان دوی ( پښتانه ) سلیمانی بولی ، خو دا هیڅ معلومه نه ده چی
دوی په دی نامه ځکه یاد یږی چی د سلیمان په غرونو کی اوسیږی
او یا دا د هغه چا نوم و چی د عربو د حملی په وخت کی د دوی مشر و . (۱)

اخوند درویزه لیکی : پښتانه په سلیمان غرونو کی اوسیدل همدا
سبب دی چی دوی په عربستان کی د سلیمانی په نامه یادیږی (۲)

همدغه شان یادونه په ډیرو تاریخی اثارو لکه حیات افغانی
(۱۱۱ مخ ) تواریخ خورشید جهان (۵۳ ) او (۶۵) مخونو او داسی
نورو کی راغلی دی چی ها د سلیمان پیغمبر سره د عرب له امله او ها د
سلیمان غرونو کی د تاتوبی د لرلو له امله دوی د ( سلیمانی ) په نامه یاد

(۱) د کابل سلطنت بیان ، لومړی ټوک (۱۶۳-۱۶۴ مخونه)
(۲) تذکرة الابرار و الاشرار ، د پېښور چاپ ۸۳ مخ .

کې به دی څوک د سلیمان غر و نه ولې د (سلیمان) په نامه یاد شوی او پښتانه ولې (سلیمانی) بلل شوي ؟

که څیړنه له دا اسانو، یعنې د (سلیمان په څېر سره د ارتباطونه) راوبا سو ازه هغې ته د لرغوني ساکي د (سیر یمین)، او یستا د (سیریم) او بیا د (سلم) سره ارتباط ور کړو یقیناً به زموږ د پېر و پوښتنو ته ځواب ور کړ شوی وي .

پښتون دا فغان، پټان، او دروهي ترڅنګه د (سلیمانی) په نامه هم بلل شوي دي او د دې بولرغوني تاتو بې د (سلیمان غرونه) او دیوه ستر . ها نکه بې د (سلیمان نخیل) په نامه یادیږي . دا یقیني ده چې (ل ـ ر) غه د غږو نو د بدلون په رڼا کې د اد (سلیمان (Sieman) کلمه هما ـ ارغو لې ساکي سر یمین دا ویستا سیریم، د پهلوي (سرم) او د شهنامې (سلم) دی .

د لته د بوي بلې خبرې یادونه هم ضروري ده : د ایرج په مقابل کې د لور (توران) او سلم (سلیمان) وحدت او پر لاس کېدل د پښتنو (یاد پښتنو د یوې ها نکې) او ما کو (تورا انیانو) ترمنځه د شخړه په اند ول د دوی ترمنځه د پېر نژدې او ډېر مهم ارتباط ظهر کندوی او شاهد دی او هم دغه حقیقت له تاریخي اسناد و څخه هم په لاس راځي دد غو اسناد و په حکم دا وسنۍ پښتنۍ ټولنې په تشکیل کې سا که دیوه مهم توکي او عنصر حیثیت لري . په دې باب د تاریخ په نزد لینګویستیک اسناد ددې شاهد دی چې د پښتو ژبې په جوړ ښت (giottogenez)

ستر او مهم رول لوبولی دی . دلته ډېره په زړه پورې خبره
دا ده چې کله د مخه نه وی لولی ترلیو په «شپږمه - څلورمه ق م»
پېړیو کې ساکي قبایل د پروپامېزاد سیمو څخه ، بامیان ... او
د کندهار او د جنوبی سیمو د یشیدو سره دی یعنی له پښتنو دغی برخی چی
د افسانوی فریدون د مشر زوی سلم سبول دی » سره په چم
ګاونډی کی استوګن شوی و کله د مخه نوی نو په ۶ – ۵ ق م پېړ –
یو کی افغانستان ته نفوذ کړی دی . په همدغه وخت کی په
افغانستان او هغه ته ور څېرمه سیمو کی چېرا نیوی او مونږ ته را
پیدا شوی چی د ساکی ژبو د کند ، کنت Kand, Kant ورو ستاری
پای ته رسیږی چی د هغه کلمه غالباً د ساکی ژبو نه اخیستل
شوی ده «۱»

باید و ویل شی چی د غه د کنت یا کند کلمه د پښتنو په څېنو
سیمو کی د «کندی» - دوړوکی خول ، او کند پدار دو اړه خپل
ملک» په معنا ژوندی ده چی د همدغی ساکی کلمی سره ارتباط لری
که د سلیمان په سیمه کی د پښتنو ټوله لویه برخه میشته وه لود
څور پراخه غرنی سیمه هم د پښتنی ټولنی د بل عنصر یعنی د ساکو
د ستر تو کم د تمرکز تالو بی و چی د غزنو پاړنو په وخت کی له منځه
لاړ او د سلیمان د غرونو او د هغور د غرنیو پراخو سیمو تر منځه هم
د د پښتنو او هم د بو ولد و په توګه بی خلك هها ره واره «۲»
او سیمل .

---

۱ - د افغانستان تاریخ (۱) ټوك ۶۹ مخ

۲ - د بل او د بس په پښتو کی وطن ته وایی ( ښ ) لسوتی
ورو ستاری دی

اوس د پښتنو په جوړښت کې ساکي قبايل ستر مقام لري . او ددې لوی قبايل له هغه ځخه توکم څخه دي لکه لودیان ، سوریان ، غو-ریان، دلازاك او ساكزي او نور .

دلته بايد ووايو چې ی زما په خيال دلازاك كلمه اصلا «دره ساك» دی او داهغه ساك دی چې په تاريخ كې درويك ساك په نامه ياد شوی او په مرجع رو ايت داريوش كبير له خپل لوی لښکر سره د دوی له لاسه تباه شوی دی دفريدون ددري زامنو په افسانه كې خپله هغه نامه هم چې غالبا دهغوی روا ياتو لاره يې وهلی ده داېرج په مقابل كې دسلم اوتور يو ځای كيدل بيا نوی او دا د پښتنې ټولنی د دووستر وعنصرو او نور د رياتاتژ دی والي معنا لري .

د پښتو په ټولو لرغونو تاريخونو كې ساكي قبايل داسی ياد شوي چې له پښتنی ټولنی څخه هيڅكله نه دی تفكيك شوی او د دغې كورنۍ له مهموجوړوونكوتو كوڅخه گڼل شو يدی دمثال دپاره مرات الافاغنه مولف په دی باب يوځای داسی ليكی :

ځرنګه چې لوی خدای اسباب جوړوونکی دی داسی سبب يې جوړ کړ چې د پښتنو جوهر دضحاك له نژاد سره گډ شو او د بريا-ليتوب هغه شوكت چې د پښتنو نه تللی و د بيای متو د ولاد دی

په برکت یې ترډېر په برخه شو په دې باب څېړونکو محققو نو دومره مبالغه کړې ده چې حتی پښتانه یې یوازې د ساکو دوهم نوم بللي دي مثلاً (۱۳۰۰) کال کې د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز پرانستلو په وياړ په نړیوال سیمنار کې نامتو اوستر پوهاند مورګین ستر نې په خپله وینا کې پښتانه ساک وبلل البته د هغه د وینا کمزوری اړخ دا وچې د سلیمان د غرونو او په افغانستان کې د نورو لرغونو پښتنو یادونه یې نه وه .

په اویستایی متونو کې د ساکو بیلې بیلې سیمې لکه آریاویجو ومونو یادې شوې دي .

کله چې اریایي قومونه دلته خپاره شول په همدغه وخت کې یو د وودلووېشل شول: یوه ډله یې زارعه او کلیواله شوه او بله یې کوچیانو اړه پاتې شوه . دغه دوه ډوله ژوند ددوی ترمنځ د کلتور او اقتصاد په برخه کې واټن ډېر زیات کړ چې لومړی یې اریا نی او دوهم یې تورانی ډلې شوې . ددوی ترمنځ د اقتصادي توپیر په اساس هغې هم را برسېره شوې چې په اوستا یې متونو کې درج دي (۱)

ددوی اکثریت هغه ساکي قبایل دي چې په اوستا یې متونو او لرغونو تاریخي متنو کې کله په یوه او کله په بل نامه یاد شوي دي. دلته به یې لږ هغه رڼا واچوو:

(۱) فرهنگ نامهای اوستا جلد اول ۳۰۰-۳۰۶ مخونه

# د ساکو د لرغوني تاریخ څرک

د زردشتیزم د مطالعې او څېړنې سره د ساکو د تاریخ مطالعه ضروري ده ځکه چې په افغانستان او د هغه په شمالي نژدې سیمو کې دا دوه مهم قومونه او سیال قوتونه وو چې یو د بل په مقابل کې ولاړ او د تاریخ په خاصه دوره کې سره په سیالۍ رزم بوخت وو. د دې موضوع د اثبات له پاره چې د زردشت لرغوني تاتوبی افغانستان دی یو توی دلیل دا هم دی چې د ده د رقیبانو او مذهبي دښمنانو تاتوبی خپله دغه لرغوني خاوره ده نه ایران، آذربایجان یا بل ځای. د تاریخي شرایطو په حکم دا امکان نه لري چې د زردشت او زردشتیزم تاتوبی بل ځای فرض کړو او د رقیبانو او د دښمنانو ځای یې زموږ هېواد دی.

نو د زردشت او زردشتیزم د تاریخ د مطالعې له پاره د دغه رقیبو ساکو مطالعه حتمي او ضروري ده.

د ساکو د لرغوني تاریخ په باب متاسفانه معلومات ډېر کم دي.

د دې موضوع له پاره څو دلیلونه په نظر کې لرلای شو:

ـ ساکو پوندوو او کوچیانو په حیث ژوند درلود او کلتور او ثقافت یې دومره پراختیا نه لرله چې له دوی څخه د تاریخي اثار په حیث په مستقیم ډول پاتې شي.

۲- زردشتيزم د دوی ستر دښمن و، څرمره چې دغه ايمن او د نفوذ ساحه پراخه شوی هماغومره يې د دوی ژوند په تيار و کې اچولی دی .

۳- زموږ پهٔ هيواد کې خصوصاً او پهٔ منځنۍ اسيا کې عموماً د عربو د زردشت نفوذ او اسلامي فتوحاتو نه يوازې د زردشتيزم اثار او بقايا له منځه وړي ، بلکې د هغوی د رقيبو ساکو نخښې نښانې يې د خاورو سره . برابرې کړې دي او پهٔ عمومي صورت يې قبل الاسلام لرغونی تمدن داسې پای ته رسولی دی چې د پخوانيو تاريخي اثار و څرك يې دزمکې په منځ نه دي پر پښې .

او پهٔ دغه ترتيب دقبل الميلاد شپږ مې پېړی نه د ميلادي اوومې پېړی پوری د منځنۍ اسياد توکمونو پهٔ باب خصوصاً ډېر لږ مواد هسته چې هغه هم د منځنۍ اسيا د اوسېدونکو څخه پر ته د نورو او لسونو (لکه د زړې پارسي کتيبې ، د لرغونی يونان ، روم اوسودي، ارمياني او چيني جغرافيه ليکونکو، مورخينو او زايرينو يادونې او ډېر لږ مواد په هندی لرغونو اثار و کې هم موندل کيږي .)

داوېستا الهلاري هم پهٔ دی باب سواد ښتهٔ چې د موقعيت تشخيص او د نېټې ټاکل يې کله سخت او کله هم اسان کار دی .

د (سيتيانو) لوسري يادونه په هسيود Hasiod کې شوی او زيات توکم پېژندونکی عقيده لري چې دوی د ميلاد نه نژدې يو نيم زر کاله د مخه له خپل ټاټوبي نه کوچېدلي دي . هيرو کريټوس د دوی د ژوند د طرزنکوالی په باب وايي : سکيتيان څلور عرابه يزې «پوښلي ګاډي لري چې دوی د ياد او ورښت له ضرره خوندي ساتي

ګاډي يې ځبتلي ځويان کش کوي ، دلېږد په وخت کې ښځې ، ماشومان او سامان په ګاډيو کې وړي او سړي ورسره په اسونو سواره درومي . په کوم ځای کې چې ښه واښه او سمسوري ورشوګانې وي هماغلته اړوي او بيا بل مناسب ځای ته ځي . ددوی ښه خواړه پخه غوښه ، شوده او پنيردی دوی تکړه سوارکاران او پياوړي ښکاريان دي . عقيده يې دارباب الانواعو پالنه ده . له کوم مزدك (معبد) لري او نه د کومې رب النوع مجسمه لمانځي . د جګړې رب النوع ته زيات احترام لري موږ ددوی دژبې او دودونو په باب زيات معلومات نه لرو . همدو سره پوهېږو چې دوی اريايان دي (۱) .

يو لرغوني مورخ ( هېکاتي ـ Hecaty ۵۶۴ ـ ۴۸۰ ق م ) د سکيتيانو په باب وايي چې د ګندهارا يوښار کسپاپور Kaspapur د سکيتيانو سره همسرحد دی .

د هېکاتي په دغه روايت کې له سکيتيانو ځخه مؤرخين په غالب ګومان د پامېرساك مراد وي . په دې باب يو بل لرغوني يوناني مورخ اريان ( Arrian ) وايي چې دېر وپامېساد ( د کابل شاوخوا ) غرني ځوکې « چې يونانيانو د اسيايي قفقاز په نامه ياد کړي » د سکيتيانو له قفقاز سره يوځای کېږي د پکتيايانو (پښتنو) دغه ښار چې د هېکاتي په يادونو کې د ( کسپاپور Kaspapur ) او د هېرودوت په رواياتو کې د ( کسپاتور Kaspatur ) په نوم ساتل شوی دی د هېرځفيلډ ( Herzfeld ) په عقيده د پوهوريا اتك په

ـ «عصر اويستا» (۲۴۳ـ۲۴۵) مخونه .

سیمه کی وو . ) دهیکاتی د روایت په شان هیرودت وایی چی«...
نور هندیان د کسپا تورد ښار اود پکتیا یا نو د هیواد په گاوند کی
له نورو هندیانو څخه په ځنگه په شمال کی میشته دی ددوی ژوند
طرزد باختریانو په شان دی »(۲)

البته دلرغونو یونانیانو په روایتونو کی یاد شوی سکیتیان
همدغه ساك دی چی زموږ دخیړنی مورد دی(۳)
نود کسپاتور ، کسپاپور ، کسپاتیر د لرغونی ښار په باب د الف
کیرو په (پښتانه The Pathan's) کی نومی مشهور کتاب دغه نظر
سم دی چی اطلاق یی په معاصر پیښور باندی کوی .

په هر صورت د ساکو په باب په لرغونو منابعو کی معلومات
بیخی خواره واره گډوډ او نیمگړی دی .

ددغو نیمگړ واو گډو وډو معلوماتو د انسجام او استنتاج له مخی
بیاهم د محققینو په زحمت ځینی تاریخ موادمنځ ته راغلی چی دهغه له
مخی د ساکو په لرغونی تاریخ څه رناا چول کیدای شی .

په منځنی اسیاکی عموما او په افغانستان کی خصوصا ساکوچی
څومره لوی تاریخی قدرت او برم درلود په هغه اندازه زموږ له تاریخ
ماخذو نوڅخه پټ دی .

په اریایی قومونو کی ساك یو زړور او جنگیالی قوم تیر شوی دی .
دوی زیات وخت نه په جگړو بوخت وو . کله یی له نورو قومونو څخه

---

ـ «د پاکستان اولسونه» (۶۲) مخ .
ـ «د افغانستان تاریخ» لومړی توك (۶۷-۶۸) مخونه .

سیمې نیولې دي او کله په جګړو کې له ماتې سره مخامخ شوي او نورو قومونو ده وې سیمې اشغال کړې دي او له بلې خوا ددوی اکثریت کوچیان او د فرار اوار ار په حالت او سېدل نو د سیمې او وخت په لحاظ کله د یوې سیمې، او کله د یوې بلې اوسېد ونکو او کله د اشغالګرو په نامه یاد شوي دي.

په هر صورت د افغانستان د لرغونو اوسېدونکو په حیث د ساکو په باب هرڅومره زیات او کم معلومات. که وي زموږ د هېوادوالو له پاره ډېر اهمیت لري نو بې فایدې نه ګڼم چې په دې باب د تاریخي بېلو بېلو منابعو څخه څه معلومات راټول کړم.

# ساک څوک دی؟

ساک د مرکزي اریایانو (ختیځوار یا نیانو) له جملې څخه یو لوی توکم دی چې د اریایي قومونو او قبایلو د خپرېدلو په وختو کې ئې یوه مهمه برخه په خپل لرغوني تاټوبي کې پاتې او څه ئې د (ق.م) زر وکلونو په لومړۍ برخه کې د منځنۍ اسیا له سرحدونو څخه لرې سیمو ته خپاره شوي.

له دغه ځایه ده چې د سیمو د بېلتون له مخې ساک په بېلو بېلو نومونو یاد شوي دي لکه ساک، سک، سکیت، سکیف او نور.

هغه ساک چې په خپل اصلي اریایي تاټوبي کې او سېدل د سیمې د شرایطو، د اقتصادي، اجتماعي او کلتوري حوادثو سره یو تر بله څه ناڅه توپیر درلود او په څو برخو سره وېشل شوي وو.

په دې باب د لرغونو یوناني مورخینو سترابون او هیکاتي روایتونه د ډېره زړه پوري دي. دوی د اوپوساکو (مس سا گیت) له خولې داسې روایت کوي:

مس سا گیت وایي چې د دوی یوه برخه په غرونو کې ژوند کوي، بله په دښتو کې، دریمه ئې هغو دړو کې چې سیند ونو جوړې کړي دي او څلورمه ئې د غوسېندو په تاپوگانو کې. دوی یوازې د نمر لمانځنه کوي چې هغه ته اسونه قربانوي. دوی که څه هم یو یوه ښځه لري خو د نورو ښځو سره هم په ښکاره ډول رابطه لرلای شي. دوی هغه سړی ته ډېره مهار-کې ګنې چې انسان زوړ شي او وروسته د پسونو سره ټوټه ټوټه شي. له نا-روغۍ مړه شوي کسان د ناپاکو او ناوړه کسانو په صفت یادوي او ځناورو ته یې اچوي. هغوی د جگړې په سواره او پلي ډله او په لېندو، تورو، زغرو او د مسو په تبرونو ښه مسلح دي. د جگړې په وخت کې د سرو-زرو ملا وستنې او مټ وندې تړي. د اسونو واگې یې په سرو زرو ښکلې شوي وي.

دوی سپین زر نه لري، او وسپنه کمه لري، مس او سره زر په کې زیات پیدا دي هغه مس سا گیت چې په تاپوگانو کې اوسي خوراک یې د نورا وېوتو نیلي او ځنگلي مېوې دي ځکه چې دوی کروندې نه لري. پوښاک یې د ونو پوټکي دي (دوی رمې نه لري).

خوراک یې د میوو او بدي. هغه چې په وادیگانو او درو کې اوسي خوراک یې کبان، پوښاک یې د اوبو د خوگانو پوستکي دي. په غرو کې د اوسېدونکو یې خوراک ځنگلي مېوې دي، هغوی د مېږو څاروې هم لري چې نه یې حلالوي بلکې د وړیو او شیدو له پاره یې ساتي. دوی خولې جا-

سړي داسې لوتو په نښتو کې زړه نکوي چې بې ګړي وي او ډېر وخت څوپله ملا ساتي.
په دې توګه اوسېدونکي د ساکیت مځکې لري خونه يې اباد وي، خوراک يې پسه او اوګبا نوغوښې دي او د ژوند ډول يې کوچ او لېږدي.

دغه ټول ساك د ژوند يو ډول او طرز لري، د مړينو مراسم، اجتماعي اخلاق او د ژوند چارې يې سره ورته دي. هره قبيله يې د هر ډول سره دوه مخې، وحشي او جګړه ماره، خو په خپلو کې سره مينه زړې او ورېښتونې دي. (۱)

د لرغوني يونان مؤرخانو له دغه روايته څرګندېږي چې ساکو د سيمې او اقتصادي شرايطو له مخې سره توپير درلود. خو بيا هم داسې روايتونه شته چې د دوی په کلتوري او اجتماعي ورته والي شاهدي ورکوي. د مثال په توګه هيرودوت وايي چې مساګيتو په ډله ييز ډول ودونه کول. (۲) ساکي قبايل د يوه واحد نامه لاندې د ساکو ايل يا ډول قبايل ژاتو لول لږ څه ګران کار دی ځکه چې د هر ځله لېدل کېږي د ساکو په څنګ کې يوه بله قبيله يا قبايل هم د عطف په ډول د دوی سره يوځای يادېږي لکه «د ساکوا و مساګيتو» اتحاديه.

خو بيا هم موږ دلته د دوی د ساکو په نامه يادو او مشهور قبايل يې دا دي:

۱ـ هوما ورګه يا «اموراګ» ساك: د قبل الميلاد زرو کالو په نوماي کې چې په پامير او د هغه په نژدې سيمو کې اوه لويه واحده تو لنه جوړه شوی وه چې يو واحد کلتور يې لاره تصور

---

۱ـ «د خوارزم د لرغوني تمدن اثار» (۹۷-۹۹) مخونه.

۲ـ « رر رر رر رر » (۹۹) مخ.

کیږي چې د غه تولنه د هوساو رګ ساکو چې د «زلش رستم» په یاد کاراوددارا په نورو کتیبو کې یاد شوي دي د غه خلك هیرودوت د «اموركي سکیفیانو» په نامه یاد کړي دي سیمه یې د «سکیفیالو د نړۍ» جنوبي ختیځې ځنډي بلل شوې ده. پدې باب هیرودوت داخبره ډیره مهمه ده چې وايي «ساك په خاص ډول داموركي سکیفیالو نوم دی» . دغه رابون دویمه سره سم «ساکاو مساګیټ دسکیفیانو (سیمانو) په ختیځه خواکې داوسېدونکو نوم دی ، که څه هم ډېر ډېر قومونه په بېل بېل نوم یاد یږي .» (۱)

دغه ساك که څه هم د منځنی اسیا په ټولو کاتوري حوزولکه باختر ، سوغد ، مرو ، خوارزم فرغانه اونوروکې دکوچ او لیږه په ډول اوسېدل (۲) خود دوی دمیشت اساسي ځای د مرغاب دسیند وادي وه (۳)، چې له هندوکشه پورې یې لمن غزیدلې وه اوساکو دلویې اتحادیې په سرکې د مساګیټو په شمول همدغه ساك وو . د دغې اتحادیې غړي « چې بحث یې لږ ور وسته راځي» د ساکو دغه لوښونه شامل وو :

۱ ـ دیر بیکان ( (Derbik) ) داموود سیند په منځنۍ جریان کې.
۲ ـ اپاسیاك ( (Apasiak) ) او خوراسمي( (Xorasmi) ) دواړه یو اوسېدونکی . دخوارزم په شمالي پولوکې .

---

۱ـ «د پاکستان اولسونه» ۴۴ مخ .
۲ ـ «دخوارزم دلرغوني تمدن آثار »(۴۰۱)مخ .
۳ ـ اریانی فیلالوژي اساسونه ۳۶ مخ .
۴ ـ لکه چې لیدل کیږي پورتنی زیات نومونه په پای کې . . سي . لاحقه لري چې د پښتو د(زي ـ zi) سره سمون لري لکه (ساکزی . ورکزی . . . )

۳ - ساکه رواکی . ( (Sakaravaki) ) هماغه ساك د«اموركي»
په نامه یادشوی دی .

۴ - « تخاریان » د تخارستان دوادی او سهدو نکی چی« داهی »
هم بللی شوی دی .

۵ - اسی ( (Asi) اسیانی ( Asiani ) . اتی( (Ati)) ، اوسونی
(Usuni) او یاکسورتی. ( (Yaksarti) ) دسیردریځ منځنی حوزه کی .

۶ - اتاسی . (Attasi) ) او گاسی( (Aogasi)) (۴) او گالی (Aogali)
ځای یی معلوم نه دی . (۵)

څینو محققینو ددوی داسناد ولهمخی دساکود قبایلو اوسیدو
و یش په دی ډول کړیدی :

۱ - تیره خول ساك چی په زړه پارسی کی د( (Saka-tigro-Xaada))
په نامه یاد شوی دی . یعنی هغه ساك چی جنگی خولونه یی تیره و
پوهان اتکل کوی چی داهغه ساك دی چی دسیردریا په شمالی بر-
خو کی یی دکوچ اولیږ دژوند درلود .

۲ - هوماورگه ساك ( Saka-hauma varga ) غالبا دا هغه ساك
دی چی هیرودوت داموركی ( Amorgioi ) په نامه یاد کړی او
داستوگنی سیمه یی دمرغاب وادی وه او ودنورو کلتوری حوزو
په څنډواو پیخکوکی هم اوسیدل .

---

۵ - خوارزم دلرغونی تمدن آثار (۱۰۴) مخ .

۳ ـ له سوغده پوری ساك ( (Saka tyaiy para sugda))

۴ ـ له سینده پوری ساك( (Saka tyaiy para draga))د دغو ساکو دسیمې په باب موضوع لا پوره روښانه شوې نده . غالباً دا هغه ساك دي چې دارال له سینده پوری پراته وو او یا هغه ساك دي چې یونانی مؤرخو د (سکیف ـ سیتی) په نامه یادکړی دی اود توری بحیری په غاړویې د کوچ اولیږد په دول ژوند تیراوه .

ستراپون (د میلا دی لومړی پیړی خواوشا) او اریان( Arrian) (میلادی دوهمه پیړی) د دا هیانو( dahi ) یادکوی چې لرغونی سیمه یې د اوسنی ترکمنستان جنوبی سیمه بلل شوی ، خوو روسته په تخارستان کې میشته وو .

مس ساگیت: ( (Mas-saget) )«لوی ساك» د هغو مؤرخینو په روایت له ساکو سره یوځای ، له داهیانو څخه لری په ختیځ کې یې ژوند کاوه .

د مساگیتو د ژوند ساحی په باب بیل بیل روایتونه شته چې غالبا د دوی د ژوند د بیلو بیلو پړاوونو پوری اړه لری .

په دی باب هیرودوت وایی چې دوی ( مساگیت ) په پرانحودبځتو کې اوسیدل .

د محققینو په عقیده دغه (پراخه دښتی) د اموا و سر دریا له لاندینو حوزو څخه عبارت دی د (مس ـ ساگـ یت (Mas-sag-et)) کلیمه د زیاتو محققینو په عقیده له دریو برخو جوړه ده : ( مس ـ مشر ـ ساگـ ساك ، یت د جمعی علامه )چې معنای (لوی ـ ساك ، مشر ساك )

---

ـ «اریانی فیلالوژی اساسونه» (۶۴) مخ

ده (۲) دساکولویه اتحادیه کښه کله دسسا کیتو په نامه یادیږی غالبا سبب یی دادی چی دوی به ددغی اتحادیی دمرکزی قدرت حیثیت درلود .

په لرغونو تاریخی یادونو کی د ساکو یوه ها نګه د پسیان (Pasian) په نامه یاده شوی ده چی ځینو محققینو د (اپسیاك، سره یوه بللی ده دادساکو هغه برخه ده چی داسی ، ساکه رواك، تخاریانو او نورویه ګډون یی د ګریکو ـ باختر دولت له منځه یوړ .

د (پسیان) په باب دمحققینو ترمنځه دغه لاندی شاجره هم په زره پوری ده چی چاد (پښتون) اوچاد (پتان) له نوموااو سره سمون ورکړی دی دساکی قبایلو په لړکی چی د (پسیان) نوم لرغونوموزخینویادکړی دی د (وتارن (V. Tarn)) په عقیده په اړو پاسیسا دسی له دوو ورو او لسو نو هغه عبارت دی چی له یوه کلی هغه د دغه په عقیده بیا بل خای ته کوچیدلی وو . دایچ ډبلیوبیلی (H. W. Baley) په عقیده د (پتان) اود و.تارن په عقیده د پښتون سره مراد له ده . (۳)

ساك په پامیر کی :

ارکیالوژیکی مواد شاهدی ورکوی چی په قبل المیلاد (۷-۶) پیړیو کی ساکودپامیر په سیمو کی هایرد او کوچ ژوند درلود

۲ -(اریانی ایلاولوژی اساسوله) (۶۵) مخ

۳ ـ (دافغانستان تاریخ ـ لومړی توك) (۱۳۴) مخ

اوله دغه ځایه یې دهند حوزې ته کوچ اولیږد کاوه د قبل المیلاد
دزرو کلونو په نیمایی کې دهند حوزې ته هم له دغه ځایه د ساکې
لیږد پیل شوی و په پامیرکې دساکو ژوند په باب په دېرو روسته
وخت کې له دېرو لرغونو مؤرخینو (لکه دیو دوراو بتولیمی) معتبر
روایتونه پاتې دي دیو دور لیکي (دهند شمالي سرحد د سکیتیا
نوله سیمې د «گیمودوس» Gemodos د غرونو په ذریعه چې هغه
ساك ژوند کوي بیل شوی دی)(۱) په ختیځ پامیرکې په ساکې
هدیرو کې داسې مواد مونډل شوي چې د قبل المیلاد (۵ر۳) پیړ
یو پورې اړه لري او د هند له حوزې یې نشات کړی دی . د دغو موادو
مونډل ددې شاهد دی چې له دېره پخوا پامیري ساکو او د هند د حوزې
ترمنځه ارتباط موجود و .

د قبل المیلاد زرو کلونو په نیمایی کې د پامیر او دهغه د هند و
پښکو له اوسید ونکو څخه یو داسې اولس تشکیل شوی و چې مغنی
کولتوري لاره او یوه لرغونی تولنه یې جوړه کړې وه مختلفو ځوا ل
کوي چې دادها غوسا کو تولنه وه چې د نقش رستم په کتیبه او
دزړې پارسي په نورو لیکنو کې (ساکه هوماورکه) بلل شوی
او هیرودوت د (اموركي ساكو) په نامه یاد کړی او سیمه یې
د سیکتیانو د هیواد په جنوب ختیځو برخو کې ښوولې ده .

ساکاو پښتانه :

د پښتنو او ساکو د گډو پولو په باب لرغوني راو بتولو زهتده ـ

۱ـ د پاکستان اولسونه (۳ ۶) مخ

پردی په دی باب (دافغانستان تاریخ) (۱) لیکی: پښتانه (پکتیایان) (غالباً) دهغی سیمی او سیدونکی و وچی دگنداهارا په نامه یادیده دادیره مهمه ده چی پښتانه دساکو یعنی دمنځنی اسیاد کوچنی قبایلو سره هم سرحدی وو ددوی دسرحدی پولو کډون له پلوهر ځای څخه زیات دیا میری ساکو سره و . په دی باب مثلاً لرغونی مورخ (اریان Arrian وایی چی (دپروپامیساددغره څوکه چی یونانیانو دقفقاز په نامه یادهٔ کړی دسکیتیانو دقفقاز « یا میره » سره نښتی ده .

دا می ښکاری چی پښتانه دکابل دسیند په شمالی برخو کی هم ځپاره وو یعنی دافغانستان په شمالی سرحدو نو کی هم میشته وو . . . )

دافغانستان تاریخ لیکی: (لکه هغه چی لینګو یستیک اسناد شاهدی ورکوی چی دپښتو په جوړښت ( Glottogenes ) کی ساکی ژبی ستر رول لری . په دی باره کی په زړه پوری ده چی وویل شی لا په قبل المیلاد ( ۵ ر ۴ ) پیړیو کی دپروپامیساد او گندهارد جنوب او سیدونکی دساکی قبایلو سره په تماس کی وو . او امکان لری دا تماس له ډیره وخته هم لا لرغونی وی .

په دی باب دیره په زړه پوری ده چی په ( ۶ – ۴ ) قبل المیلاد پیړیو کی په افغانستان او هغه ته دمنځنی اسیا په ور هیرمه سیمو کی هغه تو یونیک نوموړنه موجود وه چی دساکی په ( گنده گننه )

۱ – دافغانستان تاریخ لومړی توک ( ۶۸ – ۶۹ ) مخونه

ورستاری پای ته ارسیدل (۱)

د هغه کلیمه وس په پښتو کی نه یوازی د تو یو نه یوه نوم په حیث ژوندی دی بلکی دیوه لغت په حیث په (کندی- قریه). کندی دار- د قریی ملك ، مشر) په معنا ژوندی ده.

دساکو مهاجری ځانگی :

دقبل المیلاد اتمی او اوومی پیړی په حدو دوکی د ساکو یوه ځانگه له خپلو سکنیو اپاملو څخه بیله او د اناز له لاری د میسوپو توسی (بین النهرین، کلده او اسور)، سوریی او د فلسطین چنو بی سیمو ته ور سیده چی له هغه ځایه یی مصر تهدید کړ. د هغه وخت چی ساکو د فلسطین جنوب کی اسکالون ((Askalon)) نومی ښار ونیو د مصر فرعون پسا میسیا (۶۶۵-۶۱۱ ق. م) دهغو ن ځایو نو جوړولوته مجبور شو. دهغی تاریخی موضوع په تائید په اسوری او بابلی اسنادو کی هم روایتونه شته چی دد شو ساکو د تهاجم او پر مختگ شاهدی ور کوی. (۲)

د لرغونو مؤرخینو روایتو نه شاهدی ور کوی چی دساکو یوه بله ځانگه دلوپدیځ خواته وکوچیده او د «دونای» دسیند ترغاړ و پوری میشته شوه. دهیرودوت د روایت سره سم په قبل المیلاد ۷ اتمه پیړی کی د ساکو یوه ځانگه بانډی د مسا گیتو له خوا د ژوندساحه تنگه شوه او د (والگا) ترسینده ورتیر شوه ، او هلته دسیمیر

۱- (د افغانستان تاریخ لومړی توك)(۶۹) مخ.
۲-(اریانی فیلالوژی) (۶۳) مخ.

پانو په مخکه باندی میشته شوه (١) دهیر وروسته دغه روایت د دی اخبره د چی خپاره وا ره ساك نه یوازی د نور وپه مقابل کی جنگیالی وو، بلکی په خپلو منځو کی هم کله سره جنگیدل . که دساکو په دغه هانگه باندی چی دخپلی سیمی په نهایی لوید یځ کی میشته وو (ق م، ٢ ، ٥ ) کال په حدودو کی لو سری دارا په دیر قوت او غښتلتیا سره هجوم و کړچی په پای کی یی سخته ماتی وخوره (تفصیل یی ور وسته راځی) د دغو ساکو پاتی ځونی تو کم یوه برخه اوس د (او سیتی) په نامه یاد یږدی چی د نفوسو شمیر یی اوس څه - پاسه (٥٠ ٣ ) زرو تنو ته رسیږی او د روسیی د فید راسیون په قفقازی برخه او د گرجستان په جمهو ریت کی او سیږی چه د ساکو د (الان) نومی هانگی له تو کم څخه دی . (٢)

دساکو سیاسی اتحادیه :

ساك چی افغانستان او منځنی اسیاد اباد و کولتور ی سیمو په ځنلواو ویشکو کی خواره واره پرا ته واو و په بیلو بیلو هانگو یادیدل د(ق م) او وس اوری په پای او د شپږمی پیړی په پیل کی یی یوه لویه سیاسی اتحادیه جوړه کړه په یوه مرکز سره را ټول شول ددغی اتحادیی مشر تو ب د یوی ساکی قهر مانی ښځی زرینی ( Zarina ) په غاړه و او د څه د پښینو قبا یلو په گډون

---

١ - دلرغونی خوارزم د تمدن آثار (١٠٣) مخ

٢ -( ایرانی فیلالوژی ) ( ٦٤ - ٦٥ ) مخونه

ساکو کوچني قبايل د يوه امر لاندې راغونډ کړل او د ډېر قوا تا
په سر يې د هغه وخت د ميډيا د مقتدر دولت سره جګړه پيل کړه (۱) د سسل
اوسېدونکي د يو د و ر ( Diodor ق م لومړۍ پېړۍ ) د سا
کوا ومېړه پاچا د دولت د جګړې په باب وايي: د ارتن ( Artin )
پاچا په وخت کې چې پارتيا تا لهسود باغه پيله شوه، ساکو پارتيانو ته
زمکې او ښار ور له ور کړل تو هغه وخت د ساکوا و سېد پا لوتر سنهه
جګړه پيل شوه. (۲)
په دې باب کټيسي ( Ktesy ) وايي: د هغې سنديا
تو له وخته د ميډيا پارتيا تا لهسود باغي پيل او په دې پله خوښه د ساکو له
امر لاندې راغله په ور پسې د ساکوا و سېد پاتر سخه شوارې جګړه
پنځه او شو کاله بې دوام وکړا و بالاخره او ود جګړه په سوله پای ته
ورسېده او له هغه وخته د ساکو د ميډيا اتحاد يې ښيا د کېدو له شو
چې په زيا تو لوشو قوروا ستونو کې د هغې ذکر شوې دی او له هغې جملې
نه ستر اوړه او هم ورود سره هم د هغې ر و اړه نه لري.
الګه يې د پيل شول د سا کوا ملو پلو تو کمو نوا و قبايلو په عمل سنځ
کې بو لو په سترو د ميډيا سي اتحاد په چول. کې چې مشره يې سا کې د روستې
لهرما له ملکه زر ينه ( Zarina ) وه او د پار تيا تا په سر يې
د ميډيا مقتدر دولت په خلاف په جګړه پيل و کړ.
د ميډيا تو سره. که هم له هو کا له خونړې جګړو و ستونه لاس.

۱ـ (دافغانستان تاريخ لومړی ټوک) ۲۰۵ـ۲۰۳ مخونه

۲ـ (دخوارزم د لرغوني تمدن په سند ونه) ۷۰ مخ

په روښه حل او فصل شوه خو د مساګټو دود انو حوزو د پښتنو له
پاره ستر خطر و. د دوی له برغلو ز رڅخه د پښتني سيمه پېژي وا ګمني
دسخه کړاو سره مخامخ وي او د خوبر غلونو د مخنيوي له پاره مجبوري
شوي په سرګيانا (مرغاو) سوغدا او باختر کي ښارونه د لويو حصارونو
په جوړولو سره وساتي. او په دې صورت په يادو ښو يو سيمو کي تاريخي
لوي کلاوې جوړې شوې. (۱)

د هيرودوت او ستر ابو په روايتو نو کي د مساګټو اتحاديې په
باب د و. وترن په خيال د مساګټو په څه توګمونه شامل و چې اول يې له نور
وزيات او هغه دادي :

دربيکان ، اپسياك (پسيان) ، اتاسي، خور اسمي او اوګاسي
(اوګالي) . (۲)

د مساګټو په اتحاديه کله کله پواز يې دا سورګي (هوماواګه)
ساګود اتحاديې په نامه يادېږي چې سبب يې په هغې کې د ساګو رول
اهميت دی او يا دا چې هغه په نامو رګې ساګوشانګي وي .

په دغه اتحاديه کې داسې ټبرګ رې چې له ساکي قبايلو او يوسي (د پښتنو)
ختيځوار يا نيا او ځينې ملا د داسې يو سي قبايل هم شامل وو چې هغوی
اريانيان نه وو او په جنوبي پامير او د هندوکش په ختيځو لمنو کې يې ژوند
کاوه. په دې باب د مرانتزو پولو ژيك او اوخيا لو ژيک موادو ما دی ور
کوي او همدارنګه د لرغونو مورخينو په روايتونو کې يې څرك ليدل کېږي

۱- (د افغانستان تاريخ لومړی ټوك) (۵۳) مخ

۲- (د هوا رزم) د لرغوني آمدن په پنځو ټوند (۱۰۳- ۱۰۵) مخونه

د دغې قبیلې په باب پښتو لیکي د بیلت ( Bilt ) نوم اعلی چې د هغو ایتنیک نوم د (بلتستان) سره رابطه لري او د او سیدونکو اکثریت بیدار د بال دی دا یقیني ده چې بلتان یوه دارځی قبیله ده چې پیا وروسته کلا یا چزا ماک شوي دي . (۱)

همدارنګه په دې باب د پروا پښتو نه شته چې د ... کو په اتحادیه کې نه یوازې ما ... و نه، بلکې د پرو د پښتنو قبایلو ګډون درلود او د دغه سیاسي اتحادیې د نفوذ ساحه د سوات او د پښتنو سیمو په ځنګ واو پښتو کې هري خوا ته خپره وه.

د دغې اتحادیې په سر کې لکه چې وویل شول زرینه وه کتیسې او د بودو ردز ریښی په باب خصوصاً او د ساکو د شخړو په باب عموماً داسې روایت کوي :

د ساکو ښځې ډیرې زړه وري دي. او جګړو ته د خپلو سړونو سره ځنګ په ځنګ درومي خو د دغه ملکه ( زرینه ) تر ټولو زیاته زړه وره ده دې خپل اولس د ګاونډیو واکمنو له اسارته خلاص کړ. ډیر ښارونه یې ودان کړل او د خپل هیت اداب او رسوم یې اسان کړل . ددې له مرګه وروسته ساکو په دې داسې هرم ډوله قبر جوړ کړ چې د ری ستیا د تقریباً (۳۰) متره سور او یو سل ده تقریباً (۱۰۰) متره لوړ والی لري . د دغه یادګار (قبر) په پښو کې د وی دی د سرو زرو یوه لویه مجسمه درولې چې سالک د دغې مجسمې ته د احترام په توګه داسې

۱ـ د (پاکستان اولسونه) ۶۳ـ ۶۵ مخونه

سره سمتونې لکه د نورو تېرسا تونکو ته ، خو ساکاند د هغې ملکې دوقارې خپلواله ایکو او هغه همز پاته کوي. (۱)

## په ساکوکې د ښځو مقام:

د پورتنۍ روایت له مخې د ملکې زرینې مقام پورته کېدونکی لرغونو پېړیو استادو اورو اتورو څخه هر کله ده چې په ساکې تولنه کې ښځو لوړ مقام لاره . هېرودوت ، کټسي او نورسره رخین په بوه خوله ساکې تولنه کې د ښځو لوړ مقام یادونه کوي لکه ده هېرودوت په روایتونو کې د ملکې تومېرېس او د کټسي په روایت کې د ملکې سپرېتري مقام د کټسي په روایت ملکې سپرېتري د ښځو پولوی جنګې لښکر جوړ کړی وو .

له ځینو اثارو او راپاتو څخه معلومېږي چې په ساکې تولنه کې د مور میشتې رواج ... ورود د غو روایتو له مخې د مړي میراث خپلو اولاده ته نه بلکې خورېو او ته پاتې کېده . په ساکوکې میراث د هغه ډله ځنې په (ق . م لومړۍ او دوهمې) پېړیو کې ساتل شوی وه د ده دود له مخې نه پوازې هغو ملکې تاج او تخت هم خورزی او خوری ته په میراث پاتې کېده . دغه دود په ساکه رواکه ( ... مورکې ماک) سیستان او د خوارزم په ساکوکې د قبل المیلاد دوهمې پېړۍ پورې پوره قدرت لاره . (۲)

---

۱ـ د تاجیکی اولسی نظم له تاریخ څخه (۱۳۳) مخ

۲ـ) د لرغوني خوارزم د تمدن اثار (۱۰۰-۱۰۱) مخونه

## ساکه او هخامنشیان:

د هخامنشي کورنۍ سره د ساکو جګړې هم د لرغونو او هم د معاصرو مؤرخانو له پاره خاص اهمیت لري. د هخامنشي د کورنۍ مؤسس کوروش کبیر چې په قبل المیلاد (۵۵۰) کال کې د میډیا په دولت واکمن استیاګ ونیواو د میډیا پایتخت (اکباتان) یې وران کړ په هغه سیمه کې د هخامنشي کورنۍ یو مقتدر دولت جوړ شو چې د لوېد ساحه یې ډېره پراخه شوه. په (۵۴۷ ق.م) کې یې وړه اسیا او لیډیا یا وونیوله د لیډیا له ونیولو وروسته د هېرودوت په قول د کوروش په لاره کې بابل، د باختر اولس، ساک او مصر واقع وو. د دغو سیمو په ونیولو کې د لښکرو قیادت خپله ده په غاړه و.

په ختیځو اوپانی سیمو باندې د کوروش کبیر د یرغل په باب مورخینو د روایت تایید کړی دی. چې دغه یرغل له (۵۴۹ ق.م) نه وروسته شوی دی. د هېرودوت په روایت کوروش کبیر لومړی بابل ونیوه، بیا باختر یا او وروسته یې په ساکو یرغل وکړ. د کټسیس په قول باختر یانو د کوروش سره د یو وخت جګړې نه دوام ور نکړ. موازي هغه وخت یې له جګړې لاس واخیست چې د میډیا د دولت د واکمن استیاګ له خوا کوروش په رسمیت وپېژندل شو. (۱)

د باختر نه وروسته کوروش د دې سیمې په کوچنیو قبیلو (ساکو) باندې سخته او منظمه جګړه پیل کړه. په دغه وخت کې ساکو یو بیا وړی سیاسي اتحاد درلود. د کوروش دغه سخت یرغل د (ق.م ۵۴۹) او (۵۳۰) کلو ترمنځ په جریان کې شوی و.

۱ـ د افغانستان تاریخ ـ او مړی دوک (۵۷) مخ

عمل په چل ول کوروش بریالی شو او د دوی د واکمنې تومیرس زوی
(سپرګاپس) چې سرلښکر و، ونیوه. تومیرس د خپل زوی د خوشې کو
لو په شرط د سولې سره موافقه ښکاره کړه او هر کله یې کړه چې: (که
داسې ونه کړې د مساګیتو په خاوند نمر سوګند خورم چې زه ستا تنده به
د وینو ماته کړم که څه هم ته ور پاندې موړ یې) کوروش د دې خبرو ته
پام ونه کړ او مساګیتو په داسې سخته جګړه پیل وکړه چې د لښکو تر لوجګړو
څخه سخته وه چې په هر ځای او هر وخت کې او ریا نو تر اوسه کړې ده،
مساګیت بریالي شول کوروش ووژل شو. د تومیرس له انساني وینو
څخه ژۍ ډکه کړه او د پارسیانو د سړو په منځ کې یې د کوروش د موندلو
امر وکړ. له موندلو وروسته یې د کوروش سر د وینو په ژۍ کې ځوټه
کړ او په مانه وې وویل:

که څه هم زه ژوندۍ یم او تا په جګړه کې بریالی شوم خو تا زه په
فریب سره په لوی غم اخته کړم. له زویه دې بې نصیبه کړم او تا به څو
د وینو په ړوم چې ستا یې ګوا بلې سې وي. (۱)

د کوروش کمبوزیه له وژلو وروسته د هغه د زوی لوسرپی دا ریوش او د ما ـ
ګوروانو هم د پادوني ورځې. د کوروش کمبوزیه له وژل کېدو څخه ور ـ
وسته د ده زوی کامبوس د هخامنشي د دولت واکمن شو.

د ده زیات پام د مصر د نیولو په خوا اوښتی و. د کامبوس د واکمنې

---

۳ـ (د تاجیکي اولس الفلمله تاریخ څخه) (۱۳۱ـ۱۳۲) مخونه
یادونه: (د افغانستان ژبې او توکه ونه) کې دا قصه سپو اد
(زړښې به نامه ثبت شوې.)

کېږي وايي چې د دې ټېکانو سره په سخته جګړه کې امورګوساـ
کوډ کوروش ملاتړو کړ او هغه هغه ندي ټولګي چې جنګي هاتيان يې لرل
د دې ټبکانو سره ته کوله. دغه جګړه د افغانستان په جنوبي سيمو کې
روانه وه. د توماس په عقيده کوروش د هرزنګيانا د ساکي قبايلو سره
په جګړه کې ووژل شو. خو د هېرودوت روايت هم اندازه کمزوری ښکاري
ځکه چې د لرغونو روايتونو سره سم کوروش کبېر د کاپيسا تاريخي
ښار د اوخت وران کړی و. له بلې خوا د هېرودوت روايت هم د ښه ساك
(مساګيټ) پولي او په دې باب د غه مورخ ځواله دی چې خپل روايت ور-
اندي کړی، ليکي چې: (د کوروش د وژلو په باب روايتونه زيات دي
خو ما يې رښتياني شکل وښود) دا پېښه غالباً د (۵۳۰ ق.م) کال په اوو
ړي کې شوې ده ځکه چې د هغه کال د سپټمبر په مياشت کې د بابل په
ليکلو اسنادو کې د کوروش زوی کامبيس نوم د هغه منشي د کورنۍ
دواکمن په نامه ياد شوی دی. (۱)

د کوروش کبېر د وژلو په باب د هېرودوت روايت ډېر په زړه
پورې دی چې په هغه کې ددې په قول د مساګيټو ساکو د پوی واکمنۍ تو
مېرېس څېره د هم ښه ښر ګنډه ده. دا هماغه ملکه ده چې يو بل مورخ پو-
لېون د تامېريس Tamiris په نامه د ډېر ټيکانو اکمنه
ښودلې ده (۲) د هېرودوت له روايت سره سم چې د تورومز ......
خو اهم تکرار او تائيد شوی دی. د مساګيټو سره په جګړه کې لومړی

---

۱- ددې موضوع تفصيل (د افغانستان تاريخ لومړی ټوک) ۵۶-۵۹ مخونه

۲- (خوارزم د لرغوني تمدن آثار ۱۵۶ مخ

له تاریخی روایتو نوخه معلو میږی چی دسا ګو په منځ کی کوروش څه اندازه پهلوبان هم پیداکړی وو . مؤرخین وایی په هغه وخت کی دکوروش اود درنګیانا (سیستان) دیوه تو کم (اری اسپ) ترمنځه اتحاد منځ ته راغلی و.خود درنګیانا اوسیدونکو دکوروش دبرغلونو په مقابل کی دومره سخت ټینګار وکړ چی هم دسهمود اوسیدونکو او هم دلرغونو مؤرخینو په روایاتو کی دحماسی قصو په ډول دهروخت موجودو . دغه سخت اومنظم هجوم دکوروش کبیر په تراژیدی مړینه پای ته ورسید .

خپله کوروش یکی ووژل شو،وسترمنظم لښکری توته توته شو . دهغوسا ګو په باب دروایتو نو څه اختلاف شته چی کوروش بی وواژه . دهغه منظم لښکر بی سات کړ . دهیر ودوت په روایت دامساګیت ساك وو . دبیر وس Beros په روایت داهیان اود کتیسی په قول دډربیکان وو .

کنیسی وایی چی دډربیکانو سره په سخته جګړه کی دساګو په سیمه باندی دکوروش کبیر دحملی په وخت کی ساکود خراسان باختر او خوارزم ترمنځه هغه سیمی اصلاتی مومه لاره نیولی وه چی دحربی مهما تو دحمل او نقل بو ازینی لاره وه . دکوروش کبیر حمله له هرڅه زیاته د ډبیکانو سیمی ته متوجه وه چی دامواو سردریا په جریان کی اوسیدل کوروش پهلومړی برغل کی ناکام شو خو په دویم سخت برغل کی دساګوله زیاتوسیمو تیراودخپل لوی لښکرسره داپاسیا ګوساګو سیمی ته ورسید اوله دغه ځایه بی دساګو په زړه ګوزاروکړچی بالاخره دده په خپل سرتمامه شوه . (۱)

---

۱ ـ (دخوارزم دلرغونی تمدن اثار) (ص ۱۰۵-۱۰۶) سخونه

په وروستی مرحله کی په ختیځو ساترا پو نو Satrap کی ستر ملی سیاسی قیامونه منځ ته را غلل ایام کوو نکو دمرکیانا پو او مید ونکی واه ( Frad ) په واکمنی ومانه چی داوخت مرکیا ناد باختر یا په تشکیل کی داخله و . د باختر واکمن (داداره یش) په مرکیا نا باندی د( ۲ ۲ ٥ ق . م ) اکتوبر په میاشتی کی حمله وکړه (٥٥) زره تنه ی و ژل او پنځه شپږ زره تنه ی و نیول . همدغه شان په اراخوزیا او نورو سیمو کی سخت قیامونه وشول چی په شدت روان و و .

دکامبیس (٠ ٣ ٥ - ٢ ٢ ٥ ق . م ) پسی گاومات او د هغه پسی لومړی دار یوش (٢ ٢ ٥ - ٨٦ ٤ ق . م ) واکمن شو .

دار یوش خپل ټول قوت ار یانی ختیځو سیمو ته متوجه کړ چی په دغه ذ ریعه د خپلی امپر اتو ری نورو سیمو ته دقیامو نو د خپر ید لو مخه و نیسی (١) نو همدغه وجه په اوی قدرت سره ی په ختیځو ار یا نی سیمو سخت یرغل وکړ او ار اده ی وکړه چی له هر څه زیات دسا کو سیاسی اتحاد یه له منځه یوسی .

په دی باب د پولوین په روایت کی دساکو د ر یو شاها نو نو م اخیستل شوی دی :

١- سا کسفر ١٢مورگ Omarg او تا میر س . ورو سته دو اړه هغه کسان دی چی د کورو ش کبیر دوژ لو په پېښه کی یا د یږی اوتا میر س هما غه تومیر س ده چی هیرو دوت یاد . کړی

---

١- دافغا نستان تاریخ لومړی توک -٥٩ - ٦٢ مخونه

ده اواومورګه دکتیسی په روایت کې هم هاومورګې د ساکو د یوه واکمن په نوم راغلی او ساکسفر کیدای شي چې دخوارزم وي.

کله چې داریوش په ختیځ یرغل وکړ دغه د ری واره واکمنان په مشوره یو ځت شول او د داریوش حملې مخنیوي لارې چارې یې سنجولې او یوه ستراتیژي یې غوره کړه:

ستراتیژي داوه چې هومورګې ساك او دیر پیکان به د داریوش سره مستقیم ټکر نه کوي او هغه ته به موقع ورکوي چې د هغه لښکر د ساکو د سیمو په اعماقو کې دا پاسیا کوسا کوسیمې ته ننوځي او هلته په یې له هرې خوا احاطه کوي.

د یولین په روایت د دوی دغه پلان پیځی معقول واو داریوش او دهغه لښکر له دغه چال څخه په معجزه خلاص شول داریوش همد ومره موفق شو چې دساکو یو مشر (سکونهی Skunha) یې له ځانه سره بندي بوت چې د بهستون په دیره کې رسم دی.

د بهستون یاد کار د داریوش له خوا جوړ شوی چې په هغه کې د ساکو ماتې ښودل شوې او د پولین روایت ساکو له روایته نشات کوي چې په هغه کې د داریوش پوره ماتې هوول شوې ده. محققین په دې باب قضاوت کوي چې دغه یرغل نه د داریوش په فتح تمام شوی، ځکه چې زیات تلفات یې ور کړي او خلپه په مثله تجتیدلی اونه د ساکو په پوره موفقیت، ځکه چې د دوی پلان داو چې داریوش احاطه کا، دخپل لښکر سره یې له منځه یوسي. داریوش بریالی شو چې ژوندی د دوی له چله خلاص شي او دا پاسیا کو یو مشر له ځان سره بندي یوځي خو عمومي حالت د یخوا په شان پاتې شو. (۱)

---

۱-(دخوارزم هلرغوني تمدن اثار) (۱۰۶ ۱۰۷) مخونه

## ساك په اوسنۍ ټولنه کې :

تر دغه ځایه موږ د ساکو په تاریخ باندې لنډه کتنه وکړه. ساك په ډېرو لرغونو وختونو (٥-٦ ق ٠ م پېړیو) کې زموږ د لرغونې پښتنې ټولنې د یوه ډېر مهم توکي (عنصر) په توګه راښکاره شوي دي او تر اوسه پورې یې خپل موجودیت ساتلی دی.

دا موضوع ډېره مهمه ده چې د پښتنې ټولنې کوم کوم قومونه او خېلونه په ساکو ګډېږي او کوم یې په نورو پښتنو څخه تاسفا-نه پېژندې برخه کې لا تر اوسه څېړنې نه دي شوي دا څېړل یو ډېر ضروري خو زښت درونده کار دی دلته به د نورو ژورو څېړنو تر وخته پورې د سعدستې د مرحوم قیام الدین خادم په څېړنه اکتفاء وکړو چې ځای په ځای له نورو تاریخي آثارو څخه هم تاییدېږي او هغه دا دي :

د پښتنو ځینې ستري قبیلې: غوریان، سوریان، لودیان، دلازاك (دلاساك) اندړ اصلاً په ساکوو ر ګډېږي. او ځینې ورې ورې قبیلې هم لکه د کور-سین توتاخېل، موسی خېل، کوندرخېل، دوزیون میرعلي خېل، د پغمان او میدان اوریاخیل، ابراهیم خیل، ګدای خېل، د کامې ابراهیم خېل د مره رود خدر خېل کوچیان، د مکور کاکړ او په یوه روایت د کابل تره خېل په ساکو ګډېږي. همدارنګه د زابل او کندهار توخي او هوتك هم په ځینو روایتونو ساك دي. په افغانستان کې ځینو قو-مونو - (ساکزي، اسحاقزي، سګزي) او ځینو سیمو او من هم مستقیماً (ساك، سهاك) نوم ساتلی دی (١)

(١) لرغونې پښتنا نه قومونه ٢١ مخ

داویستا ىی عصر باختری نوموته :

دلته یه په هغولر غونو تپیلوی اوجغرا فیاوی نوموتوباندی چی زموز دهیواد پوری مربوط دی او پهاویستا ىی متونو کی را-غلی دی لیره څه رنا واچو و البته دتولو لرغونو ساکی اوباختری نومونو څخه ل ( لکه رستم، افرا سیا ب . . . ) چی څالبا د ساکی اتلا نو نوموته دی دلته زموږ موضوع نه ده ځکه چی څیړل یی موږ لهموضوع څخه لری کوی . دد غونو مونوپه جمله کی یوهم دد یر ایك کلمه ده .

د یر یکا ناغوك دی دغه توکم به په تاریخی روایا توکی ولتوو :
دکتیسی Ctesie په روایت چی دیودر پهخپلو لیکنو کی ر اوړی دی کله چی اسوریانو باختروته د ایل شوی او لسونو په جمله کی نارتیا ن یدار رنکیانیا ن او د یر یك هم شامل وو . ( ۱ )

دهیر ودو ت پهقبل المیلاد ( ۹ ۳ ۵ ) څخه و روسته دهخا منشی کو رنی کوروش چی په خته یخه ( باختری ) شاه ر ه باندی یرغل پیل کرد ساکی اتحادیی د داسی مقاومت سره مخامخ شولکه څنکه چی پا رتیا نا پهسرسیدیا ن کیور سره مخامخ شوی وو . داسی ښکاری چی دغه مقاومت په درنکیا نا ( سیستان ) کی دوسره زیات وچی نه بوازی دا ر یا سپ Ariasp او یویر کیت Everget پهبا ب په افسانو کی باتی شو بلکی کتیسی دکور وش سره په جکړه کی د یر یکا نود مقاومت حکا یتهم کوی . مورخون اتکل کوی

---

۱ - « دافغا نستان تاریخلو مری توک (۳۸ - ۳۹) مخونه

چې د د پرېکانو د مقاومت په باب د کتېسي له حکايت څخه ښکاري عنعنوي حماسه مطلب ده ـ په دې معنا چې د درنګيانا او اريا سپ ټولي د درنګيانانو او اپيلو په خلاف د کورش ملاتړ وکړ او د د پرېکانو په خلاف څېنو ساکو (اموړګي ساکو) د کوروش ملاتړ وکړ. د د پرېکانو سره هغو هندي پوځونو مرسته وکړه چې جنګي پېلان يې لرل. د ستر اېوه په قول په (ق. م دريمه ـ لومړۍ کې) د پرېکان د هېرکند يا او تاپېر (؟) د سيمو تر منځه اوسېدل. د راتوسفين په روايت تاپوريان د هېرکند يا او اريا (هرات) تر منځه اوسېدل او د پرېکان د هېرکند يا په جنوب کې وه (١). دا دې د د پرېکانو د تاريخي خاورې موقعيت.

د کوچيانو په دغه اتحاد په باندې پرغل د کوروش له پاره زيات تاوان ورساوه. کتېسي ليکي: د کوچيانو د اتحاد سره جګړه د کوروش په ستره تراژيدۍ ماتې تمامه شوه لوی لښکر يې ترڅې په ترڅې او خپله کوروش ورکې وو ژل شو.

د غه پېښه د هغه وخت د نور څېنو په پېلو پېلو روايتونو کې په پېل پېل ډول منعکسه شوې ده: هېرودوت ـ د کوروش د غه د جګړه قوه د لوېو ساکو (مسکېټو)، کتېسي د د پرېکانو او بېروس Beros

---

١ـ هېرکنديا د هرات په شمال لوېديځ کې تاريخي سيمه وه. (د افغانستان تاريخ) (٥٣ مخ).

دد ا بی Dai (یاد اهی) (۱) په نامه یاده کړی ده (۲)
زما په خیال دد غوروا یتونو په باب کوم تاریخی تضاد نشته ځکه چی دا تول د معنی لوبی اتحاد یی ځانګی وی چی ز موږ په لرغونی هیواد کی کوم موقیا یلو جوړه کړی وه .

دلته د (دیر ایکا نو) موضوع چی محینو محققینو سوالیه نخښه ور ته ایښی و . تر یوی اندازی حل شوی دلته به په نور نوموونو هم لږه څه رناوا چوو :

دانو : د (توره) کلمه چی (تورانی) بی وروستی بڼه ده په اویستا کی کله کله له (دانو) (Danu) سره یوځای او کله جلا راغلی ده . مثلا په فرو دی یشت (۳۸) پاړکی کې راغلی دی : «تاسو د دانو تورانیو بر غل او تونکارمات کړه ، تاسو په جګړه کی تورانی دانویان پاتی ته ورسول» ددوی مقابلمن خشتار (Khshhara) څوول شوی دی (۳)

همدغه «دانو» په ریګویدا کی د «داناوه - Danava په بڼه راغلی دی : «ای وژونکی ویتړا (Vritra) ای د لوړ و کم زوبه ! کله دی چی داناوه وژل دوسره په غضب نه وی» ځاورمه ریګویدا اووم اود یرشم پاړکی . (۴)

---

۱- دفرارت په یوه پروګراف کی د «دایه» په فورم راغلی .
۲- (دافغانستان تاریخ) لومړی توك (۵۷ - ۵۹) مخونه .
۳- فرهنگ نامهای اویستا جلد دویم ۵۲۱ مخ
۴- عصر اویستا ۲۴۹ مخ .

هېنو : په اوېستا کې د یو ډېلې تورانی دلې یاد و نه هم راغلی ده چې د هنو Hanu یا هینو Hinu په نامه یاده شوې ده . « ... له ده یې وغوښتل چې دغه بریالیتوب ما ته راکړه ای خوراهوښیاری اردو یسورا ناهیتا ! چې په « وسلو الو هنو یا نویا ندی دلوړ او شوږښتی کنګه Kangha له پاسه دخشتر وسوک Kshathro Souk په کودر بریالی شم ، چې تورانی هېوادو ته مات کړم . . . » لوړ یې یشت همدارنګه دغه موضوع په ځو یا یشتونو کې مکرره راغلې ده .

هنود تورانی قبیلاو یوه تکړه سوار کاره قبیله وه چې د سردریا په پاسنی غاړه په شمالی دښتو کې اوسېدله . د اوېستا « هنو » او تاریخی « هون » سره زیات ورته والی لري . ځکه چې ساکې قبایل د زردشتیزم سر سخت دښمنان وو او دغه هم دښمنیو په انعکاس ویلای شو چې غالباً هنو او هون یو توکم وي .

په حقیقت کې هون لا د اوېستایي عصر نه د مخه موجود وو . تردې چې سپین پوستی هون چې هاوګ Haug د هغو یادونه کړې ده د میلاد څو پېړی د مخه یې د شمالی دښتو او سیدونکی د جنوب خواته په مخه کړې وو . د توکم پېژندونکو په عقیده د نورو تورانی کوچیو قبایلو په څېر هونان له ډیرو لرغونو پېړیو څخه راهیسې د منځنی آسیا په پراخو دښتو کې د کوچ او لېږ د په حال کې او سیدل . (۱)

داهه . دایې : په اوېستایي متونو کې یو هم داهه Daha نوم دی .

---

۱- عصر اوېستا ۲۷۱ مخ .

دادېر ومي په پورتني روایت کې دساکي کوچېدو قبایلو داتحادیې نوم شا لکه وه او ددېرو پکانو هغه ددوی تاتوبی ډېر لری نه و .

له دغه نامه هغه هم دغه (دایی) یا (داهی Dahi Dai) مطلب دی چې لرغونو یونانی مورخینو یې خولمله یادونه کړې ده او دغو مورخینو او جغرافیه پوهانو دساکو سکیتیا نوله جملې څخه ګڼلی دی او ویلی یې دي چې دغه خلك دخزر په ختیځ ، دهیر کانډیا په شمال داکسوس (امو) و یا کسرت دسیندونو ترمنځه خواره دی. (۱)

دیروځه باختر یا دداهه په نامه یادیږله. داچې ولی باختر یاه داهه په نامه یاد یه له په دی باب دمار کورات ـ Marquart اتکل هم په زړه پوری دی چې ځینو نورو مورخینو یې هم ملاتړ کړی دی . مار کوارت د (داهه) نامه تهد (تخار) له نامه سره سمون ورکوي چې اوس هم د (تخار) په نامه یاد یږی . (تخار) دباختر یا بواپالت او کلدجز په نامه یاد شوی دی داهم هغه وخت چې ساکي قبایلو د کریکو باختر دولت ته ماتي ورکړه او د شپل لا ـ س لاندې یې باختریا راوسته ، نونوی (داهه) نامه د (باختریا) د ز ـ اړه نامه د استعمال ساحه تنګه کړه . . . . (۲)

پولرغونی مورخ تاسیت Tacit د د ایانو (یا داهیانو) دژمکې په باره کې لیکي:

۱ـ عصراوستا ۲۷۲ـ۲۷۵ مخونه .

(۲) دافغانستان تاریخ لومړی توك ۱۳۴ مخ

«په میلادي ۳۷ کال» چې د اشکاني کورنۍ ور دان؟ Wardan د کوتارز دمقا بلې له پاره روان شو هغه سیند ته ور سید چې د هر یا نو (هرات) او د ا هیا نوز سکیسره یېلوی او ملتدی د یادگا رله پاره یوغلی ود راوه په دې معنا چې گویا تر دغه وخت پورې تر دغه ځایه د اشکانی کورنې هیڅوك نه ورسیدلی (۲)

ادهیو ، داد هیو : د اوستا یې عصر د دوه نورو تو کمو او یادو نه هم مهمه ده چې یو یې ادیو( Adhyu ) او بل یې داد هیو( dadhyu ) دی. دویم نوم ته شوبگلي د هیر ودوت په روایا تو کې د (داد یکا ی (dadicai) له نامه سره سمون ور کړی دی . (په اوستا یې متونو کدوی نوم نشته) داسې ښکاری چې دوی به د زر دشت اصول منلي وو. دوی د هیر ودوت په قول د هغو گند ها ریا نو سره چې په سلیمان غره کې میشته وو ژورا و نږدې روابط لرل (۳)

وردك ، هیونه : په اوستا یې عصر کې د زرد شتیا نو د سرسخته و د ښمنانو څخه دد وو نو رو قبا یلونو مونه د یاد ونې ور د ی چې یو یې (ور دهك» وردك» ( Vardhak ) او بله یې (هیونه ( Hyauna ) نومیږی . دغه دوه قبیلې «کی گستا سپ» مغلوبې کړی وې البته داوستا د متن داسې ترجمه گرانه ده چې د غه تاریخی حقیقت په مستقیم دول ورنه څرگند شی. (۳)

---

(۱) رر رر رر ۱۳۸ مخ
(۲) عصراوستا (۲۷٦) مخ
(۳) عصر اوستا (۲۷٦) مخ

دیونه: په اوېستا کې خیونه( Xyaona ) په پهلوی اوښتا مه کې خیون دی چې ارو پایی مور خپلو (هون) اخیستی دی . داد نورا- زیا نو پوه دله‌ده چې د کیا نیا نو په دو یه‌مد وره کې د ویشتا سپ اوا ریا نیا نو سره جنگیدلی وه - اوارجاسپ تورانی ددوی پاچا و(١) او همدغه خلك وو چې خپله زرد شت یې دنو رو اتیا تنو روحا- نیونو سره وژلی و(٢)

پښین - او رگون : داو یستاد متو نو په روا یت گندرو

---

Gandarva نومی یو مار په جنوب ختیځه لری سیمه کې وچې خلك یې وژل، بیا گرساسپ Karsasp نومی اتل د پښین( Pishin ) په دره کې ووا ژه .

د پښین په باب په بند هش کې داسی راغلی دی:

د پیشیا نسی دښت په کا ولستان ( کا بلستان) کې پر ته دی . ویلی شوی دی چې په کا ولستان کې د پیشیا نسی غونډی د پر عجیب هوادی . هلته تود وخه دیره زیا ته ده . د هغې د پر لوړ ځای تود نه دی . نن دغه دښت د پښین( Peshen ) په نامه یاد یږی . . . . (٣)

نور محققین هم عقیده لری چې د اهغه پښین دی داو یستاد متونو (اوروه Urva )

په تاریخی ایالت کې واقع دی(٤)

---

(١) فرهنگ نامهای اوستا لومړی ټوك(٣٢٩) او(١١٥) مخونه

(٢) رر رر رر رر ٣٠٦ مخ

(٣) هرهنگ نامهای اوستا لومړی ټوك ٢٣٧ مخ

(٤)- د (اوروه ) کلمه د ( روه ) کلمه‌را په زړه کوی

کنگهه : (هینو) په پرا ګر اف کی د (کنګهه Kangha ) نوم هم یاد شوی.

دغه نوم دمنځنی اسیا دیوې سیمی لرغونی تاریخی نوم دی . په کنګهه ( یا کنګهوی Kanghoe ) کی دسا کی قبایلو یود ولت جوړ شوی وچی دمسا ګیټو ددولت په شمال کی قدرت ته رسیدلی و. ددغه دولت جنوبی پولی د مسا ګیتود اتحاد یی په جنوب لو یدیځ کی د (دوان ـ فرغانی) او په شمال لو یدیځ کی یی دارال دسرما تو دالانی دپولو پوری نښتی وی.

کنګهوی دسر دریا په امتیداد غزیدلی او پای تخت یی داوسنی تاشکند په سیمه کی و. دغه خلک دسر دریاد سا کو اسلاف وو. ژوند یی د نوروسا کی قبایلو په شان دلیږ داو کوچ په حال کی واوله نفو سو د لکه دولت یی جوړ کړی وچی په میلادی لومړی پیړی کی یی د (۱۲۰) زرو جنګیالیو لښکر د رلود، خو بیا و روسته په یفتلی دولت کی محوه شول (۱) ځینی محققینو (کنګهه) د کوم غره نوم بللی دی (۲)

کا بل : دویدیدات ( فر کرد ) د لومړی فصل په لسم بند کی کابل (چار ، یا هیواد ) یادونه شوې د . کابل دهغی څلورمی سیمی په نامه یادشوی دی چی د ا ـ هورا مزدا له خوا خلق شوی وی او انګر ـ من (اهریمن) دهغه په مقابل کی هناتثی تی ( Xnathaiti ) چا دو ګړه پیری پیدا کړه چی ګر شاسپ یی ای لاری کړی. داوستا په متن کی کابل دو یکر ته ( Vaekarate ) په

---

(۱) تاجکان ... (۱۳۷۰ ـ ۱۳۸) مخونه

(۲) فرهنګ نامهای اوستا ۲۳۶ مخ

نامه‌یاد شوی چی‌په پهلوی کی کاپول ( Kapul ) دی (۱) دو یکر تده کامی تحلیل (وی Vayu ـ خدای ، کر ته Kareta مخلوق یعنی دخدای دمخلوق) اودور وستیو تحقیقا توسره سم‌سطلب تری د ـ کابل وادی‌ده (۲)

بلخ: دوید یودات پهلوسری فرکرد کی بلخ (بخذی) له هغو دیرو ښو هیواد ولهجملی څخه‌یاد شوی دی چی‌داهورا مزدا پیدا ښت اولو ر ایر غونه اری . هـ دغه بلخ‌دی چی‌د ز ردشتا و زرد شته‌زم لوسری ځانګو او هم دهغه مر ستون اوارامګاه ده . په‌دغه فرگرد کی‌وایی: څلورم‌هیوادچی اهورامزداد اریایانو له‌پاره پیدا کړ ښکلی‌بلخ د یورـ ته شوی‌و جنډوسره‌دی خوانکر من (اهریمن) دهغه‌په خلاف زیات میږیان اوزهرجن بوتی‌پیدا کړل. (۳)

بلخ په اویستاکی باخذی (بخذی) ( Baxzi ) راغلی دی چی یونانیانو دبا کتر یانا ( Baktrian ) په نامه‌یاد کری دی د(ښکلی) صفت دبلخ له پاره په ور وستیو پیریو کی هم معمول و مثلا مسعودي د (بلخ الحسنا) په نامه یاد کری دي. او (دلوړو ابرغونو) صفت د امتبالري چی (پایتخت) او نظامی مبا رو (۴)

دفرد وسی په‌روایت زردشت دایر انیانو او تورانیانو تر

---

(۱) ۷ ۸ مخ

(۲) دایرانی ایلالوژی اساسو نه‌دو ه‌مخ لمن لیك

(۳)ـ په فرهنگ نامهای اویستا کی هم‌دغه‌شان تحلیل شوی دی (۸۰۰ مخ)

(۴) فرهنگ نامهای اویستاج ـ۲ـ (۸۰۰) مخ

منځه په دویم مذهبي جنګ کې د بلخ په یوه اورتون کې د نوروا تیا تنو روحا نیو نو سره د خیونیا نوله خوا وژل شوې ، فردوسي یقینا د غه روایت د متواترو روایتونوله مخې کړې دی. دا یقیني ده چې زردشت په بلخ کې وژل شوی دی او همالته خښ دی: په دې باب د اسلامي عصر یو ډیر پخوانی کتاب هم شاهد دی چې (فضایل بلخ) نومیږی او په (٦٧٦ ه. ق) کې یوه نامعلوم شخص د فخرالدین ابوبکر عبدالله بن ابی المفر بدله پاره له یوه عربي اصل څخه په فارسي ژبه ترجمه کړی دی چې د عربي متن يې په (٦١٠ ه. ق) کې شیخ الاسلام صفي الدین ابو بکر عبدالله بن عمر محمد بن داود واعظ لیکلی دی او دوه نصاوندیي په (١٨٨٣) کال کې په پاریس کې خپاره شوی چې د غه مطلب هم تری اخیستل شوی دی. په دغه کتاب کې څو ځایه داسي روایتونه راغلي چې د انبیاو چې د زردشت او ګشتاسپ سرستون په بلخ کې مشهور و او خلکو ورته توجه لرله او دغو زیارتونو کاوه خود معمول سره سم دلته د زردشت د نامه له یادو لو څخه د مذهبي تعصبا تو له امله ډډه شوی ده او دغه په ځای يې د دیني اسرائیلو د پیغا مبرانو نومونه ثبت کړی دی، خو څرنګه يې چې هغه پیغامبر ان د ګشتاسب همعصري او معتقدیان ښوولی دی په څر ګنده څکاري چې هغه زردشت دی نه بل څوك (١)

البرز: دهغو دیرو با ختری نومو نو په جمله کې چې په اوېستایي متونو کې ذکر شوی دی یو هم د البرز نوم دی چې په څو ځله راغلی دی.

---

(٢) فرهنګ نامهای اوېستا جلد دویم ٦٠٢ـ٦٠٧ مخونه

په (۱۹) پښت کې دالوېری غربال شوی چې له زمکې راپورته شوی دی . دنهم پښت په حکم داداسې غردی چې ختیځ اولو یدیځ هیوادو نه یې احاطه کړی دی .

په اوېستایې متونو کې : داغر په داسې صفاتو موصوف شوی دی چې افسانوی رنګک لري. په دویم پښت کې دی ته اشاره شوی ده چې دغه غره هوکه د کیانیانو او پیشد ادیانو دشاهانو معبد و(۱) چې هغوی باختریان دی .

دالبرز دغره ترټولولوړه څوکه دهوکیریه (Hukairya) په نامه یاده شوېده (۲)

دغه غرچې د بلخ دجنوب ختیځ په د برش کیلومتری کې واقع دی د روستهٔ یې اوږل بحث راځي .

سیامك : غرنکه چې اویستا زیوه دهیواد (لرغونی) بلخ لو ر ده نو زموږ دهیواد داسې دیر غیر مشهور نومونه هم یکې ثبت دی چې له هغه څخه په غرګند . نوکه معلو میږ ی چې کومی یلی سیمی ته د اویستا مشروبول غیر علمی دی . دد غوسیمو په جمله کې یوهم دسیا ـ مك نوم دی .

سیامك Syamak دیوه غره نوم دی چې (۱۹ ایشت ـ پنځم بند) کې واغلی او په بندهش کې په (سیامنوی مند ) ثبت شوی او د یوه بل غره چې په اویستا کې وفری (پهلو ی و فر مند) راغلی دی دا پارسن (داویستا او پایری سن Upairisaena یعنې د ( کوه بابا) کوهسهاه او سپین غره مره ور تلمه کړېدی (۳)

(۱) فرهنګک نامهای اویستا ۱۳۳۲ مخ
(۲) رر رر رر ۱۳۶۷ مخ
(۳) فرهنګک نامهای اویستا ۱۲۸۱ مخ

وفریه: ( Vafraya ) د اوېستا (۹ ویشت پنځم بند) کې پوغل

یاد شوی دی په بندهش کې (ورفنند) دی. دا د پارسن (کوه بابا) دهندوکش د غربی خوا نګی کوه سفید دی(۱)

تردغه ځایه وپوول شوه چې په اوېستا کې عموماً او دغې په بوه برخه (ودیودات) کې د توکمو نواو سیمو یا د شوی نومونه یوازې زموږد هیواد او دغه ته د منځنی اسیادرو نژدی سیمو پوری اړه لري.

دارپانی لیکوالو یو یوځای او خصوصاً جنوبلویدیځی سیمې د اوې ستادغې برخې (ویدیو دات) - مولف ته نا اشناوی. دایران د غر- نیوبر خو په لویدیځ کې یوازې (رغه - د اوسنې تهران سیمه) یکی یاده شوی. ده دایران د فلات لویدیځی برخې او دغو په جمله کې پارس چې دا- یران په تاریخ کې یې ستر رول درلود په اوېستا کې هیڅ نه دی یاد شوی (۲) او دا ندپا دونه کومه اتفاقی خبره نه بلکې علت یې همد- غه نا اشنا یی ده.

---

(۱) فرهنګ نامهای اوېستا ۱۳۶۳ مخ

(۲) د اریانې فیلالوژی اساسونه (۶۰) مخ

دویمه برخه:

# زردشت، د هغه د ظهور شرایط او عقیده یې

زردشت د لرغونی باختر یو تاریخی شخصیت وچې د ده مذهبي عقایدو په ټوله منځنۍ اسیا کې ستر مذهبي او کلتوري انقلاب راوست.

ناستو فرانسوی محقق جارج د ارمستتر په خپل یوه اثر (۱) کې د زردشت له بیوګرافۍ څخه نتیجه اخلي چې زردشت یو افسانوي اتل او هیرو دی او د هغه په باب افسانوي بیوګرافي د کوم واقعي شخصیت خصوصیات نه لري. د دغو افسانوي خصوصیاتو له مخې د ی لومړي افسانوي انسان (کیومرث) سره سمون لري.

د ده په باب زردشتي روایتونه د نورو لرغونو اولسي روایتو نو سره توپیر نه لري. د افسانوي بیوګرافۍ له مخې زردشت یو داسې هیرو دی چې د هغه د ښامار (اژي دهاک) سره مبارزه کوي چې د تورانیانو په تصویرا و تمثیل کې د بدي سمبول دی. زردشت په دغه مبارزه کې

---

۱- آهورا اورمزد او اهریمن . . . پاریس ۱۸۷۷ کال

وژل کېږي او دري زامن يې پاتې کېږي چې يو يې د کاهنانو، بل يې د جګړه مارو او دريم يې د بزګرو د پرګنو د طبقاتو نيکونه دي.

د ارمستتر چې د اویستا ترجمه کوونکی دی وايي چې: د زردشت د کرونولوژۍ د تثبيت له پاره هر ډول کوښښ داسې ښکاري په او داسې بې ګټې دی لکه د بل هر افسانوي هېرو د زيږيدنې او مړينې د وخت ټاکلو له پاره.

د ارمستتر هم دغه نظر په ځای په ځای شوروي محقق. اې بېرتلس هم تعقيب کړی دی او زردشت د يوه واقعي تاريخي شخص په حيث نه پېژني او هغه يوازې د يوه افسانوي شخص په نامه يادوي.

لکه چې وويل شول د دوی دا نتيجه له يوې خوا زردشتي پيروانو له خوا د زردشت په باب له افسانوي بيوګرافي ليکنې اخلي او له بله پلوه د زردشت په باب ګډوډ روايتونه هم دغه پرابلم پيدا کوي. مثلاً پلوتاريخ (Plutarx) چې په ميلادي لومړۍ پېړۍ کې په يونان کې زيږيدلی دی وايي: زما په لاس کې اسناد شته چې زردشت د ترويان (Troean) له جګړې څخه شپږ زره کاله د مخه زيږيدلی دی. البته د پلوتاريخ زيات روايتونه د اویستا د متنونو سره سمون لري. او په دغه صورت د تاريخي روايتونو ګډوډي هم له دوی سره نظريه پيدا کړي چې زردشت يو افسانوي شخص و پېژني (۱)

د دغو نظرياتو په څنګ کې د محققينو اکثريت عقيده لري چې زردشت يو تاريخي واقعي شخصيت دی. د نړۍ د متنو اختصاصي بيو-ګرافي په باب عادتاً د هغوی پيروان ډېره مبالغه کوي چې هغه په افسا-نوي رديف کې دروي او يا يې له واقعي چاپېريال څخه ورمه لري کوي چې

۲ـ «د پارسي ـ تاجيکي ادب تاريخ» ۱۳ تر ۳۴ مخونه

افسانوي خواږې ډېره زياته وي . د دغسې يو گرانې له مخې دا حکم سم نه ښکاري چې د دغسې اشخاصو له تاريخي موجوديت نه سترگې پټې کړو . بلکه داچې اجتماعي ، سياسي او نورې نوې مفکورې د يوه چا د مغزو زېږنده وي او بيا پر ترلږه ريفورم يې رواولي ، وده او انکشاف ورکوي او بيا د دوى له نامه سره ارتباط پيدا کوي . د زر-دشتيزم له باره دا صفت زردشت لري داچې محققين وايي چې په زردشتي مذهب باندې د لرغونو باختريانو او ساکو حماسو او افسانو ستره اغېزه کړې ده . مخکښې وايي چې د اوېستا لرغونې برخې ( گاتونه ) د زردشت له عصره زياتې پېړۍ پخوا جوړې شوې دي د دې ټولو نتيجه داده چې زردشت به په لرغونو ختيځوار بانې عقيدو کې ستر ر-يفورم راوستى وي نه داچې زردشت يو افسانوي او غير واقعي شخصيت وي . دغه اسناد زښت ډېر دي چې زردشت يو واقعي شخصيت او تاټو-بى يې د لرغوني باختر پايتخت ( بلخ ) بولي .

د زردشت د پيدايښت نېټه :

په علمي حلقو کې ډېر وخت په دې موضوع مشاجره روانه وه چې د زردشتي مذهب موسس زردشت کله تېر شوى دى چې په زردشتي عنعنوي روايتونو او د اوېستا د څو لرغونو برخو ( گاتونو ) مولف دى .

په دې باب ډېر محققينو بېل بېل ډول نظر يې ورکړى دى . مثلا نامتو محقق . مېير E. Meyer نظر يې ورکوي چې زردشت په قبل الميلاد دوه زرم کال کې پيدا شوى دى . ځېني نور مور-خين د دغه د پيدايښت وخت د قبل الميلاد اوومې ، شپږمې پېړۍ حدود

د لرغوني سوغد، باختر او مرگیانا (مرغاب) په هغو سیمو کې دوی د کرنې د کلتور په باب څېړنې وکړې چې د ار کیالو ژیکې پلټنو له مخې د هغو ودانۍ د قبل المیلاد لومړیو زرو کلونو په وروستۍ څلورمه کې شوی وه . تحقیقاتو نتیجه ور کړه چې د افغانستان په شمالي صفحاتو او د منځنۍ اسیا په نورو ورڅېرمه سیمو کې د او وخت د صنعتي شیانو تولید، د کولالي شیانو جوړول او د توکرانو اوبدل مروج او ښاري ژوند پیل شوی و او تجارت روان و. د خښتو کورونه جوړ شوي او له اوسپنې څخه استفاده کېدلای شوه . هغه ټولنه چې په اویستا ( حتی د هغې په بېخي وروستیو برخو ) کې ترسیم ده په هغې کې حتی د ښاري ورمه کلیو یادونه هم نشته، د منکشف صنعت څرك ورکې نه ښکاري او له اوسپنې څخه د استفادې درك ورکې نشته له دغه ځایه اټکل کېږي چې د اویستا اساسي او لومړني برخې د قبل المیلاد د زرم کال د شپږمې نیمې په بهرد سخه تالیف شوې دي او حتی تاریخ یې د قبل المیلاد د شپږمې پېړۍ له وروستي نیمایي نه هم د سخه دي .

په دې باب نور شواهد هم شته : په اویستا کې د پیسو، د مالیې د سیستم، د پوستي استولو د لارو، ساتراپونو او هغو نورو دولتي موسسو او تشکیلاتو یاد نشته چې په هخامنشي دولت کې موجود وو حال دا چې د شپږمې (ق.م) په دویمه نیمایي کې د هخامنشیانو د قدرت له لارې د منځنۍ اسیا د زیاتو سیمو اوسېدونکي له دغو شیانو سره اشنا وو .

برسېره پر دې په قبل المیلاد شپږمه او پنځمه پېړۍ کې چې د مصر یونان، اسور، ورې اسیا او نورو سیمو د ټولو د پاره د هخامنشیانو له

شوی . دلومړی نظر اتکا د گاتو نود فورم او مضمون دخصوصیا-
تو په تحلیل او دویمه نظریه دالبېروني په دغه روایت ولاړه ده
چې دزردشت دظهور او د باختر واکمن ویشتاسپ ته د خپل مذهب
د بلنې مرحله دقبل المیلاد (۵۷۰) حدود ښيي . دزردشت ددین
حامي ویشتاسپ نوم دلر څونی روم اوو یزنتی دلرغونو مولفینو په
یاد ونوکی هم راغلی دی. البته دویشتاسپ نه ددغو مولفینو مطلب
دهخامنشي دکورنۍ دموسس لومړی دارا پلار دی چې په شپږمه قبل-
المیلاد کې تېر شوی دی .

دغه نظر په دنړۍ اوسنیو ستر ومحققینو ټینګی رد کړی دی ځکه
چې دزردشت نوم نه دلومړی دارا ، نه د هغه دکورنۍ د کوم بل
واکمن ، نه دایران دهغه وخت په بېړه کې کوم بل ځای او نه دهغه
دربار مورخینو هیڅ نه دی ذکر کړی او نه داویستا په متنونو کې
دهغوی یادښته . همدارنگه داویستا او دهخامنشیانو دکورنی
دمذهبي اصطلاحاتو اومذهبي مراسمو تر منځه توپیرونه موجود وو.
مثلا په اویستا کې داوبخی منع وه چې دمړی جسد په ځمکه کې
ښخ شي . خو هخامنشیانو خپل مړی په مجللو هدیروکی ښخول .
همدارنگه داویستاد (یزد) په مقابل کې دهخامنشیانو د کتیبو
(بگه) Baga او (مگو Magu )مفهوم لري. او داسې نور .
په دې وروستیو ختوکې دغې موضوع ته شوروي پوهانو جدي
پام واړاوه او دغه موضوع یې دارگیالو ژیکو حفریاتو له
لاری وڅېړله .

خوا جګړې رواني وې اود منځنۍ اسیا ډېرو توکمونو ښکې برخه اخیستې وه هغه بايد تر یوې اندازې په اوېستا کي منعکسي شوې واى .

دغسي شواهد له یوې خوا ثابتوي چي دزردشت اواوېستا تاتوبى دباختر خاوره ده اوله بلې خواد دغو پېښونه دزردشت ظهوراو داوېستا تالیف مقدم دى .

د قبل الميلاد زروکلو نوپه لومړ یو پېړ یو کی هم امکان نه لري چي داوېستا لومړۍ برخې هلته (ایران کی ) تالیف شوې وې ځکه چي هغه وخت لا هلته اریائي قبایل نه وو میشته او یا بوښي لږوو . بلکه داچي دزردشتي مذهب دګډیوالو پېرو انو ستر دښمن هغه کوچي قبایل یادشوي چي په اوېستا کي د ( تو را - Tura) (توران) په نامه یاد شوي او محققين په اتفاق سره هغه ساکي کوچي قبایل تري مراد وي چي دلومړ ي دارا په قول يي ( داهو را مز دا نما نځونه نه کوله ) او په ختيځې اریا ني خاور ه کي به کوچ او ليږد بوختوو . ( ۱ )

ددغه شان تاریخي ډیلو ډیلو شواهد وله مخې اوس د محققینوسره دا نظریه ټینګه شوې ده چي زرد شت په قبل الميلاد شپږمه پېړ ی کی پيدا شوى دى . هندى زردشتيان هم دغه روايت وړاندې کو ی . دافغانستان په تاريخ کی (۲) دقبل الميلاد اووسى پېړ ی پای او

---

۱ـ(دارمانی فيلا لوژی اماسونه) (۹۱ـ۹۳) مخونه

۲ ـ لومړی توك دمتون او او مددين تا ليف

د شمیرې پدې پوول شوی دی . نامتو ژباړونکی او محقق ابایف قبل المیلاد (٥٦۹) کال، هینینګ د قبل المیلاد ( ٦۲۸ ) او د ( ٥٥۱ ) کلونو تر منځه اټکل کړی دی (۱). د پور داود په نظر ق.م (۱۰۸۰) د ذبیح الله بهروز ایرانی محقق په خیال د ق.م ( ۱۷۲٥ ) کال در بیح الاول شلمه نېټه ، د کر ستن سن په فکر ق . م اوومه پېړۍ ، د بارتولمې او و زدنګه په فکر ق . م نهمه پېړۍ د زردښت د زېږېدو نېټه ده . د اختلاف (۱۱) پېړۍ کېږي (۲)

د اوېستاد متنواو تاریخی اسنادو له مخې محققین وایي چې زردشتي مذهب له بلې هرځای نه د مخه او په بزرګ خته ختیځو اریانیا نو په مهمو کلتوري او سیاسي حوزو کې خپور شو لکه باختریا ، اراخوزی (اوسنی - کندهار)، مارګیانا (مرغاو) ، اریا، سوغد ، خوارزم ، سیستان او نورو برخو کې .

د دغه مذهب موسس چې زموږ په لیکنو کې په (زردشت) سره یاد - یږي په تاریخی پیلو پیلو لیکنو کې یې په ډول ډول لیک دود ونو دغه نوم راغلی دی : خپله د اوېستا په متنو نو کې د (زره توښتره Zaratusthra د ) لرغونو یونانی مورخینو په لیکنو کې د (زوروا ستر Zaroastr ) او د میلادي لسمې پېړۍ په ادبیاتو کې د (زردشت Zarduhisht ) او کله په شعرو نو کې د ( زردوهشت Zardushihts ) (زرد و هو شت Zardusht ) او کله د (زردهشت) او (زردیش) په نورو مه لیکل شوی دی (۳) .

۱ـ ( د افغانستان تاریخ ) لومړی ټوک ( ٥۱ ) مخ
۲ـ فرهنګ نامهای اوېستاد ٦۱۱-٦۱۸ مخو لوځه
۳ـ د پارسي ـ تاجیکي ادب تاریخ (۳۱) مخ

## د زردشت د ظهور شرایط :

مورخین وایي چې د قبل المیلاد اوومې پېړۍ په لومړۍ نیمايي کې د میډیا په خاوره کې وړې وړې ملوک الطوایفي سره یو ځای شوې او د میډیا یو مقتدر دولت جوړ شو. د کیاکسر Kiaksar (۶۸۰-۶۲۵ ق. م.) په مشرۍ د میډیا دولت اسوریا ته ماتې ورکړه او د اسوریا نوره لاس کې یې ددوی لاس ته ورغلې چې هالیا اراخوزیا (کندهار) او درنګیانا (سیستان) هم ورکې وو. (۱)

بالمقابل د قبل المیلاد د اوومې پېړۍ په وروستۍ نیمايي او د شپږمې پېړۍ په لومړۍ نیمايي کې ساکي کوچي قبایلو یوه ستره سیاسي اتحادیه جوړه کړه چې مشره یې اوه ساکي قهرمانه واکمنه وه چې زرینه نومېده او د یونانګو نې مورخ دیودر Diodor په روایت یې د پارتیا نا په سر له میډي دولت سره یې جګړه لاس پورې کړه. د دغې اتحادیې غړي قبایل د پارس او کلیوالو سیمو په خوا او شا کې خواره واره میشته وو.

د کوچیو ساکو په اتحادیه کې مورخین د دغو څو قبایلو نوم په خاص ډول یادوي :

خوراسمي (Xuarasmi)، اپاسیاکي (Apasiakie) (د امو او سرد و یا تر منځه)، ساکه رواکي (ـ د هوما هوم لګي ساکه)، ساکه امورګي (Saka-amargie)، دیربیکي (د امو په منځنۍ ساحه کې) تخاري (یا داهي)، اسي (Asie) (یا کسرتي) او اتاسي (Attasie). (۲)

---

۱- «د افغانستان تاریخ» لومړی ټوک (۳۷) مخ

۲- «د خوارزم د لرغوني تمدن په پلونو» (۱۰۳) مخ

د کوچنیو سلا کوونکي ستري اتحادیې نه یوازې د میډي دولت په خلاف یو ستره جګړه روانه کړې وه بلکې د سیمې ښارونه او د استوګنځي حوزې هم د دوی له خطره په آرام نه وې. د همدغه خطر د مخنیوي له پاره په باختریا، مرګیانا (مرغاب) او سوغد کې لوی لوی کلاګانې جوړې شوې .

شک نشته چې د غو تاریخي پېښو په زردشتیزم ستره اغیزه درلوده (۱) د او د هغه عصر سیاسي شرایط .

د زردشتي مذهب د منځ ته راتلو په وخت کې ختیځوا ریا نې قبا- یلو د زښتود پروا رباب الانواعو لمانځنه کوله چې د طبیعت د قوت دیوې یا یلي خواسه بول وو. دلته د جنګیالیو او پاد وساتونکي میترا (Mitra)، د میوو پالونکې اناهیتا، د کر و ند وحامي تیشتر پاستوري لا پخوا لمانځل کیدل او د خلکو په عقاید و کې یې تقدس لاره.

زردښت په خپل مذهب سره په کوښښ پیل وکړ چې له دغو لرغو- نو عقیدو سره مبارزه وکړي او د هغو په مقابل کې یې د یوه دوالستیک مذهب بنسټ کښېښود چې په مرکز کې یې سپېڅلي اهورامزدا ځای درلود.

د زردښتي مذهب نه لا د مخه د ښو کار ونو او ښه عمل د سپېڅلي بول پرځوت د اهورامزدا (۲) لمانځنه په اریا نې قبایلو کې

---

۱ـ «د افغانستان تاریخ» لومړی ټوک (۵۳) مخ

۲ـ اهورامزدا د دوو کلمو جوړ نوم دی: اهورا = مولا، مه = لوی، او زدا - هوښ، عقل، د پښتو د (زده) ریښه. په ګاتونو کې کله کله (اهورا) او (مزدا)، بېل بېل راغلي او کله هم یو ځای. فکر کیږي دا د دوو خدایانو نومونه وو چې زردشت په خپلو اصلاحاتو کې یو کړي دي

د فرهنګ نامهای اوستا ۲۷۶ مخ

موجود وه . (۱)

دزردښت مذهب په داسې حال کې ظهور وکړ چې دختیځ خوار- یابې قبایلو په توره یادکو چې دوی سره کوا وښاري خلکو ترمنځه تضا- دونه موجود وو.

په حقیقت کې د ګاتو نوا و ځینو یاشتونو (مهر یاشتا اونو رو) مضمون او روحیه په داګه او څرګند دول دزردښت وخت دتولنې ځینو تو کمونو ته متوجه دی. دا تول دغو دوو ګروپو په ضد دي چې دزردښتي مذهب دحامي او بلخ واکمن ویشتاسپ سره جنګېدل او یاد هغو کوچیانو په خلاف دي چې دتو را ( Tura ) په نامه یاد شوي او دکلیوالو او ښارنوالو سره ونکې ورته ناارام وو .

(تورا) چې همدغه کوچیسالکوو دګروندې سره دومره بلد نه وو او یادی او رمې به یې لرلې . (۲)

له همدغه ځایه وه چې دزردښتي مذهب دا ویل لو ځا یو له دا -هورامزدا پیدایښت بلل شوي او دهغوي مخالفین انګرمن (اهریمن) .

زما په عقیده دزردښت دظهور او دزردښتي مذهب دمنځ ته را- تللو یو ښتر علت همدغه دباختري (ختیځي) تولنې قبایلي تضاد و . زردښت ددې له پاره چې دکوچیو حمله کوله تهدید ونوا وخطرونو ځینه کلیوال او ښاري خلک وژغوري هغه تول یې په یوه عقیده راغونډ کړل او یو لوی قوت یې ورنه جوړ کړ. همدغه زردښتي مفکوره په همدغه ملحوظ دبلخ دواکمن ویشتاسپ په کته وه ، نو په هغه پله خوښه او رضا یې هغه ومنله او هغې ته یې انکشاف ورکړ . (۳)

ددې موضوع دثبوت له پاره زه یو بل تاریخي شاهد هم وړاندې کوم او هغه دا چې دا موضوع به دهغه منشیانو دکورانې دواکمنو سره دبلخ اوسېدونکو او دساکو کوچي قبایلو په تاریخي روابطو کې ولټوو :

۱- « دافغانستان تاریخ » اومړی ټوک (۵۱-۵۲) مخونه
۲- » » » » » - (۵۲) مخ
۳- » » » » (۵۷) »

په قبل المیلاد (۵۵۰) کال کې چې دهخامنشي کورش د میډیا دولت ته خاتمه ورکړه او پارس یې شو نو په هخامنشیو اریایي (باختر، ساک او نورو) یې خپله لپاره قبل المیلاد (۵۳۹ - ۵۳۰) کلونو تر منځه یرغل وکړ. د کتزیس ( Ctesye ) په روایت باختر-یانو تر هغه وخته ورسره جګړه او مقاومت وکړ چې تر څو د میډیا واکمن استیاګ ( Astiag ) د میډیا د پاد وا کمن په حیث کورش ته غاړه کېښوده. خو په یوه اتحادیه کې را تول شول او ساکو د کورش سره په سخته جګړه وپیل وکړه.

تر دې چې ساکو خپله لوی کورش وو اژه او د هغه لوی لښکر یې توته توته کړ. دا پېښه په قبل المیلاد (۵۳۹) کال کې وشوه. (۱)

د هیرودوت په قول د جګړې په پیل کې د هخامنشیانو لښکر په چل او خدعې سره د ساکو په مقابل کې بری وموند او د ساکو لښکر مشر چې د تومیریس Tomiris نومې ملکې زوی او سپاګاپس - ( Spargapis ) نومېده په جګړه کې ونیو. خو ساکو کورش ته داسې درس ور کړ چې دده ژوندیې پای ته ورساوه. (۲)

د هخامنشیانو دتدبیر په مقابل کې د باختریانو نسبتاً نرم چلند زما په خیال له دې امله و چې د وی په دې خبره لپوا و د هر څومره چې

---

۱- «د افغانستان ژبې او توکمونه» په (۱۱۳ ر ۱۱۲) مخونو کې دا قصه مفصله راغلې ده خو په تاسف باید ووایم چې په (۱۱۲) مخ کې له (۷) کرښې نه وروسته د تومېریس په ځای (زرینه) لیکل شوی. د زرینې نوم یوازې په لومړي ټوکړه کې دی.

۲- «د تاجیکي اولسي نظم له تاریخ څخه» ۱۳۱ - ۱۳۲ مخونه

څوپټل یېد ساکو مقتدره اوددوی له پاره خطرناکه اتحاد په بد ـ
څه صورت کمزوري او یا له منځه لا ړه شي او یا هم دا زما شخصي نظردی .

دزردشتي مذهب عقاید :

دزردشتي مذهب دعقیدې څرك په پېرولرغونو زمانو کې لیدل کېږي . دلرغونو ختیځو اریا نیانو ( باختر یانو ) نیکونه دطبیعت منظمو تحولا تو ته متو جه وو او ددا عقیده ور سره پیدا شوې وه چې په طبیعت کې یوه محرکه قوه شته چې هغه مبالوي .

دغه قوه دوی د( ارته　Arta ) (۱) یا ( ا شه Asha) په نامه یا دوله .

دزردشت نه د مخه ( ارته) ها لپاره ( نظم ، نسق) معنا لرله خو وروسته زردشت او ورپسې دهغه پیروانو دا سې عقیده خلکوته ورانده کړه چې گویا ددغه نظم اوقا نون اداره داهورا مزدا په لاس کې ده . یدپیغا کورد پیوگرا فی لیکونکی ( پورفیري　Porpirye ) دا ـ هورا مزدا په با ب لیکی چې : « او ر موز داسې تنه دهچی ژ با ته ورته اودر پښتها روح دی » دا وستا په لرغونو متنو نویسنا کی دیوې پښکلې تنې « هو کر پتیمه　Hukrptema په څېر پېژول شوی دی .

---

۱ـ ( ارته) اند و اروپایي ریښه لري : په اویستا کی (ارتی دلومړي اودویم څو په زور کېږ و ) دا نرژی په معنا ، سا نسکریت ( ر تهس Rti ) د ( اس ځغلو ونکی ) په معنا په زره سلاویا نی کی (رات) د(جگړه مار ، جنگیالی ) په معنا په دې باب (دروسی ژبی ایتمو لوژیك قا موس ـ(۹۰۵ ر ۹۰۶ )مخونه وگوری

دیسنا په دوه برخه کي وايي: «نمرداهورا مزدستر که ده»
دیسنا په دیارلسم پارکی کې وايي «اسمان دده په ستورو انځور شوی پوښاك دی»

اهورا مزدا زوی لري چې «اتر (Atar)_اور» دی اوماندینه يې «اوبه» دي چې له وریځو څاځي دده تا توبي لا محدود دی ورانګې دي. (۱)

په اریايي دیر ولرغونو تصورا توکي اهورا مزدا داژی دیو اسما نی ښامار اوهغوتو رو وریځو په مقابل کې تصور کیده چې رڼایه يې له منځه وړله چې ښايي ورو سته ورته مطلب «شپه» وه کله چې پخوانیو ساده او پریمتیوف تصورا توخه منطقی بڼه غوره کړه اهورامزدادیوسپیڅلی قوت سپیتته من (Spenta man) نوم شوچې دید یواوبدوکارو نود سمبول انګرمن سره جنګیده.

دانګرمن (چې وروسته اهریمن شو) له پاره په زردشتي مذهب کې داسې څوص اواعمال منسوب شول چې په هغه وخت کې ناوړه بلل کیدل اودانسان له پاره خطر ناکوو. ضرر ناك ژوی لکه مار لړم اونورهم دانګرمن مخلوق وګڼل شول. او په دغه صورت نړی دزردشتي مذهب په عقیده دنیکي او بدی ددوو قوتونود مبارزی دګروګرزیده. (۲)

دګاتو نوله مخې زردشت اومریحل داهورا مزداد پالنې عقیده وړ-

---

۱- دپارسي تاجیکي ادب تاریخ» (۳۴) مخ
۲- » » » » (۳۵)

اندی کړه او دغو زیاتو ارباب الانواعو نمائنده ئې له منځه یووړه چې د پخوا نیوار یا یانو په زړونو کې ئې ځای درلود. دغه کار په لوس ـ یو مرحلو کې تر یوې اندازې وشو. خو دزردښت له سر گډوروسته د پخوانو ارباب الانواعو د نمائندگۍ عقیده بیرته راژوندی شوه چې د اوستا یوه ستره برخه یعنې یشتاوې ورته وقف دی. (۱)

د اهورا مزدا امرسپنتالان :

د زردشتي مذهب په عقیده د ټولو ارباب الانواعو مشر اهورامزدا (چې وروسته اورمزد شو) دی. دغه بیا د ځان له پاره شپږ مرسپنتالان پیدا کړل چې د (امیشه سپینته Amesha spenta ـ تل ژوندی کاری) په نامه یادل شو. د دوی نومونه دادي:

۱ـ وهومنا Vahumana ـ د ښه فکر خاوند» (۲). دغه کلمه وروسته په «بهمن» واوښته.

۲ـ اشه وهشته Ashavahista ښه انتظام» وروسته اردي ـ بهشت جوړ شو.

۳ـ خشاتره وریه Xshathravarea ) لایق قوت» وروسته ورله شهریور جوړ شو.

۴ ـ سپنته ارماتي ( Armati ) ـ سپېڅلی اندازه» وروسته ورته اسفندرماد جوړ شو.

۵ـ هور واتات Haurvatat ـ روغتیا» وروسته ورته خرداد جوړ شو.

---

۱ـ «د افغانستان تاریخ» اومړی ټوک ۳۰ مخ

۲ـ «وهو» د ښه» او «منا» د «منل» په ریښه کې هغه چې د «فکر» معنا لري.

٦- امرتات Amartat یې مرګي» و روسته ورنه مرداد جوړشو.

دغه نومونه شپږ چې دغوی مفاهیمو او مسما په مجردو معنا ودلالت کاوه، دا ایښې ښيي دې چې ددغو مفاهیمو سکولاسټیک تجرید د زردښتي و روسته و کاهنانو دکار نتیجه ده. لومړی دغه ارباب الانواع پښتي تاکلي او کانکریت موجودات وو چې د طبیعت د بېلو بېلو قوتو نو تصویر او ترسیم و رکي او دوی هم تاکلې وظیفې لرلې: واهو من رسۍ او بادي اداره کولې، اشه و اهیشتوا ور، خشاتره وریه - فلزونه، سپنته ارما تي زمکه، ها وروا تات - اوبه او امرتات ترګو- دي اداره کول.

ددغو شپږو مرستیا لانو دلاس لاندې بیا یوه بله ډله وه چې د «یزت» په نامه یاده شوه چې بیا وروسته په «ایزد» واوښته او معنا یې «د نمانځنې وړ» ده . یوناني مورخ پلو تارخ ویل چې زردښتیان د ځلور ویشتو یزتانو نمانځنه کوي. خو په اویستا کې ددغوی شمېر سلګونو بلکې زرګونوته رسیږي. په دې باب ددیو ګین Diogen (میلادي دریمه پېړۍ) روایت سم ښکاري چې وایي: زردښتان ټوله فضاد ارواحو ستوګنځی بولي. د زردښتي مذهب یزتان په روحاني او جسماني دوو ګروپونو بشل شوي وو. د روحاني دلې مشرا هورا مزدادی (چې تر ټولو لوی یزت دی) .

ددویمې دلې مشر (آتر - اور) دی چې دا هورا مزدا زوی دی او د زردښتي کالېزدهري میاشتې نهمه ورځ او هره نهمه میاشت ددلرم له ۲۰ نه دلېندی تر ۲۲ پورې» هغه ته وقفه او هغه په نامه نمانځل کېده. (۱)

---

۱- «د پارسي - تاجکي ادب تاریخ» (۳۶-۳۷) مخونه او (۳۷) مخ

په اوېستا کې (اور) د (اتر ـ Atar ، اتر Atur )
او په پهلوي کې د (اتور Athur ) په فورمو (۱) چې (اور) له همدې
غې کلمې سره نژدې اړې لري .

په اوېستا کې د هغو پنځو فورمو بیان شوی دی چې په هغو
کې اور ځای لري:

۱ـ برزیستاو ( Barzisav ) په ډېره لوړه فضا کې ». ۲ ـ
واهوفریان ( Vahufryan ) هغه مېلا یعنې تود وخت چې بدن ته ژوند
بخښي». ۳ـ اورواز یشتا ( Urvazishta ) هغه اور چې په ونو کې
پټ دی ». ۴ـ وازیشتا وره ( Varra ) د تالندې او بریښنا اور».
۵ـ سپېنیشته ( Spenishta ) هغه اور چې د اهورامزد ا مخه په آسمان
کې له مخه روان وي » .

اورد (هوارنه Varna) په هغه چې وررو ستره ورنه (فر ـ Farr )
(۱) جوړ شوی چې معنا یې په «سېتر توب»، «ویاړ»، «روا کېدنې» او
«قوت» شوې ده. او اصل کلمه یې (خور ـ Xvar )ـ نمر دی. خو په
اوېستا کې د کومې رب النوع نوم دی چې لکه د باز، په اوبا کوم بل
ژوي په بڼه د واکمنو، کاهنانو، د جګړې د اتلانو سره ملګری وي
چې بیا و روسته د نمر دوړانګو نوم ندی په ځینو تقاشیو کې تر سیم
شوی دی . (۲)

---

۱ـ فرهنګ نامهای اوېستا یې لومړی ټوک لومړی مخ
۲ـ د بغلان د سره کوتل په کتیبه کې هم (فر) د (اور) په معنا راغلی
تفصیل یې د (۹۴) کال د کابل مجلې په ځلورمه ګڼه کې شته .
۳ـ د پارسي ـ تاجیکي ادب تاریخ» (۳۷) مخ

۱ (AB ـ اوبه): د غه یزت د هرې میاشتې د لسمې ورځې او د هر کال د لسمې میاشتې څارنه کوي. د دغه یزت سره اسما نيسيند (اردـویسورا) (Ardvisura) اناهیتا رابط لري چې د ځمکې پرمخ د سیوو پالنه ور په غاړه ده .

هواخوشیته (yuay xshayta) اوږ انګن نمر). دغه یزت داهورا مزدا سترګه او په عین حال کې د میترا سترګه ګڼل کیده . (تشترا Tishtra ) د څکاش ستر ګه: دغه یزد دوه ظیفه لرله چې د هغې وچکالۍ مخه ونیسي چې اپاوشه Apaosha نومي دیو به نازلوله . له تیشترا سره دغه غوی سا ملګري وه چې (درواسپ -( (Drvasp)) نومیده او د ځمکې پرمخ د ټولو څوروژو یوساتنه یې کوله. (۱)

د زردښتي ارباب الانواعو په جمله کې ډېر مهم ځای د رڼا، رښتیا او ... رب النوع میترا درلود. د دغې رب النوع نمانځنه پخوا په ټولوا ... او پاچاهیو کې تقریبا عامه وه، خو د میترا مقام د زردښتي مذهب په تول لومړ حالو کې ... نه و. په ډیره ... عقیده کې میترا اداهورا مزدا سره د همغاړۍ او ... ګونی څوندي و. هخامنشیانو میترا داهورامزدا او اناهیتا سره یوځای په هنګ ... نمانځه . په اوستا کې ګه څه هم هغه ته په ډېر درانده نظر کتل کیږي خو په یوه باشتاکې میترا داهورامزدا په مخکې سرټیټه کوي او له هغه څخه تلژوندي پاتې کیدل او ... مرکې هوارې چې دلته غالبا د آریانی ختیځوا ولو پدیځو اولسو نوي پرولر هوار عقیدو تواثر ... ټلی هوي دي .

---

۱ــ د پارسي ـ تاجکي ادب تاریخ» (۳۷) مخ

په زردشتي عقیده دیوې الې رب النوع (ورتراګنه Vrtragna) نوم چې وروسته (بهرام) شو هم د یادونې وړ دی. دورتراګنه (بهرام) تحت اللفظي معنا د تورو وریځو په دیو (ورترا) باندې (غالب فاتح) بهرام دی دا د رعد او بریښنا هغه رب النوع چې په تورو وریځو د پټ شوي اسمان ننه هغه وریځې شړي چې د خلکو نه یې د نمر برکت لرونکې رڼا او تودوخې مخه نیوله. دغه رب النوع د دغو تورو وریځو نازلونکې د یو د بریښنا په مترو ګډوهې هغه وژنې او د ځمکې مخ ته رڼا را پریږدي (۱)

له یزتانو څخه یوه بله طبقه هم وه چې فروه شه (Fravasha ـ ساتونکي) نومیده. د زردشتي مذهب له مخې دا یو د ولو ارواح وو چې د هر وګړي سره ملګري وو. ترڅو چې لا زیږیدلی به نه و د هغه سره هم د مور په نس کې ملګري وا و پس له هغه هم د نړ و شو و شیر له حده وتلي و لرغوني مؤرخ دیو ګین وایي د یې شمیر وار واحوله خوا د انسان احاطه د زردشتي مذهب عقیدې له خوا صورت څه ده (۲)

تر دغه ځایه چې د هور له ښو ل تول هغه دیو چلي قوتونه وو چې مشر یې اهورامزدا و. د دغو قوتونو په مقابل کې زردشتي مذهب د تورو او ضرر رسوونکو قوتونو لوی لښکر هم لري چې مشر یې انګرمن (اهریمن) دی.

انګرمن او د هغه د لښکر همیشه په دې تلاش کې وي چې د اهورامزدا د لې ته ضرر ور سوي. همیشه دروغ وایي، زور یې ډېر زیات دی خو اهورا یې مخه نیسي او مغلوب یې. انګرمن د دیوانو لوی لښکر لري چې له شمیره وتلي دي خو مشران یې شپږ دي چې د (امیشه سپنتا او) په مقابل کې دي، هغه دا دي:

---

(د پارسي تاریخ ادبیاتو ۳۸ مخ)

(اکه منه Akamana ـ بدانډی، ناوړه فکري) دا د یو د (واهوامنه ښه اندي، ښه فکري)، رب النوع په مقابل کې دی . دوه نور دیوان چې (تاوروي Tauvarvi ـ مړاوی) او (زریک Zarik زړونکی یا مړونه) نومېږي (دهاوروا تات) او (امرتات) ارباب الانواعو په مقابل کې دي. ده دا انګرمن د لښکر یو ستر دیو (ای شمه Aestima) نومېږي چې د غضب او د شهوت دیو دی . دغه دیو د خلکو تر منځه غضب او قهر پیدا کوي او دوی سره په جنګ اچوي.

په زردشتي مذهب کې چې کوم فصل د بد او ناوړه ګڼل شوی هغه فصل د کوم دیو په نامه مجسم شوی لکه: (ارسکه Araska د کینې او حسد) دیو، (اوده ـ Uda ـ د چټي خبرو او عیبونو ویناو) دیو (اکه تا شه یاسته Akatashiysta ـ د بېځایه کنجکاوی) دیو. (بوشیا نسته Bushiyansta د لټۍ او تنبلۍ) دیو، د بخیلۍ دیو، د د ایاد چارو د لالهانديوا و سرګردانو دیوا و داسې نور .

د دیوانو سره د خوی د ناوړه افکارو په عملي کولو کې څومره نور دېر په موجودات سرسته کوي چې هغه ښه لري او (د روج ـ دروغ) نومېږي

په زردشتي عقیده (ناسو ـ Nasu) یو د بوه ده چې د ناروغیو د خورولو وظیفه لري. په دغه عقیده کله چې ساله بدنه وخوږي په هماـ غه شېبه ناسو په مړه تنه کښېني. کله چې ژوندی مړی ته ور نژدې کیږي ناسو کولای شي هغه ته د مړي ناروغي یا حتی مرګ ور انتقال کړي. ناسو د سپي د ستر ګو په مخکې نه شي تېرېدلای نو ځکه په زردـ شتي مذهب کې دادو د وچې مړي ته به یې سپی ور ووست او مړی به یې د سپي د نظر لاندې ساته. په مړي باندې د ټولو مراسمو په سر کې دغه دود او رسم په ځای کېده. او بیا به نور دودونه اجرا کیدل. (۱)

---

۱ـ د پارسي ـ تاجیکي ادب تاریخ) (۲۹) مخ

دزردشتي مذهب دناوړه اوخبیثه قوتو نوپه جمله کی پری هم شامل دی چی په اویستا کی د (پریکه) او پهلو روسته د (پری ، پری - Peri,Pari ) په نامه یاد شوی دی. دغه قوتو نه دپیرو ښکلو فتنه گرو ښځو په څیره کی مجسم دی. کله چی سړی مفتون کړی نو بیا یی وژنی اوبایی داهور امزدانه لری کوی. داویستا په څیږنو بر خوکی راغلی دی. په (کرساسپ Krsasp ) نومی اتل باندی (هنا نسا تړ) نومی پری اوسو نو کړاو هغه یی په دامی ژورخوب ویده کړچی یوا زی دقیامت په ورځ بیدو یښ شی. (۱)

تر دغه ځایه دزرد شتي مذهب په عقیدو باندی څه ر ناوا چوله شوه . هرڅنگه چی له ژوبو سره ر وابط په ز ر دشتی عقاید وکی ژور ځای لری. نودلته را تلو نکی بر خه کی په دی باب هم لیږه څه ر نا چوله کوو ی .

---

۱- «دپارسی- تاجیکی ادب تا ر یخ » ۱۹ مخ

دریمه برخه:

# دژویو سره دزردشتیزم رابطه د(البرز) او (واوروکش) په باب نظر

دباختر په خاوره کی زردشتی عقیده پیدا سی هرا یطوکی پیدا ـ شوه چی ذمیمی خلکو کروندی ته مخه کری وه ، زیات ژوی اهلی شوی وو او دکوچ او لیږ د ژوند په څنګ کی کلیو الی ژو ندمخ په پرا ـ ختیا و. زردشتی مذهب کروندی اود زمکی ابادی ته خلك زیات تشو ـ یقول او هغه یی دنیك عمل یومهم جز گانه. ژو یوته هم زردشتی مذهب په خاص نظر کتلی . هغه ژوی چی د انسان له پاره مفید او گټور دو لکه غوایی، خر، سپی، چرگ او نور هغه یی داهورامزدا پیداوار و بلل او دهغو دپالنی او ساتنی لاربنوونه یی کوله . ضرر رسوونکی ژوی لکه لیوه مار، لړم ، مچ او نور یی دانگرمن (اهریمن) پیداوار او لښکر وبلل او دهغوو ژل یی په کار وگانه. او په دغه دول د ژوو سره زردشتیا ـ نو خاصه رابطه ټینگه کړه .

دنړۍ، ژوبوا وترکوږدو (بوټو) د پیدایښت په باره کې زردشتي عقیده: په زردشتي عقیده اهورامزدا د دولس زره کلونو په جریان کې نړۍ پیدا کړه. په لومړیو دریو زره کلونو کې یې ازلي او لاهوتي نړۍ جوړه کړه بیا اهریمن راڅرګند شو خو په روحاني ورانګو کې ورک شو. اهورامزده اور ته د سولې بلنه ورکړه، خو اهریمن ونه منله. په ورپسې دریو زرو کلونو کې اهورامزدا مادي نړۍ پیدا کړه. لومړی اسمان بیا اوبه، زمکه، ترکوږدي او ژوي او له ټولو وروسته وګړي.

اهریمن په دغه وخت کې خپل لښکر یعنې دیوان او شیطان اروح پیدا کوي چې د خپو توتونو سره په مبارزه کې د هغه ملاتړ وکړي.

په ورپسې دریو زره کلونو کې اهریمن د خپل لښکر سره د اهورا-مزدا نړۍ ته راووځي او د هغه له خوا مؤظف مار (اژی) لومړی انسان ګیومرث او د هغه پټیالي ملګري (غويي) ووژني، خو د دوی تخم د زمکې په مخ پاتې کېږي او له هغه څخه د نړۍ په مخ ټول وګړي او ګټور ژوي پیدا کېږي، د اهورامزدا او د اهریمن ترمنځه سخته جګړه کېږي. اهو-رامزدا بریالی کېږي او اهریمن د خپل لښکر سره د زمکې لاندې تورو ته تښتي.

وروستي دری زره کلونه د زردشت د زیږېدنې او د هغه د مذهب د ظهور سره پیل کېږي. زردشت وژل کېږي او دری زامن یې له مرګه وروسته زیږي چې یو یې د کاهنانو، بل یې د جنګیالیو او بل یې د کر-وندګرو نیکه دی.

د وروستیو دری زرو کلونو په جریان کې به د بدو ټینګښتو او تورو قوتونو ترمنځه وروستۍ جګړه پېښه شي او هغوی به خود زمکې له مخ ورکې

هوی‌سوزوونکی زیر (برنج) تویږی‌اوزمکه ، غرونه اودزمکی‌لاندی دوزخ اوراخلی اوهرڅه لمبه کیږی . دزر دشت‌نمسی‌سا وشیا نت Saoshyant ، یی‌شوی نری‌ته‌بیاژ وندور کوی اوداینی ژوند پیل‌کیږی . ددوزخ‌نه‌تول گناهکاران خوشی‌شول خونه‌بی هرکولای چی‌له‌اسمانی پله‌چینوات - Cinvat (۱ هغه‌تیر شی‌اوددوزخ کندی ته‌بیرته ورجوی شول . (۱)

داده دکائنا تود خلقت په‌باب زردشتی عقیده لکه د مخه چی و - ویل شول .

زردشتی مذهب‌دژوبو سره خاصه رابطه لرله . البته د زر دشتی مذهب دظهور ز اوخبیدو ئملادپر پخوا ادلرغو نو اریایا نوسره د انسان دپیدا ښت په‌باب د (توتمیز م : له‌ژوبو هغه دخول پیدا - ښت) عقیده موجوده‌ده همدغی عقیدی له‌مخی دختیخوا ریایا نوبه - ایلو پیلو قبیا بلوکی داس ، غوایی ، چرگ ، خره او دختیخ‌وداسی نوروژبو نوما لخنه معمول له وه .

همدغی عقیدی په اوپستا کی هم انعکاس‌موندلی . (۳)

په‌اوپستا کی ژوی عموما په‌دوودلوویشل شول :

الف : انسا ن ته‌گټه رسو ونکی ژ و ی چی دااهو ر امزدامخلوق او لیکرو بلل شو .

(۱) - دپارسی تاجیکی ادب‌تاریخ (۲۹-۳۰) مخونه

۲ - دچینو اد (Cinvad) په‌نورم هم‌راغلی‌دی وگوری‌د (تا - جیکی‌او لسی ادب تا ر یخ شخه ( ۱۸۱ ) مخ

۳- (دتا جیکی‌اولسی‌نظم‌له تاریخ شخه ) (۲ ه - ۵۳) مخونه

ب : زیان رسوونکي ژوي چې د اهریمن مخلوق او د لوی
گناه ده .

د اوېستا په یسنا ( ۱۱-۱ برخه ) کې اسپ ( ربښتني لیکوال )
په نامه یاد شوی دی . په بل عبارت اسپ د پور پښتنو لیکوالانو
( اس ، غوبی هوما ـ ترایو هایتوم آهاو انوکوشتپه ، اسپاسپه ،
هوماسپه ) له دلې شمېرل شوی دی .

د گوبکو ـ باختر د وری پههري اثار وکي د ( سویهلي اسن )
ترسوم شاپي د همدغې عقیدې له مخې وي .

البته په همدغه وخت کې په نورو ختیځو اریایي قبایلو کې هم
اس ته په ډېره درنه سترگه کتل کېدل . هیرو دوت د مسساـ
گیتو ( لویو ساکو ) په باب لیکي : هغوی یوازې د لمر عبادت
کوي او هغه ته اسونه قربان کوي . د دغې قرباني معنا دا ده :
له ټولو ارباب الانواعو څخه هور ا گړندی ته بې د ټولو ژوو څخه را
گړندی قرباني کوي . ( ۲ )

په اوېستا کې غوايي ته هم په ډېر درانده نظر کتل شوي دي .
په اریايي خاوره کې لا هغه وخت د غوایي لمانځنه او درناوی
معمول وچې اریايي قبایل د کرنې او زراعت سره اشنا شوي وو
ډېرې لرغونې دامې وسلې موندل شوي چې غواوې باد هغه ښکرو
نه ور باندې رسم دی له کومه وخته چې د ژوند د تېر ولو وسیله
کرنه او شپه شوه او د کرنې تکالیف د غوایي په اوږو واچول
شو غوایي ته اریايي قومونو کې په درانده سترگه کتل شوي

(۲) ( د تاجیکی اولس نظم له تاریخ څخه ) ( ۶۰ ) مخ

او په نولکالوري روایاتو کې «د نړۍ د غوایي په ښکر دریدلې ده ».

د هکوټیا نو ساکو په باب څېړنې مو رخین وایي چې په دوی کې د غه دود تر ډېر وخته موجود وو چې : ( کله به چې کوم غوایي یا غوا قرباني شوه د هغه په څرمن به هغه څوك کښېناست چې دوبنې دېورد هیڅ اخیستلو په باب به یې له تو انې څخه مرسته غوښتله د تو انې غړي مجبور وو چې کسات اخیستلو ته لاره کې د هغه ملاتړ وکړي. څکه چې دد وی په عقیده مظلوم یا کسات غوښتونکی به موښلی سترخیز ته پناوړی وه . ( ۱ )

په اوستا کې غوایي په ډېرد رناوی سره ستایل شوی دی او لکه چې پورته وښول شوه له «د ریور ښتنو نیکو کارانو » څخه شمېرل شوی دی . دار غوا او اریا ایا نود او تیم وزم د منکو ری څرك په او یستا کې د غوایي په څیره کې ښه څرګند دی : په مینو څر اد Menoixrad کې د ( غوی وزمه انسان ، یا غوبي شاه ) په باب ویل کیږي :

غوی شاه ( گوپات شاه Gopatshah د اریانا ویجورد ودانې ځمکې په هوا نور امس یر خه کې ژوند کوي او هغه د پښو له لوکا نوه څخه تر لیمایي تنې پوري غوایي دی او له نیمایي تنې څخه د سر د غوږی پو ري انسان دی هغه داو تو په څاړه ناستی او دارباب الا نواعو په عبادت بوخت دی . ( ۲ )

دا ویستا په بوه بله برخه کې دهمد غسی غوايي (خده یاو شه Xadayosha) په باب ویل کیږي چې د قیامت په ورځ د هغه له وازده

---

۱ ـ د تاجیکي اولسي انظم له تاریخ څخه ( ۵۶ ) مخ
۲ ـ ، ، ، ( ۵۴ )

وچه اسماني خواړه تيار يږي . دده پاوشه د کوه پاسه شاه څارنه کوي او د (وو رو کش) ډنډ ساتي .

په زردشتي عقيده کرجوړ (کرګس) هم سپېڅلی مرغه ګڼل کېده چې د زردشتیانو د مړو غوښې یې خوراك وي . په دغه عقیده زمکه ، اوبه او اور پاك او سپېڅلي وو ، باید له چټلۍ څخه ساتل شوي وي . د مړي جسد په خاص ډول ناپاك ګڼل کېده ، په زمکه کې دفنول، په اوبو کې اچول او په اور کې سوزول ګناه وه . د . مړود خو ندي کولوله پاره يې په يوه مخصوص ډګر کې يو مخصوص برج جوړ کړی وچې (دخمه Daxma ) نومېده . مړي به يې په دغه برج کې ايښودل . ګڼه به چې دغو مرغانو ورته تولې غوښې وخوړې او تش اسکلېټ به پاتې شو هغه به يې د برج په لاندينې برخه کې واچاوه او يا به يې په يوه ډبرين صندوق کې ځايول.

د منځنۍ آسيا په ډېرو سيمو کې دغسې ډبرين صندوقونه موندل شوي چې هغې خاص نقش او انځور لري ، په هغو د ستورو سيمبولونه رسم شوي چې په صندوق کې د اسکلېټ داچولو نښه ښيي.

(په زردشتي عقيده د مړي پسې په زوره ژړل او ساندې ويل ګناه وه) ددوی په عقيده زمکه او اور دومره پاك وو چې په زمکه پښې ابله ګرځېدل او اورته نږدې سر پرېښول ګناه ګڼل کېده . (۱)

په اوستا کې دخره ستاينه هم د پاملرنې وړده دغه په باره کې وايي : ووروکش Vaurukosha نومي د ډنډ او يو په منځ کې يو خر ولاړ دی چې درې پښې لري . ګڼه چې اوبو له سرښکته

---

۱ - د فارسي - تاجيکي ادب تاريخ (۳۸-۴۱) مخونه

کړی توپان پیداشی، ګله چې په او بوکی ومیسیږی دټولی نړی او به پاکی اوسوچه‌شی . دغه خرشپوتین نظره ستر ګی اودسر وزروښکرو نه لری. په دغو ښکرو نود نړی ټول مضر موجودات وهی . دغه خرچی ګله وناری دنړی په سخ ټول ګټور ښځینه ژوی حمل اخلی اوټول مضرښځینه ژوی بچی اچوی . (۱)

البته دیوه افسانوی خره په باب دا افسانه کیدای شی دعادی خروپه باب دزردشتی نظر کیفیت او ځرنګوالی وی . دبشر د لرغونی انیمیزم (Animizm هر څه ژوندی اوسالرونکی ګڼل) عقیدی په زردشتی مذهب کی د فرا و ا شی Fravashi (۲) په نامه بل‌شان پراختیا موندلی‌وه . داو یستا یوه برخه (فراورتین- یشتا) دهمدغی عقیدی په باب ده . هلته ویل کیږی چی لازمه ده دژویو دساګا نونما ځنه وشی . که هغه کورنی وی ، که وحشی وی ، په‌وچه کی‌وی که په اوبوکی وی که الوتونکی وی چی په ازدا نه دول دمیتر اله خواپوول کیږی چی دی دپراخوور شوګانو هاوند دی .

د او یستا په ځینو پخوا نیو برخوکی د مار انو، لړمانو، مچانو، میږیانو او نورو ضررسوونکو ژویوچی‌دخرفستر Khorafstara په نامه یاد شوی‌دی (۳) دهغوپه جمله کی داهریمن له‌لوری څخه لیوه بلل شوی دی . په مقابل کی‌یی سپی د پرشتابل شوی دی او ددی سوب دادی چی داو یستا په لومړ یوبرخوکی‌د کروندی

---

۱ - دپا رسی-تاجیکی، ادب اریخ ۲۸ مخ

۲- بحث یی په‌لمړه برخه کی تیرشو .

۳- فرهنګ نامهای او یستا جلداول ۴۹۳ مخ

او د ځمکو د ابادولو په هکله کې د ښارو بو او مالونو او په تېره بیا د غواوو د پاله په ساتنه امر شوی دی . د ښار وال شور ول سخته ګناه بلل شوې او هغو کوچیانو ته د بر بد وېل شوي چې ښاروي په بې وهلو او ځوروول او د مالونو او ښپنو د ښمن واوسي د هوسا تونکي و.

د ښځو ژوندو ژلو ګناه دومره درنه بلل کېده چې د هغې کفاره له وسې او طاقته څخه وه .

مثلا : په اوېستا کې د سګلاوو (چې د مار انو ښمن دی ) وژل ګناه وه. د اوېستا د (وېندېداد ) متن وايي :

څوک چې سګلاوو وژني ځای به يې دوزخ وي ، ميراث به شي ، د ده توبه به قبوله نه شي . مګر په دې شرط به قبوله شي چې په دغه ډول مجازات شي : په رسمي دروالس زره ځله ووهل شي ، لس زره ځله به اغزلو لښتو ووهل شي . « سپېڅلي اور » ته لس زره ګېډۍ وچ لرګي او لس زره ماران، لس زره ګېډۍ د سنډل لرګي د ورو بې لس زره د برسمن (۱) ګېډۍ لس زره قرباني وکړي، لس زره ماران لس زره چرمبکي لس زره شلاندې ، لس زره د وچې چونګښې

---

۱ ـ برسمن د سپېڅلو نو غوندې بوټي کوډي چې د اور د عبادت په وخت کې به يې لوګي کاوه

محش ـ پور داو په (ادبيات مزد يسنا ) ۵۵۶ مخ کې د (ونو پرې کړې ښاخونه) په معنا اخيستي .

فارسي قاموسونو برسم د غو ونو او انارګوسو د پرې کړ و ښانګو په معنی اخيستی مثلا وګوري فرهنګ عميد .

لس زره داو بوچونکښې، لس زره مېږي، او لس زره بچان ووژني د وسره
مجازات هم د توبې له پاره کافي نه وو د دغو ټولو له پاسه د هکلاوو
وژونکي باید کاهنانو ته هرڅه ورکړي چې د عبادت د چارو له پاره
لازم وي . څنګه اوبه او سله او کړوند ګروته د کروندې لازم
سامان ور کړي . (۱)

افسانوي ژوي :

په لرغونو او پاڼي لوګمونو کې دا نسان وزمه ژوي، الوتونکي،
ځناور او ، نیم ژوا ندوا و نو رو افسانوي ژویو په باب زیات روا-
یتونه موجود دي . د شو افسانوي روایتونو د اوستا په بیلو بیلو
برخو په تیر ه بیا په ( میډوی خراد ) کې په مفصل ډول انعکاس
موندلی دی .

په یسنا کې دغه مېږهلي شره متاینه کېږي چې د واورو کښې په
ډنډکي ولاړ دی : د(وامو) نومې عجیب کب چې بېشموس او خونه
لري یاد ونه شو یده په (رشن) یسنا کې د ګورېزانو د وني یاد-
ونه کېږي چې د واوروکښ په ډنډ کې ولاړه او د ټولو ناروغیو د ر-
مل ده . د هې وني ته د ټولو بوټو تخمونه او داني ورکړي .

دهغه غرغرر رسونکو افسانوي موجوداتو په مقابل کې چې د ا-
هورامزدا پېداوار بلل شوي زیان رسوونکي افسانوي موجودات
هم شته چې نسبت یې انګرمن (اهریمن) ته شوی دی لکه اژي (یا اژي
دهاك)، ګندروا( Gandarva )سرووار( Sruvar )او دا
سې نور د او ارن چا ماران .

۱ -(دفارسي تاجیکي اذب، تاریخ) ۲۳ مخ همدارنګه په لوړ پور
مره فرهنګ نامهای اوستا جلد اول ۲۹۵ مخ

په مینوی خراد کې د همدا انسانونو موجودات داسې مثال شوي دي: هوما (چې له مرګه وګړی ژغوري) دواورو ګش په ژور ډنډ کې زرغونه شوی، کره (Kara) نومی کب تل تر تله دغې دچا- پیریال ښارنه ګوی او ښلاندی، چوالکهی او اورخور رسوولکی ژوی نه ورېر بیودی .

خوی شاه (ګوپت شاه) د هوا پیراس په اربالا ورېرو کی دی. دی د پیوونه د نیمایی تنی پورې غوئی دی او دانیمایی تنی ای له مرد ګواری پورې انسان . د مینوی خراد د پازند په پوره متن کې ویل کیږي: سینه مورو (سیمرغ) په پوره داسې وونه کې ژوند کوی چې دا لی لی درې بدی درمل دی. کله چې مرغه ورو هوټه په ونه کې پر ګوټو ښاخکی وتو کیږي. کله چې مرغه ورکی کښیني پر ګوټو ښاخکی ماتی کړی او دغو دانی وشندی. همروش لوڼی مرغه هغه تولی دانی چې دپدیو درمل دی راټولی کړی او په هغه ځای کی یې وا چوی چې هلته تیشتر له دغه تولو دا او سره او به شپې او پورته یې دیا راڅ په ټولو ګه په تولو نړی وروي. د دغسې انسانونو ژوبو په باب دپرو روایتونو د لرغو- نی یونان د مؤرخینو په روایاتو کې هم مثال شوی دی.

هیرودوت په روایت په لرغونو ساکو کی داسې انسانانه موجود وه چې ویل یې لو مړی انسان نیمایی جسه او نیمایی مارو. (کلیزی کیندی) د هندي عجیبو ښنا ورو په باب د یوی افسانی روایت کوی چې وایي: د هند په غرونو کې یو ډول ځناورښکلی خر ژوند کوی چې داسې له هم لوی دی. تک سپین دی هو سرېی سوردی، په تندی کی یې یو تیره ښکر ښله مخکښی پښې یې پری او پردی دی چې لاندنی پښې یې رنګ یې سپینه،

پښې لري تور او پاس سور دي. دا يو ډېر زيات کړندی او خېټلی ژوی دی چې نه اس ورته رسېدای شي او نه يې نور کړندي ځناور نيولای شي. ځان له خطره د ښکر، د اېوا او لغتو په ذريعه ساتي. هغه تر اوسه ډېرو-کړي او ډېر اسونه وژلي دي .

همدغه مورخ هم له ته ديوه بل ځناور يادونه کوي؛ په هند کې يو ډېر زورور او تر ټولو ژويو ټوي زمري شته چې رنګ يې سور دی. په داسې وژغنو پېټ دي لکه اېرسي. هنديان ورته مرتي خوروس (سړي خور) وايي. سر يې د نورو ځناورو سر ته ورته نه دی، بلکې سر يې د انسان دی منګولې يې د زمري دي او په لکۍ کې يې داسې لښکې دي لکه د لړم.

د دغسې افسانوي ژويو په باب نور ارغوني راويان هم زيات روايتونه لري. مثلاً دقبل الميلاد دريمې پېړۍ يو تن عجايب ليکونکي (پره دوکسه ګراف) فيلون هراليک ( Filonheralik ) د ښاکو په هيواد ښکيتيا (سکيتيا) کې د ښکرورو خرو د موجوديت روايت کوي. ستر ابوه د ميګافين Megafen په حواله وايي چې په پامير کې داسې خره شته چې يو يو ښکر لري او سرونه يې د غره ښو دي.

بل تن کلاوديا ايليين (د ژويو په باب) نومي خپل کتاب کې د ښاکو په هيواد کې ديوه داسې ژوي افسانه ليکلې چې: (د خپلو ورو يو په ځای بد ليږي او په زرګونو داسې پلو پلو رنګونو اوړي چې سترګې ير ښوی . ښا او لويوالی له مخې خوږي ته ورته دی.)

ديوه بل افسانوي ژوي ګريف (پو افسانوي ژوي چې سر يې د ګوربت او تنه يې د زمري ده) په باره کې هېرودوت ليکلي وو : ( د غه بلا په لري شمال کې ژوند کوي او د سرو زرو خزانې ساتي. ښوو بل

کړې دی ارېموسپ نومې خلک چې هر يو يې د يوې سترګې خاوند دی له ګريفانو څخه د غه خزانې غلا کوي .))

کتېسی وايي:(( ګريف يو ځناور دی، منګولې يې د زمري دي، خو وزرونه لري ، مخکښې برخه يې سره ده او وزرونه يې سپين دي شاپې ـ نيلي رنګ لري ، سر او مخ کښې يې د ګور بت ده ، ځاله په غره کې جوړوي خو ژوندی يې په دښتو کې دی چې هلته سره زر ماتيږي .))

رومي جغرافيه پوه (پومپونيوس ميله) چې په قبل الميلاد لومړۍ پېړۍ کې ژوندی و د دغې اريايي افسانې په باب وايي:(( ګريف يو ظالم او ډېر سخت ځناور دی د ځمکې له ژور تل څخه د را ايستل شويو سرو زرو ساتنې ته زيا ته مينه لري او هر څوک چې ور ته نږدې شي سخت يرغل پرې کوي .))

د ګريف افسانه يوه اريايي افسانه ده چې د لرغوني يونان او روم د پخوانيو روايا تو په آثارو کې ساتل شوې ده . د اريايي ځاورې په ځينو سيمو مثلا د ګريکو باختر او منځنۍ اسيا د نورو سيمو په لرغونو آثارو په منځ پاتو کې د دغه ډول ځناور رسمونه موندل شوي دي . (۱)

د دغه افسانه اوس هم په دې شکل موجوده ده چې وايي . (( په خزانه باندې ښامار پروت وي ))د غسې لرغوني افسانې په ختيځ وار اوېستا ته هم ننوتې دي او هلته په مذهبي روايا توکې ساتل شوې دي . په اوستا کې نه يوازې د دغه افسانوي ژوي په عينو ی ډول يادشوي دي ، بلکې ډېر ځله د هغوی مکان او نور شرايط هم هلته افسانوي رنګ لري .

يوه له د غو سيمو څخه د (فاوروکش) ډنډ دی چې مخکې د څو افسانوي ژويو ځای ښوول شوی او د لته لږ ه زيا پرې اچول کېږي .

ـــــــــــ

۱ـ) د تاجيکي اوسني نظم له تاريخ څخه (۹۹ مخ)

## واوروکش ډنډ، د البرز غر :

په دې برخه کې وغوړول شوه چې په اوستا کې ټول ضبط شوي جغرافیوي نومونه په ختیځ اریایي خاوره او په تیره بیا زموږ د هیواد د لرغونو سیمو پورې اړه لري. (د واوروکش) یا (وورو کش) ډنډ هم باید دلته په لرغوني افغانستان کې ولټول شي، د غه ډنډ چې د زردشتي عصر د روحیې سره سم افسانوي صفات لري زما په خیال هغه د اوسني (بند امیر) دی چې د غره (واوروکش) ته یې نسبت شوی دی. د (بند امیر) نسبت اوس هم په افسانوي ډول له حضرت علي (کرم) ته کیږي او دغه په باب اوس هم ډیري افساني اوریدل کیږي. د اوستا په پورته برخو کې هم په افسانوي صفاتو یاد شوی دی.

د اوستا په دوه برخه (بونداهشن _ د پارسم پار کي) کې ویل کیږي. (د وروکش ډنډ د البرز د غره په جنوب کې واقع او د ځمکې د مخ دریمه برخه یې نیولې ده ډیر ژور ډیر ښکلی او ډیري اوبه لري (۱) دلته باید د البرز غر ولټول شي.

## د البرز غر:

ځینې محققین چې د زردشت او اوستا ټاټوبی په غلطه سره د اوسني ایران په خاوره کې ګڼي د دوی د دغې فتوا پوهتر علت دا هم دی چې دوی د (البرز) په نامه غر (چې په اوستا کې د هرابرزایتي Harabarzaiti - په نامه راغلی) په معاصر ایران کې پیژانده خو د زردشت د ځول ټاټوبی د (بلخ) په سیمه کې په دغه نامه له هر څه نه ښوره دو.

(۱) (د تاجیکي اولسي نظم له تاریخ څخه) لمړی ټوک ۲۰ مخ

دلته د(البرز) دغره په باب څه رڼا اچوو چی د غه تا ریخی اشتباه لری شی .

داویستا (هرابرزا یتی) چی په منځنۍ پارسی کی د ( هرابرز- (Haraborz) او (هرابورس=( Harabors ) په غرونو راغلی دی له دوو برخوجوړ دی: (هرا-غر) او (برزایتی، برز-بر، لوړ) . دمرکبی کلمی معنا (لوړغر) ده .

د(البرز) په نامه هم په افغانستان او هم په ایران کی دوه بیل بیل غرونه شته چی هغه دادی :

۱- په ایران کی د البرز په نامه یوه لړی غر و نه دی چی د کسپین تیټی ځمکی د ایران له لوړوځمکو جلا کوی او په پرله پسی توگه د کسپین د سمندرگی له لو یدیځی غاړی څخه د ایران دخراسان تر شمال ختیځه پوری غځیدلی چی ۱۰۴۸ کیلو متره اوږ دوالی لری.

۲-دافغانستان البرز : دلته دالبرز په نامه دغره لړی د بلخ دزاړه ښار دجنوب په (۳۱ر٥) اکیلو متری کی شرقا او غربا غځیدلی دی او دبلخ سیند چی له (بندامیر) څخه سرچینه اخلی د دغه غره په ختیځ کی تیریږی او دالبرز غر د شاد یانو له غره څخه جلا کوی دد غه غره لوړ والی چی د بلخ له او اروزمکو څخه پیل شوی دی اعظمی ارتفا ع یی ۱۳۱۹ متره ده .

دالبرز غر د لویدیځ هندوکش یو ښاخ دی چی دهغه په شمالی ښځی ورومتنی برخه کی واقع دی ....

دغه غر په (ایبان یشت) - ۳ ۰ ۳ باړ کی کی په دا سی صفت یاد شوی دی چی (کاوه یوسا -کیگاوس) دهغه له پاسه قربانی کړی وه او د

هغه له پامه یې (اووه مانی) ودانی کړی وې. دایر ان البرز داویستا د هرابرزایتی سره هیڅ سمون نلری ځکه چې دا یر ان البرز کوم داسی ختیځ موقعیت نه لری چې د اویستا له متونو سره اړخ ولګوی .

همدا ډول چې د دغه موضوع د ثبوت له پاره خپله دیوه ایرانی پوه لیکنی ته ګوته ونیسو: په اویستا کی د البرز غر د هرا او (هره بیرـ یز ایستی) په نومونو څو ځایه یاد شوی دی . په یوه یاد داشت کی راغلی دی :

« زمکی او اسمان ته ښه چاری (درود) استوو ، د مزدا مخلوق کړندی باد ته ښه چاری استوو ، د هراد غره څوکی ته ښه چا ری استوو زمکی او هر ښه او نیک څیز ته ښه چاری استوو . »(۱)

دهرا په باب زردشتی پیرو دیاشتونو مفسر پور داود لیکی:

په یاشتونو کی د هرا د غره یاد و نه شوی ده، چې د غه غر د (هرابرزایتی) په نامه هم یاد شو ی دی . په پهلوی ترجمه کی (هربرز) او په پارسی کی البرز دی نن البرز په ایران کی دیوه مخصوص او لوړ غره نوم دی چې هرچاته معلوم دی . خو په مزدـ یسنا ادبیاتو کی د دغه تاکل له مشکلاتو خالی نه دی .... په رښتـ یشت کی راغلی چې ستو ری سپوږمی او نمر د هرا د غره په څوکه پا ندی تاویږی . . .

ښکاره ده چې د غه غر باید په ختیځ کی وا قع و ی . ځکه چې د مهر یشت په ۱۳ بار کی ویل شوی چې درنا پرښته لومړی نویږد (۲)

---

۱ـ ادبیات مزدیسنا ۱۳۱ مخ

۲ ـ دایزد تشریح د مخه تیره شوی ده .

دغه‌چی د هرا په غره باندی دنمرله‌ر اختاو دمخه په‌تولواریابی هیوادو(خاوره) ځلیږی . . .

په‌مهر یشت‌کی‌د(هرا-البرز) یادونه داسی‌راغلی ده :

«لومړی سپنوینز دچی‌د فنانه منونکی گرندی‌اس نه‌دمخه‌د هراد غره‌له‌پا سه‌راو خیژی لومړی‌هر لکچی‌په‌زر ینو‌پسولونو ښکلی‌شوی دښکلی (غره) نه سر راښکاره کړی. له هغه ځایه‌هغه ډیر ځښتنلی (مهر)تول اریابی تاتو ای‌رنا کړی...»

«هلته‌چی زړورشاهانشی منظمی قواوی‌جوړی کړی ، هلته چی‌لوړ غرونه‌او دغلور بولو له پاره‌پراخه‌ورشو گانی‌موجودی دی ، هلته‌چی‌ژورراو پراخ سیندونه شته، هلته‌چی پراخ سیندونه دپه‌ری‌چلو لوو‌رپه څپاندو څپود برښوا وغرسره تکر ونه‌خوری، د مروی ، هرات‌دسوغد اوخوارزم په‌لوری‌زغلی..» (۱)

په‌دغسی پارکوکی چی‌د(هرا) سره‌د(مروی ، هرات ، سوغداو خوارزم)نومونه‌یو ځای‌ذکردی هیڅ امکان نه‌لری‌چی‌له (هرا-البرز) څخه‌دقفقا زیاایران (البرز) مطلب‌شی .

اوس په‌وگوروچی‌له(واوروکش) یا(وورو کش) نه‌کوم‌ډنډ مطلب‌دی. دغه افسانوی‌ډنډپه (ادبیات‌مزدیسنا) کی‌هرځای (واوروکش) اوپه نوروسا څخونو کی(ووروکش) لیکل‌شوی‌دی.

د بوندا هشن په‌دپارلسم‌پارکی کی‌وایی:«ووروکش‌ډنډ»دالبرز

---

۱-(ادبیات‌مزدیسنا - (۴۲۹ - ۴۳۱) مخونه

په جنوبي پلو کې واقع او د زمکې یوه پېدریو برخوبي نیولي ده» (۱) په دې باب پورداود لیکلي دي :

«فراغ کرات په پهلوي کې د هو سمندر نوم دی چې په اویستا کې واوروکش راغلي دی او مینوخرد (ورکش) ضبط کړی دی . په اساطیروچې کوم سیند به ورته مطلب وي مینو ختیځ پوهانو خزر مینود ارال د ته گڼلي او ځینو دایران د جنوبي سمندرا تکل کړی دی.

دپوندا هشن په ۱۳ فصل کې ویل کېږي چې فراخ کرات د البرز له جنوب څخه بهېږي او د زمکې د ریمه برخه یې نیولې ده . . . . له دې امله چې زر خوړ ونه (رو دونه) لري ، همدا رنگه دار دی او پسو رچونه (غالبا او سنی «چشمه شفا» ) به همدغه ځای کې راخوټېږي ، هر رود مخصوصه بنه لري. ځینې یې دو مره لوی دی چې یو پرآس سپور سړی به ځلويښتو ورځو کې هم له هغه څخه نه شي تا ویدلای ، ځکه چې اطراف یې (۱۷۰۰) فرسنگه دی . (۲)

داته زما عقیده داده چې هیڅ امکان نه لري له (واوروکش) څخه دې کوم سمند رمراد شي بلکې له (واوروکش) یا (وورو کش) څخه مطلب یوازې د (هند و کش) غرد ی چې (دا لبرز) په جنوب کې پروت او (زرر ود د نه ورته بهېږي) په صفت یا د شوی دی.د (هند و کش) کلمې اوس هم د لرغوني (واورو کش) په نوم کې د (کش) برخه (د غره په معنا) په ځان کې ساتلې ده .

په هندو کش کې او س هم اوې لوی د نډو نه شته چې د هغوی په باب بولې بیلې افسانې په سیمه کې ژوندۍ دي ه د (واورو کش- هندو کش ) په نامه د کوم د نډ یا د و ل عجیبه نه د ه ، ځکه چې

---

۱-(د تاجیکي اولسي نظم له تاریخ څخه (۱۰۲) مخ

۲-(ادبیات مزدیسنا- ۱۳۴ - ۱۳۵) مخونه

داسې ډول ونه غالباً غرونو ته منسوبېږي او کوم خاص نوم نه لري
او د اوېستا په پېلو پېلو برخو کې ددغه ډول له خصوصیاتو څخه په
خاص ډول معلومېږي چې مطلب ورنه (بندامېز) دی چې د شولګرې
سپېدورنه سر چینه اخلي او د بلخ سیمه خړوبوي . ددغه ډول په باب
افسانوي خصوصیات هم د حیرانتیا وړ نه دي . په اوستا کې دغه
شان افسانوي خصوصیات د ډېرو شیانو په باب لیدلای شو . او حتی
دا دغه عصر روحیه ده اوس هم چې (نسبتاً) امیر المومنین حضرت
علي ته شوې دي په افسانوي روایتونو بنا دي د البرز موقعیت یوه
افغان محقق داسې ښودلی دی :

د البرز غر د هغه غره د لړۍ یوه څانګه ده چې د پامیر نه د
هندوکش په نامه پیل شوې او د جنوب غرب خواته غځېدلې ده او
په هر ځای کې په بېلو بېلو نومو نومېږي . ددغې کړۍ هغه
برخې چې د غربي هندوکش د شمالي خواته او د کوه بابا څنګ ته
غځېدلې ده . د البرز په نامه یادېږي . په لرغونو وختو کې د (اشر)
او (اشتار) په نامه یادېده او بیا وروسته د البرز په نامه مشهور
شو . دغه ځای د بلخ نه (۳۰) کیلو متره لېرې دی او دهغه په لمنو
کې د مزار شریف ، بلخ ، شبرغان ، سرپل ، اقچه او ځینې نورې
معموري سیمې پرتې دي . د غه معمورتیا د باختروس (بلخ رود)
برکت دی چې (۱۸) ډیالي ورڅخه جلا شوې دي . ددغه غره لرغونی
نوم هر ابرزايتي دی چې اریایانو او ایران ته هم له ځانه سره وړی دی (۱)

---

۱ ـ اریانا (مجله) د ۱۳۳۶ کال د میزان ګڼه ایکول نوشاد ، د
مرحوم مولانا خال محمد خسته د مقالي په حواله .

شلورمه برخه :

# اویستا څه شی دی ، کله ولیکل شوه ؟ اوتاتوبی یی کوم دی؟

اویستا د زردشتی مذهب د متنو نو مجموعه ده چی د لرغو نو ختیځوالریانی ژبو یو معتبر پاتی شونی گڼل کیږی. دغه مذهب چی (په قبل المیلاد شپږمه پیړی کی) د خپل اصلی تاتوبی بلخ نه د منځنی اسیا هری برخی ته خپور شوی وه په میلادی اوومه پیړی کی عربو فاتحینو د غه لمن ورټوله کړه او ځای یی اسلام ونیوه . د عربو د فتوحاتو او د اسلام د خپریدو له امله د زردشتی عقیدی زیات پیروان له خپلی خاورې وتښتیدل او د هند نیمی وچی ته یی پنا ووړه. هلته تراوسه د غوی پاتی شونی ژوند کوی او په څه ناڅه پټ ډول یی زردشتی ټولنه ساتلی ده . د عربو د فتوحاتو په وخت کی لومړی د ایران د لویدیځ له خوا زیات زردشتیان ختیځ خوا بی خطره سیمو ته وتښتیدل، خو بیا هلته هم ټینګ نه شول او د میلادی اوومی پیړی په پای کی

د هند نیمې وچې ته د دوی لېږد پیل شو، لومړی د کتیاوار ټاپو وزمې ته او وروسته د هند د لویدیځ ساحل په غاړه بمبئي ته ورسېدل.

په منځنیو پېړیو کې (مثلاً په (۱۰م) پېړۍ کې) زردشتیان د بمبئي جنوب د سنجان په ساحلي برخو (گوانې او چوول) کې هم مېشته وو. اوس د هندي زردشتیانو اکثریت (چې عادتاً د پارسیانو په نامه یادیږي) د بمبئي په ایالت کې ژوند کوي چې خپله د بمبئي په ښار او هم د گوجرات په ځینو نورو ښارونو کې مېشته دي. اوس په هند کې د دوی شمېر (۱۱۵) زرو تنو ته رسېږي، هندي زردشتیانو لا په منځنیو پېړیو کې خپله ژبه اړولې او په گوجراتي ژبه خبرې او لیکنې کوي. په میلادي پنځلسمه پېړۍ کې د دوی مذهبي کتابونه په گو-جراتي ژبه ترجمه شوي وو.

بل لږ شمېر زردشتیان د ایران په خاوره کې هم ژوند کوي چې شمېر یې لس زرو تنو ته رسېږي.

هلته په یزد، کرمان، تهران، شیراز او کشان کې مېشته دي.

هندي زردشتیانو دسمې او ژبې له بدلون سره سره زردشتي عقیدې او د اوستا د لیک سره خپله اشنایي ساتلې ده. (۱)

اوستا او د هغې اوسنی ټاټوبی:

---

د زردشتي عقیدې د دعاو، افسانو، احکامو او مناسکو د متنونو مجموعه په وروستیو ختیځو منابعو کې د (زند اوستا) په نامه یادې-یده. کله چې لویدیځو محققینو د اوستا په څېړلو پیل وکړ هلته هم په دغه (زنداوستا) نامه مشهوره شوه. د نولسمې پېړۍ په دوېمه نیمايي کې محققینو خیال کاوه اوستا په دغې ژبې نوموي چې د زر-دشتي عقیدې کتابونه پرې لیکل شوي دي او هغه یې د (زند ژبه) په نامه یادوله. وروسته بیا دوی ته څرگنده شوه چې د اوستا کلمه لرغونې رېښه

---

۱- «د اریایي فیلالوژۍ اساسونه» (۶۷-۶۸) مخونه.

(اوپسته Upasta) بوازی د( اساسی متن )معنالری او (زند) له لرغونی (ازنتیش ـ Azantish) له کلیمی اخیستل شوی چی د پلټو نکو په عقیده یی معنا دهغی تفسیر ، ترجمه یازیادت دی (۱) او س دغه کتاب بوازی د(اویستا) په نامه یاد یږی او کومه خاصه معنا نه لری .

دلرغونو یونانی مورخینو ، اسوری ، ارمیانی او عربی اثارو همدارنگه دایرانی اولسونو په حماسو اوادبیاتو کی په اریانی خاوره کی د (اویستا ) په نامه دیوه لرغونی کتاب د موجودیت یاد و نه کیږی ، خود هغه دلومړی برقامی نسخو سره چی داویستا ځینی برخی پکی ساتل شوی وی بوهان بوازی په اوولسمه ،اتلسمه پیړی کی اشنا شول .ددغو خطی نسخولوست او تحلیل دزردشتی عقیدی او اویستا سره دپوره بلدتیاور پرانیست اوپه دی وروستیو نژدی دوه سوه کاله کی دلرغونی ختیځ په باب دیر ومو رخینو ، ختیځ پوهانو ،ژبپوهانو او نورو محققینو په دغه پیچلی لاره سترگام ونه واخیستل چی دغه تاریخ په حقیقت کی دفرانسوی ځوان محقق انکیتل دوپیرون (۱۷۳۱ -۱۸۰۰) څخه پیل گیږی .

داویستا د پو ره تحلیل او څیړ نی نه محققان د ی نتیجی ته ورسیدل چی دا مجموعه دیوه شخص ، یوه عصر او یوی سیمی تالیف او زیږنده نه ، بلکی دهغی بیلی بیلی برخی په دیرو پیړیو کی د دیر واخطا صو ملاس په پیلو بیلوسیمو کی تالیف شوی دی چی دغه تالیف په تقریبا (۱۴) پیړیو کی بشپړشوی دی .

---

۱ ـ زما په خیال (زند) د(پیزندل ، پیژندل) = پی +زند) په معنا او ریښه یی هم دغه ده. دغه ریښه په ختیځو اریانی ژبوکی ژوندی ده .

هغه وخت چې (ایران) د اوسنی جغرافیوی سیمې نوم نه، بلکې د (اریانا) نوم و، محققینو په وینا چې زردشت په (ایران) کې هوی دی او اوستا په ایران کې لیکل شوی ده. هغه وخت چا دـ اتونیر په نظر کې نه و نیولی چې ایران یعنې کومه سیمه؟ د باختر سیمه او که د اوسنی ایران سیمه؟ او س چې ایران د (اریانا) په معنا نه، بلکې د یوی خاصې جغرافیوی سیمې نوم گرزیدلی دی د اوستا په باب د اسې پوښتنه پیدا کیږی لکه څنګه د زردشت د تاتوبی په باب چې پیدا شوی ده .

د اوستا په باب داسې پوښتنه نشته چې کله په کوم ځای کې اوچالیکلی ده، بلکې پوښتنه دا ده چې د اوستا څو برخې ارغونی او لومړی برخه کله او چیرته تالیف شوی ده .

دې پوښتنې ته پوهانو اواسان ځواب ورکولای شو او هغه دا چې: د اوستا لومړی او ارغونی برخه هماغلته تالیف شوی چیرته چې زردشت پیدا شوی او له کومه ځایه چې زردشتی عقیده خپره شوی یعنې د ارغونی باختر مرکز (بلخ)، خو بیا هم په دې موضوع کې ځینې خبری شته او په هغه تفصیل سره بحث وړی او څیړیږی. ځینی محققین لیکي چې د اوستا لومړی برخې د زردشت نه ډیری پخوا، د اول ـ المیلاد دوه زرم کال په لومړی نیمایي کې تالیف شوی او د زردشت مذهب ته نه و تلی دی .

په دغو برخو کې د منځنی اسیا د ژوند هغه مرحلې منعکسې دي چې اریایي قبایلو لا د کوچ او لیږ د ژوند درلود، په مالداری بوخت وو. د هغه برخې د منځ غوړ کوچنیو قبایلو د لیږ د او مالداری په ژوند کې د مقید ـ و اوانانو هنداره ده او د ښاري، کلیوالي او کروندي د ژوند نښه

نا اشناده .

پیاوروسته د اوېستا هغه برخې جوړې شوې چې د زردښت د نامه سره اړه لري او د هغه په مذهبي عقیدې شاملې دي. د اوېستا په دغو برخو کې د اریانې قبایلو د ژوند هغه مرحله منعکسه ده چې څینې گروپونه یې د کوچ او لیږد په حال کې دیشون شوي او په کلیوالی مارداري بوخت وو (۱) او نوري وروستي برخې یې وخت په وخت وروسته تالیف شوي دي .

دا خبره ډېره لرې نه ښکاري چې د اوېستا څینې لرغونې برخې به د زردښت نه ډېر پخوا جوړې شوې وي او هغه عقیده په یوه ډول ډېره پخوا موجوده وه چې زردشت ته یې نسبت کېږي او زردښت به په هغې لرغونې عقیده کې یو اساسي ریفورم راوستی وي، ځکه چې:

۱- د اوېستا ومړی برخې د اریانې ژوند هغه خصوصیات څرگندوي چې د لیږد او کوچ مرحله ده او د کلیوالي ژوند څرك پکې نشته .

۲- د لرغونو اغانو، ترکیبونو او ژبنیو خصوصیاتو له مخې دا برخې دومره لرغونې دي چې ویدې ژبې ته بېخي نږدې دي.

۳- لرغوني یوناني مؤرخین چې د منځنی اسیا سره ښه اشنا وو د مجوسیانو په باب ډول ډول روایتونه لري، خو د زردشت د نامه سره نا اشنا دي . مثلا هېرودوت لیکلي وو: (مجوسیان د قربانۍ په وخت کې د اربابالانواعو د زبریدنې د افسانو سندرې وايي). خو د هېرودوت په لیکنو کې د زردشت د نامه یادونه نشته او د دغو افسانو د پیدایښت په باب هم څه نه وايي (۲) . د دغسې شواهدو او اسنادو له مخې کیدای

---

۱-« اریایي قبیلو ژوی اساسونه»(۶۹-۷۱) مخونه

۲-(د پارسي - تاجیکي ادب تاریخ )(۳۶) مخ

شي چي د اوېستا تاریخ د زردشت د تاریخ نه د مخه پېل شوی وي بولو.

د زیاتو پوهو په جریان کې دا رهاب الانواعو په باب خطوخال ــ یا نې منډري، دا تلا نو په باره کې حماسي او اولسي قصي په اوېستاکې ننوتي او په شفاهي دول له یوي پړي نه بلې ته، له یو نسل نه بل ته نقل کېدي. امکان نه لري چي د غه شفاهي روایات بې تغیره او بې بدلو ــ نه پاتي شي. غه بې له منځه لاړل، غه یې واوښتل، غه اندازه نوي افسانې او موضوع گانې پکې زیاتې شوي او په دغه صورت زیات تغیر و نه پکې پېښ شول.

د غې پوښتنې ته ځواب ورکول مهم کار دی چي اوېستا کله او په کوم ځای کې لومړی ځل ولیکل شوه .

د کرونولوژیك تالیف په باب یې ځواب البته څوك نه شي ور ــ کولای. هندې زردشتیان یوه نوې روایت لري چي وايي: لا د هخا ــ منشیا نو په وخت کې د اوېستا لیکلی متن موجود وچي د غو پا نو په خزانه کې سروزرو په او بو لیکل شوی واو د یونانیانو په دربار کې ساتل کېده . کله چي مقدونی سکندر د یونانیانو دربار ونیو دغه متن یې محوه کړ . (۱)

د زردشت او زردشتي زم په باب لکه څنگه چي د هندي زردشتیانو زیات رو ایتونه د غور او تامل وړدي د اوېستا په باب د غه روایت هم څه غور غواړي. زردشتیان وایي چي «اوېستا دو یشتاسپ پادشاه په وخت کې د غویا نو په څرمنو سرو زرو په رنگ لیکل شوې وه او بیا شاهي خزانې ته د ساتنې د پاره سپارل شوی وه.» غالبه داده

(۱) ــ (داریا بې فیلالوژي اسا سونه) (۷۱-۷۲) مخونه

چې دا په همدغه لته په باختر کې سکندر مقدونی سوزولی وو، نه په پرسپول کې . له همدې کبله څاغلی بېر تولسد (پېر سپول) په ځای (باختری خزانه) نیولی ده (۱)

خوددې موضوع دوسره بسیطه او دومره سرسری نیول سم نه دی دغه الفباء د جوربت تر وخته چې د او یستایي الفبا په نامه یادیږي او یستا په هغه اره‌ی الفبا لیکله کیده چې تر نن تورې ټی نه لرل او د (ق.م) له پنځمې شاوره‌ی پېړی نه راهیسې په منځنی اسیا او ایران کې مروجه وه . (۲)

البته ضمنا دا هم باید وو ایوچې د زردشت عمر د هخامنشیا نو د دولت له تشکیله ډیر پخو' تیر شوی دی .

دغو محققینو لکه‌ی .م. باکو نوف او نور ټینګرین په عقیده اویستاد (ق.م) شپږمې پېړی د منځنی دوری ندلاد سخه دمید باپه خپلخه خو ارا گاخ ( Ragax ) کې مدل شوی وه چې بیا ورو سته لیدغه ځایه‌ی په ستحرق او او ښتی ټنه تعلیم په لویدیځ (ایران) کې خپور شو (۳) .

ځینی نور محققین په لویدیځ (ایران) کې د گاتونو دا ډیر یاو دغو پېړلو تاریخ د کورش کبیر په وخت کې گڼي . نو ځکه دغه په ها ن لکه هینینګ او گرشیو یچ د گا تو نود جوړ ولو تاریخ د (ق.م) د او وم‌ی پېړۍ له پای او د شپږم‌ی له پیله ور وسته نه گڼي

---

۱-(د پارسی-تاجیکی ادب تاریخ) (۴۷) مخ

۲- «تاجیکان - خورا لر غونی او منځنی تاریخ»

۳-(تاجیکان . . .) (۵۲) مخ

البته د ګاتو نود جوړو لوځای په هیڅ صورت دمعاصر ایران خاوره نه ده، ځکه چې په هغو کې یادې شوی سومی دایران سره اړه نه لری.

زرد شتیان وایی چې ددغې قیمتی نسخې یو نقل یونا نیانو له ځانه سره وړی . البته د دغه نقل په باب نور معلومات نشته .

ډیرداسی روا یتونه شته چې دلیکلی اویستا په باب روایت کوي:
د لرغونی روم پلینیوس کسیلوس (Plinius Caecilius ۲۳-۲۳۱-۲۷۹) په روایت ګیرمیپ Germipp چې د بطلیموس معاصر دی دمجوسیانو په باب یو کتاب لیکلی وچې په هغه کې (دزر دشت دوه ملیونه شعرونه تشریح شوی وو.) دغه اندازه یو خیال او فنتا زی ده خو معمه داده چې پلینیوس دزر دشت دشعرو نویاد ونه کوی (۱) سترابون وایی چې مجوسیان دیرسا عتونه په معابد وکې داسی کتاب لولی چې په (بر بری ژبه) یعنی په هغه ژ به لیکل شوی چې یونا نیان پری نه پوهیدل .

ایوسی ( Evsei ) ویل چې ماته داسی کتاب معلوم دی چې هغه دزرد شتی مذهب سوځلی کتابدی اوځای په ځای خپله زردشت تشریح کړی دی (۲)

که څه هم په یو هزار ومانی متن کی لیکل شوی دی چې (زردیس ( Zardes ـ زردشت ) کتاب نه دی لیکلی ، بلکې دهغه پیروانو ده له مرګه وروسته دهغه وینا وی له یاده راټولی کړی او هغه کتاب یې ولیکه چې اوس یې لولی )خو داسی روا یات زیات دی چې داو یستاد لیکلو شاهد ی ورکوی ، یو یونانی لرغونی زایرپاوزانی Pavzani

---

۱ـ (دتا جیکی اولسی دنظم دتا ریخ څخه) (۱۸۷) مخ
۲ ـ ( د پار سی ـ تاجیکی ادب تا ریخ (۳ ۶ ) مخ

روایت کوي چې د عبادت په وخت کې کاهنانو د کتاب له مخې لوسته کوي
(۱) ځایي د داسې روایتو نو په نتیجه کې فکروشي اوله پیلو پیلو
مرحلو څوري رابط ورکړشي ، بلکې په دې باب روا یتونه زیات دي
چې اویستا داسې مجموعه وه لیچې دغې لومړي بر خې پله زردشت
لیکلې دي او د لیکلو ځای یې هم بلخ دی .

د عربو د فتوحا تو په لومړ یو پېړیو کې مشهوره وه چې مقدوني سکندر
د اویستا یوه نسخه وسوزوله او بله یو نانیا نو له خزانه سره یوړه
او هلته یې په خپله ژبه واړوه له تاریخ طبري او مسعودي هم په دې باب
روا یتونه لري او حتی لیکي چې ( او یستا د دولسو زرو غویا نو په
څرمنو د طلا په اوبو لیکل شوې وه ) .

دغه نسخه که وا قعاً مقدوني سکندر سوزولې وي او که نه خو د
ایقین د ه چې د کریکو باختر او کوشا نیا نو په وخت کې د اویستا د
کومې لیکلې نسخې څرک نشته او د هغې د پیلو پیلو برخو نه ولد پارد-
تیا نی وا کمن ولگاش په عصر کې پیل شوی . (۲)

د اویستا په بیا تولو لو پیل :

د لویدیځې اروپا ځینو محققینو نظریه ورکوله چې د ساسا نیا نو د
دورې پورې اویستا یوازې په شفاهي دول له یوه نسل نه بل ته پاتې وه او
د لیکلو په قید کې یوازې د ساسا نیا نو په عصر کې او د دوی په همت
راغله او د تاریخي ویاړ دوی په برخه دی .

روس محققین دغه نظر په ردوي او وایي چې نه یوازې دا ، التهیم
(Altheim) د ا خبره په ځای ده چې وایي (د زردشت تا توبی د اوـ
کسوس (امو) په غاړه وا وله دغه ځایه دده مذهب خپور شو)(۳)

۱ ـ (د پارسي ـ تاجیکي ادب تاریخ) ( ۳۶ ) مخ
۲ ـ رر رر رر رر ( ۳۶ ) رر
۳ ـ رر رر رر رر رر( ۳۹ ) رر

بلکې زیاتوی چې داوېستا لیک هم دلته پښور شو او له دغه ځایه په کامل
او پښور شوی ایران ته لاړ. تفصیل یې دادی:

د مقدونی سکندر له فتوحاتو وروسته چې په باختر او هلمند کې
د یونانیانو قدرت ټینګ شو په دغه سیمو کې یوناني الفبا او متله شوه
له دغه وخته ډېرې سکې او اسناد پاتې شوي چې نه یوازې یوناني نومونه
بلکې ډېرې باختري کلمې هم پرې لیکل شوې دي د ختیځوار یانې
(باختر) ژبو ټول غږونه د یونانی الفبا په قالب کې نه ځایېدل
او ځېنا هغه ژبه هم د مړینې په حالت کې وه چې د زردښتي مذهب ژبه وه
او تلفظ یې هېر یه. نو ځکه د زردښتي مذهب روحانیونو دا لازمه وګڼله
چې فونیټیک یې باید و لیکل شي او مذهبي متنو نه له هېرو لو وژغوري.

له دغو متنونو څخه دوی یوازې په مذهبي چارو کې نه، بلکې
د ځینو ارواحو سره په مجادله کې د یوې شي ذریعې په حیث هم
کار اخیست. نو په هر صورت د دغو متنونو د فونیټیک ساتنه لازمه
ګڼله کېده. نو په کومه الفبا باید دا کار شوی وای؟ په یوناني
الفبا دا کار نه شو کېدای. دوی دا فیصله وکړه چې هلته په آرا
مي الفبا چې د پارتیانو ژبې له پاره مروجه وه هغه ولیکي.

دوی دغه الفبا داوېستا د لیکلو له پاره نوره هم مساعده
کړه. البته دغه کار په پرله پسې اوږده وخت کې وشو. ځکه
چې داوېستا د لیکلو له پاره د پارتیانو الفبا معمول او په هغو کې
داوېستا د ژبې د غږونو له پاره د تورو زیاتول ضرور وو ځکه
چې په دغه الفبا کې د دغې ژبې د ټولو غږونو له پاره توري نه
وو. د زیات کوښښ نه وروسته داوېستا د لیکلو له پاره یو لسونا
شپږ غږیز سیستم جوړ شو.

دا په حقیقت کې داویستاد پاره په الفبا کې یو واقعي ریفورم وچې په ختیځه اریانی ( باختری ) سیمه کې وشو .

په دغه صورت اویستا په ختیځه اریانی ژبه کې ولیکله شوه نه په ساساني ایران کې .

بلکې داشکانیانو په دوره ( ۲۵۰ ق م - ۲۲۶ م ) کې بشپړ شوی، له باختر او سوغدنه چه تو شوی متنو نه د ایران اوسنۍ سیمې ته لاړل.

نو د اویستا د متنونو هغه توټې چې زموږ تر وخته ساتلي شوي پوهېږي دې چې د باختر د خاورې مولود دي او د هغو یوه نقل د ایران د میدیا او آزربایجان په خاورو کې شوی دی ( ۱ ) لکه چې وړاندې شوه او- یستا ( دوېم ټل ) په ختیځه اریانی هاوره کې د اشکانیانو په دوره کې ټوله او ولیکله شوه . د هغوی روایتونه وایي چې د دغه کار د پارتیانی واکمن ولګاش ( ولوګېزي ) په دوره کې شوی دی. خو د ولګاش په نامه پنځه واکمنه تېر شوي او د یوه په ګوته کول ځانګړو شواری . د ښاغلي ډېر تېلمس په عقیده داد دریم ولګاش ( ۱۴۸-۱۹۱ ) عصر دی چې دغه وخت لا پارتیا په پښتو جګړو بوخته نه وه ( ۲ ) . د ښاغلي ار- انسکي په اثارو کې لومړی ولګاش ( ۵۱ - ۷۸ ) دی چې ټول شوي متن د ( اورمیه urmya ) اور ټوڼ ته وسپارل شو ( ۳ ) داویستا ټولو د ساسانیانو په عصر کې دوام وکړ. تاریخی روا- ایتونه په دې باب په خاص ډول د تنسر ( Tansar ) د خدمت یا-

۱ -( د پارسی - تاجیکی ادب تاریخ ( ۵۰ ) مخ

۲ - » » » » ( ۴۷ ) »

۳ -( د ژبې فیلالوژۍ اساسونه ) ( ۷۲ ) »

دو نه کوي دا سړی دساساني کورنۍ د موسس لومړي اردشير (۲۲۶-۲۴۱) وزير و دلومړي اردشير شاپور (۲۴۱-۲۷۲) زوی ده هغه کار بشپړ کړ چې پلارې پيل کړی و .

په ايران کې داوېستا دټولو لوپای ته رسيدلو او د قانوني کولو نسبت دوهم شاپور (۳۰۹-۳۷۹) ته کېږي .

داوېستا د کتاب په ژبه داوخت يوازې هغه لږ شمېر کسان پوهېدل چې په خاص ډول يې لوستې وه . دمذهبي افهام او تفهيم له پاره يې لازمه وه چې په پارسي ترجمه شي . داسې ښکاري چې دغه ترجمه دلومړي خسرو (۵۳۱-۵۷۸) په وخت کې پای ته ورسيده .

ټولو لیکوالانو د زړو متنونو دلټون او دهغو د نقلولو هانده کړې وه ، بلکې زيارې ويستې چې د زړو متنو په تقليد نوي متونه وليکي ، ځکه ، دا خبره يې اساسه نه ده چې وايي د يارلسمه يشتا چې د (فروردين) ياد (فره وه شي) په منظوم مشهوره ده د دريمې پېړۍ له نيمايي نه دمخه ترتيب شوې نه ده يعنې د لومړي شاپور په وخت کې ترتيب شوې ده.

په دغه ډول دا ښکاري هرګنده ده چې د اوېستا دټولو متنونو د لرغونوالي په باب خبرې نه شي کېدای، بلکې ددغه کتاب دځينو برخو د لرغونوالي په باب خبرې کېدای شي .

داوېستا دمتنونو کره کتنه محقق ته امکان ورکوي چې د ژبنيو او موادو موضوعاتو دتحليل له مخې د اوېستا لرغوني او وروستي برخې سره تشخيص کړي .

ترتولو لامهمه دا ده چې د اویستا د شعر ونو د سلابونو ، وزن او تول د تحلیل له مخې هغه کلمې او جملې بیلېدلای شي چې د اشعار وپه متنونو کې وروسته نساخانو او مؤلفینو ځای کړی دی او غالباً نه پوهېدل چې د اکتاب په شعر لیکل شوی دی . د هغه زواید بېژندل کېدای شي خو دغو کړونولو ژیلو تا کل آسان نه دی . (۱)

لکه چې وویل شول په دیرو پېړیو کې اویستا را ټوله شوی او تفسیر شوی ده او د پېړیو په جریان کې یې ډېر گوزارونه هم خوړلي دي . لومړی گوز اریې د مقدونی سکندر له خوا وخوړ ، بیا عرب وفاتحینو سخت گوزارونه ورکړل . که د سکندر له گوزاره وروسته د اویستا د ټولولو امکان و نو عرب وفاتحینو د څه امکان هم له منځه وړ . دوی له یوې خوا د زر دشتي مذهب پیروان محوه کړل ، او له بلې خوا یې په نوول شویو ځمکو کې هغه ټول لیکلي آثار محوه کړل چې نه یې پوهېدل د هغو په جمله کې اویستا هم وه . کوم زردشتیان چې د (گبر ، مجوس) په نامه بلل کېدل یوځې پټ او زیات فشار لاندې وو . دوی په تکلیف سره د اویستا یوازې هغه برخې وساتلې چې د مذهبي چارو اساس یې و . البته هغه برخې اوسنۍ لیږي دي .

یوه تشریحي رساله :

په اسلامي دوره کې د زردشتي مذهب په باب یوه رساله دیادوړ لووړده چې دین کرت Den Kart او بولي . دغه رساله په ساساني پهلوي په اسلامي دوره (غالبا په میلادی نهمه پېړۍ ) کې لیکل شوې ده . دد یادکړ هـ د مؤلف له لیکنې معلومېږي چې دده په وخت

---

۱- د پارسي تاجیکي ادب تاریخ (۵۱-۶۲) مخونه

کې اویستا په لوی حجم اوله (۲۱) ارخو جوړه وه چې (نسکونه) نومېدل . پنځه نسکونه یې هم په اویستا او هم په ساساني پهلوي ترجمه وو . نورو پنځوس ترجمه نه لرله او یوازې اصلي متنونه ورکې شامل وو نورو (۱۱) نسکونو یې یوازې په ساساني پهلوي ترجمه موجوده وه .

ددېنکرت مولف (چې نوم یې نه دی معلوم) د اصلي متنو په ژبه نه پوهېده او له ترجمې څخه یې استفاده کوله. ده په قول هر نسک څو بابونه او پارکې لرل خو د ساسانیانو په وخت کې یې ډېر پارکي له منځه تللي وو .

د ده مولف په قول د اویستا په (۷،۸،۹،۱۰، ۱۱) نسکونو کې د مقدوني سکندر په وخت کې په ترتیب سره (۵۰،۶۰،۶۰،۶۰،۲۲) بابونه وو ، خو په نهمه پېړۍ کې د هغو له جملې څخه په ترتیب سره یوازې (۱۳،۱۲،۱۵،۱۰،۶) بابونه باقي شوي وو .

ددېنکرت ترجمه چې په انګلیسي ژبه شته له هغې معلومېږي چې په څلورم نسک کې د نړۍ د پیدایښت تاریخ، په شپږم کې عبادات ، په اووم کې د کاهنانو د ژوند مقررات، په لسم کې د ګشتاسپ کیسه چې زردشتي مذهب یې ومانه، په دولسم نسک کې د بشریت د پیدایښت تاریخ ، په دیارلسم نسک کې د زردشت پیغمبري ، په شپاړلسم نسک کې د جزا تابعیت او د ځمکې مقررات په اوولسم نسک کې د کاهنانو د تدریس د نظم تشریح او په اتلسم نسک کې د ملکیت او کورنۍ حقوق درج وو .

دېنکرت مولف د اویستا ټول نسکونه په درېو برخو وېشلي دي

۱ـ هسیك (اخلاقی برخه) ۲ـ ختلك منسر یك (گډو ډاو مختلطـ
مضامینو )۳ـ داتیك (حقوقی) .

ددینکرت مولف لیکی: لومړی برخه یوازی دګاتها ئو، دوهمه
دحکیما نواودریمه د اسیانو (عوامو) له پاره ده (۱)

دغو موضو عاتو ته په لنډه کتنه څرګند یږی چی اویستا یوازی
دعبادت فا ر مو نه نه، بلکی ډیری حقوقی، جزایی اود ژوند د ـ
بیلو بیلو برخو په باب مواد لری. متاسفا نه له دغو یادو شویو نسکو ـ
نوښخه یوهم نه دی پاتی اوحتی لاپه (۱۸) میلا دی پیړی کی چی
کوم یی مشخص شوی وهغه هم لا پشوړ نه دی پاتی.

اویستا په اوسنی ډول اتیازره کلمی ساتلی دی .د زردشتی
مذهب ناستو محقق ی. ـو یست E-Vest د ا تګل له مخی په ـ
ساسانی دوره کی د اویستا پشوړ متن باید دری سوه پنځه څلو یښت ـ
کلمی لرلای. البته دا یو مجردا تګل دی او په زیاتو شواهد و نه
دی ولاړ .(۲)

اویستا دساسا نیانو په وخت کی ترجمه او په ساسانی پهلوی
واوښته چی د(زند) په نامه یاده شوه .زما په خیال دترجمه کولو یو ـ
ازینی علت یی دانه وچی اویستا یی ژبه نوره مړه وه، بلکی علت یی
داهم وچی دغه ختیځه اریانی ژبه په لویدیځه اریانی سیمه کی پردی
و.او دغی دهورولو د پاره زمینه زیاته مساعده وه .دهی خبر یو ـ
شاهد دادی :

---

۱ـ دپارسی تاجیکی ادب تاریخ (۵۱ـ۵۲) مخونه
۲ـ » » » (۵۲) مخ

داویستا یوه وروستی برخه (وینديداد) په پارتیانی دوره کی په پهلو لرغو نواوارخا یکو موادو سره جوړه شوې وه، خوچی کله په ساسانی دوره کی هغه بیا جوړه شوه په لرغونو شواوکی لازیات پر انحرافات وشول او ښځی وارول شوه چی غالباً بی علت دژبی پر دپتوب او نااهنا بی وه .

داویستا تاتوبی:

پوهان ډیر وخت داویستا دمتن په تحلیل او لوست بوخت دوه خوله دی موضوع سره بی تماس نه نیوه چی داویستا لومړی متنونه د کومی سیمی په ژبه او د کوم اولس یا توکم په ژبه لیکل شوی دی ددغی ژبی لمن تر کومو ساحو پوری غزیدلی وه .

په علمی حلقو کی ددغی پوښتنی د مطرح کیدو سره کټ مټ داسی نظریی راغلی لکه د زردشت د تاتوبی په باب چی راغلی وی. هغه ژبه چی داویستا لومړی برخی پری لیکل شوی دی په پهلو پهلو نومونو (دزندژبه)، (داویستا ژبه)، (دزند اویستا ژبه)، (میدی ژبه) (او باختری ژبه) یاد شوی وه .

وروسته محققینو ته معلومه شوه چی (اویستا) د کومی ژبی نوم نه دی او د (زند) په نامه هم هیڅ ځای، کوم اولس یا توکم نه دی تیر شوی او د (میدی) ژبو سره هم کوم ارتباط نه لری . د (میدی) ژبی تصور له دی څخه پیدا شوی وچی گویا زردشت تاتوبی (میدیا) و . (باختری) زردشت دهغه مذهب او داویستا ژبی ته دویشتاسپ او باختر سره ارتباط ورکړی دی د اتول یوه سلسله داسی خارجی شواهد دی چی د موضوع په اثبات کی د قطعیت مرسته نه شی کولای .

په دې باب ډېر مشکل را پېښ دا دې چې د اوېستا د مذهبي متنونو
څخه پرته په دغه ژبه کوم متن پاتې نه دی موندل شوی ، بلکې
په دې باب هیڅ داسې سند هم نه دی موندل شوی چې د کوم خاص
قوم یا خاصې سیمې سره دغې ارتباط وښيي . له دغه مجبوریته
دغې ژبې له پاره څه موده (اوېستا ژبه) یا (اوېستايي ژبه)
اصطلاح ومنله شوه . ضمناً دا هم یقیني شوه چې امکان نه لري دغه
ژبه د هغه مهاجرانو د حصر/ دایران د جنوب لوېدیځ ادای ژبه وي ځکه
چې دغه هم په سیمه ییز لحاظ او هم په جغرافیوي او کرونولوژیکو
څېړنو پایلو د هخامنشیانو د دربارونو کتیبو د ژبې سره ډېر زیات توپیر
لري . او په دغه صورت د اوېستايي متنونو د ژبې د تاټوبي په باب
پوښتنه څلای وه . خو په دې وروستیو وختو کې د ډېرو زیاتو پوهانو
نظریه ورکړه چې د اوېستايي ژبې تاټوبی په هیڅ صورت اریايي
لوېدیځه خاوره (ایران) نه شي کېدای ، بلکې تاټوبی یې د ختیځو
اریایانو سیمه ده ځکه چې :
۱ ـ په اوېستا کې ثبت شوي جغرافیوي تاریخي نومونه د ختیځو
اریانیانو په تېره بیا د افغانستان د سیمو پورې اړه لري .. په هغو
کې د ایران د کومې سیمې نوم له هغه (پرته د « رې » نوم ورکې یاد
شوی چې په هغه کې شبهه کېدای شي)
۲ ـ د اوېستا خاصې روایتونه او افسانې د ساکو او باختریانو د
خاصې روایتونو او افسانو څخه نښات ګتوي او هغه د باختر تو ـ
کمواله‌دي نه د ایران .
۳ ـ د زرتشتیانو هغه نوي روایتونه زردښت او زردښتیزم تهد باختر

د خاورې سره ربط ورکوي همدغه خاوره په لرغونو زردښتي آثارو والهای ده .

۴- د اوېستا د لرغونو برخو ژبه د ختیځو اریانیانو ژبو ته نژدې ده نه د لویدیځو .

۵- هخامنشیانو سره له دې چې د اهورمزد لمانځنه کوله د دوی کتیبو او دوی ته د نژدې مؤرخینو ( هیرودوت ، ستراابون ، کسینوفونت ) په یادونو کې د زردښت نوم هم نشته . (۱)

همدغسې حقایقو زیات محققین دې ته اړ کړل چې اوېستا د لرغونې باختر ژبه وبولي نه د کوم بل ځای ، په تېره بیا د ایران د اوسني جغرافیوي سیمې . له دې امله زموږ معاصر لیکوال فرانسوي مستشرق بېنوېنیست او نور نامتو پوهان لکه ګیګر ، هېکل ، بارتولد او نور وایي چې د اوېستا ټاټوبی ( باختر ) ( اریانا ویژو ) بلخ او د امو د سیند لاندینۍ برخه او هغه سیمه ده چې په اوېستا کې د ( وهي ایي دیتیې (Vahyadatye) ) په نامه یاده شوې .

بېنوېنیست لیکي : د اوېستا ټاټوبی او اولنی چاپېریال د ختیځې اریانې خاورې سره تړلی دی . هیڅ تصور نشي کولای دغه حقیقت چې په دې پر اسناد ولاړ دی بل ډول کړي . (۲)

او په دغه صورت دغه نظر په اوس لوی او تېنګه ده چې د اوېستا ټاټوبی ختیځه اریانی خاوره ده نه لویدیځه .

---

۱- د اریانی ایلالوژی اساسونه . ۹ - ۱۰ مخونه -

۲-( د پارسي - تاجکي ادب تاریخ ( ۵۰۱ ) مخ او ( تاجکي او پارسي نظم له تاریخ څخه ) ( ۱۹۲ ) مخ

په (۱۹۱۵) کال کې داهوګا (قبل میلاد د ریمه پېړۍ) ځینې هغه کتیبې څرګندې شوې چې په آکومه سامي الفبا لیکل شوې وې . په دغو کتیبو کې داسې کلمې وې چې ګویا دهغې ژبې لغات یې ارل چې اویستا پرې لیکل شوې ده .

په دغه کتیبه کې هم داویستا ژبې یوه بشپړه جمله شته چې د پهلوي ژبې د متن سره متناوبه ده .

البته ځینې ستر ختیځ پوهان لکه هیننګ دا نه منې چې دا داو-یستایي ژبې جمله ده، خو په قناعت بخښونکې دلیل یې رد کړې هم نه-ده. د دغې جملې په باب د متخصصینو ترمنځه مشاجره لا تر اوسه پورې حواله شوې نه ده . که داومنله شي چې د درونګې په کتیبه کې داویستا برخه شته هغه په ددې له پاره وه چې د سیمې باسواده کسان پرې پوه شي. نو ددې معنا به داوي چې دغه ژبه د سیمې خلکو ته اشنا او لیږاود-برخلک پرې پوهیدل . او په دغه صورت داویستایي ژبې د لمنې د خپریدو په باب ویلای شو چې هغه دافغانستان او د منځنۍ اسیا په ورشیرمه برخه سیمه کې خپره وه چې هغه دهامون (هلمند) د بلخ او مرو ترمنځه ژوندۍ وه . په بل عبارت یقیني ده چې د دغې ژبې تاتوبې دلرغونو ختیځوالو ریاني قبایلو تاتوبې دی او د ژوندیو ژبو سره دهغې دخپلوۍ یوشی ارتباط ځکه اوس ګران دی چې دهغې لومړي متنونه په خپل حال نه دي پاتي شوي . (۱)

په هر صورت لکه هر نګه چې د زردشت تاریخي چاپېریال له بلخ څخه نه شي جلا کیدلای او پل های ته دهغه منسوبول پوچ او بې-

---

۱- پارسي - تاجیکي ادب تاریخ (۳۸-۳۹) مخونه

اساسه نظر دی دغه ځان د اوېستا لومړی برخې او دهغو د تالیف تاټوبی امکان نه لري له باختر څخه بر ته بل ځای په علمي اسنادو ثابت شي او همدغه سبب دی چې موږ پوهېږو اوېستا ولې د لرغونو سړو او ژوندـ پو ختیځو اریانی ژبو (سوغدي، پارتیانی، خوارزمي، پښتو، یغنوای او پامیري) سره دومره نژدې خپلوي لري. په بل عبارت د اوېستا لرغوني تاټوبی همغه ختیځه اریانی خاوره ده چې ختیځ اریانی تو-کمونه ور کې مېشته وو او د باختر ټولمي په اصطلاح یې ژبې له (سېتي-ساکي) ژبوله گروپه یعنې د ختیځو اریاني ژبوله گروپه-وي او هم او سنیو پښتنو، پامیر یانو، یغنوبیانو او نورو ونیکو نه پرې خبر یدل.

په هر صورت د اوېستا د لرغونو نوبر خوتالیف که د او منوچې د قبل الميلاد د زرو کلو او په لومړیو پېړیو کې منځ ته راغلی وي (لکه اکثر محققین چې عقیده لري) نو امکان نه لري چې دهغو تاټوبی معا-صر ایران خاوره وي. ځکه چې هغه وخت لا په هغو سیمو کې اریایي تو-کمونه مېشته نه وو او پاخو یې لا لېرا و نوی ور غلي وو. همدا رنګه د او-ېستا پخوانی برخې د هخامنشیانو د دربار او چاپېریال سره هیڅ ربط نه لري. ځکه چې په اوېستا کې د پېښو، مالي، د پوستی د لارو، ساتر اپونو Satrap او د نورو دولتي هغو موسسو، تشکیلاتو او دولتي خصوصیاتو هیڅ یادونه نه ده شوې چې د هخامنشیانو په دولت کې موجود وو. په اوېستا کې چې لرغونو پښتو زیات انعکاس موندلی دی امکان یې نه درلود چې د هخامنشي دولت دغو خصوصیاتو په اوېستا کې انعکا-س نه وای موندلی.

دلته ډېره په زړه پورې خبره دا ده چې د اوېستا د متنونو او په تېره بیا د گاتونو د تحلیل په اتکا محققین وايي: د سېمې کلیو الو

(دیشمنو) او کوچنو (ساکواونورو) توکموتر منځه ایډیالوژیک او مسلح ټکرونه د ګاونډیتوب او داستوګنی دسیمو په بولو کی امکان درلود. د دغو سره د ښمنو او دبیلو بیلو ایډیالوژیو د بهروانو د استوګنی او تګر ونو سیمه همدغه ختیځه اریانی خاوره ده چی دځینو محققینو په نظریه دسرد ریاخوا او شازمکه بلل شوی ده (۱)

په اویستا کی د زردښتیانو او د زردښتی دیشمنو سر بسره دښمنان د توره (Tura) په نامه یاداور وروسته د (تو را ن) په نامه یاد شو-ی دی چی د محققینو په نظر هماغه ساك دی چی د لومړی دارا په کتیبه کی (داهور مزدنه زمانځو نکی) یادشوی دی. په دی کی شك نشته چی هم دساکو (تورا) او هم د هغود ښمنا نو سیمه دمیا رزی د ګر ختیځه ار-یانی خاوره ده نه د معاصرا یران.

دلته دا خبره هم د یادونی وړده چی په معاصر افغانستان کی ډیر شواهد لیدل کیږی چی په اویستا کی د ښمنو د شاهدو سره سمون لر-ی لکه: هو کا له د مخه د ناد علی په کشف شویو خرابو کی په یوه (۳۱) متره لوړه هوډ ی باندی د یوه داسی ستر حصار کنډ-ری او بقایاوی موندل شول چی خوا او شا ئی له پخو او موخښتو څخه جوړ شوی او ستو ګنځا یونه واقع وو. د دغه حصار نخښی او تو-صیفونه دهغو نخښو او توصیفونو سره سمون لری چی د پخوانیو حصارو-نو په باب د اویستا په یوه لرغونی برخه (یشتا) کی د هغو مفصل ذکر راغلی دی. (۲)

د دغسی بیشمیره اسنادو له مخی نری ستر ختیځ پوهان اوس دی نتیجی ته رسیدلی دی چی لکه څنګه چی د زردښت او زردښتیزم لومړی تاټوبی همدغه ختیځه اریانی خاوره او په دی ترڅ کی زموږ لرغو-نی هیواد دی، همدغه شان داویستا د لومړنیو برخو د تالیف او لیکلو تاټوبی هم همدغه سیمه ده.. نه ایران ا، آزربایجان او یا کومه بله سیمه.

---

۱- (داریانی فیلالوژی اساسونه) (۹۲-۹۳) مخونه.

۲-(زیات تفصیل یی (د افغانستان تاریخ) لومړی ټوک ۵۲-۵۳) مخونه

پنځمه برخه:

# داویستا بیلې بیلې برخې

په تېرو برخو کې وښوول شوه چې داویستا لرغونو متونو د جوړولو سیمه د باختر چاپېریال وځو د پېړیو په تېرېدو د دغې اعلی بیلې برخې بیا په بېلو بېلو سیمو او وختو کې جوړې شوې او له دغه ځایه ده چې د زمان او مکان د شرایطو په لحاظ اویستاد مضمون او محتوا له مخې په څو برخو ویشل کېږي. د «د دینکرت لسم میلادي پېړۍ» (۱) په قول د عربو د فتوحاتو تر وخته اویستا له (۲۱) برخو (نسکو-نو) څخه جوړه وه چې په هغې کې د عباداتو، معاملاتو، حقوقو او نورې برخې شاملې وې. خو له دغو ټولو برخو څخه یوازې هغه برخې اوس پاتې دي چې د زردشتي مذهب د ورځنیو عباداتو له پاره ضروري وې او نورې برخې یې (د مقدوني سکندر له خوا د ضایع شوېو برخو پرته) عربو او نا تحیغو له منځه ویوړې.

د غو نا تحیغو له پر ځله پاتې شوې برخې هند ته د زردشتیانو له مهاجرته وروسته څو ځله په یوه لاس او بل لاس لیکل شوې او زموږ تر وخته یې یوازې وروستۍ نسخې پاتې شوې دي.

---

۱ -(دینکرت) ترمخه معرفي شوې دی.

او د دغو نسخو د لیکلو نیټه د میلادي دیارلسمې، څوارلسمې پېړۍ څخه تر مخه نه ده (۱) زموږ تر و خته او یستا په دوه ډوله را رسیدلې ده:

یو ډول یې د څو زرډشتي دعاو مجموعه ده چې په اصطلاح په خاصه او یستا یې ژبه او الفبا و لیکل شوې او هم دغه دعاوې تراوسه په زردشتي معابدو کې دعبادت په وخت کې لوستل کیږي او هم دغه مجوعه دخپلو یوې مهمې برخې (ساده وینديداد) یا (وید یودات) په نامه یاد یږي. (ساده) ځکه دې چې هیڅ ډول تفسیر او ترجمه نه لري. په وینديداد کې دوه نوری مهمې برخې (ویسپرید) او (یسنا) هم شاملې دي. دغه دریواړه برخې یود بل سره په یوه خاص ترتیب یو ځای شوې دي. (۲)

وید یودات دپنوو از ینې برخه (یا کتاب) ده چې دلرغونې اویستا څخه شامل شوې او د (دینکرت) له مخې د ټولې اویستا (۱۹) نسکه دي. پاتې نوری برخې ور سره له پیلو پیلو کتابو څخه راخیستل شوي.

وینديداد یا (واید یودات) یسنا اویسپرید په دزردشتي مذهب د مراسمو له پاره ډیر مهم دي او په یوه توک کې د بیلو بیلو برخو په توګه شامل شوي دي. د مضمون او محتوا د تو پیر له امله د ځانګړې وبرخو په نامه هم یادیږي. (۳)

---

۱ - داریانی فیلالوژی اساسونه (۷۵-۷۶ مخونه)

۲ - (تاجیکی اولسی نظم له تاریخ څخه) (۱۷۷) مخ

۳ - داریانی فیلالوژی اساسونه (۷۶) مخ

دویم ډول (وریانت) له هغو څو برخو څخه عبارت دی، چې په ترتیب کی یی ذکر وکړ دی. دغه وله ترتیب څخه مقصد د عبادت په وخت کی لوستل نه، بلکی د زردشتی مذهب مسئلو تیکه څیړنه ور له مطلب دی. په دغه وریانت کی داو پستا متنو نه په کتابو نو، فصلو نو، عنوانو نوا و پروګرا مونو ویشل شوی ا و په ساسانی پهلوی تفسیر او ترجمه شوی دی چی په اویستا یی الفبا نه، بلکی په پهلوی الفبا لیکل شوی دی. دغه ترجمه شوی او تفسیر شوی اویستا دهغی بلی سره دتو پیر له امله کله بوازی د (زند) او کله د (زند او اویستا) په نامه یاد کیږی او کله (زند - او یستا) هم ورته وایی.

په ساسانی پهلوی (منځنی پارسی) باندی په لیکل شویو متنونو کی داتو پیر هم لیدل کیږی چی ځینی متون په پهلوی الفبا لیکل شوی او په هغو کی ابد یوګرامونه (آرمی کلمه لیکل شوی. او په پهلوی تلفظ شوی) هم ځای شوی وی چی هغه ته (هوزوا ریش) ویل کیږی او داسی متون هم شته چی په پرله پسی ډول او د کلمو ترمنځ له فاصلی پرته په ساسانی پهلوی او په اویستا یی الفبا لیکل شوی چی اید یوګرامونه نه لری چی دی ته (پا زند) وایی. په لومړی برخه کی مثلا (ابو) لیکل شوی چی تلفظ یی په (پدر) کیږی. یا (پیا) لیکل شوی او تلفظ یی په (او - اوپد) کیږی (۱)

په دویم ډول (وریانت) د اویستا اوسنی تشکیل په دی ډول دی:

---

۱ - ) د تاجیکی اولسی تظم له تاریخ څخه (۱۷۸) مخ

۱ ـ ویندیداد (ویدیوداد) :

کلمې او یستایي تلفظ (ویدیوداد Videvdat ) او په منځنۍ پارسۍ کې په (ویندیداد) اوښتې دې چې اویستایي اصل الفاظ یې (دد یوا نوضد قانون) Vidae Vodateu) او (دد یوا نوضد قا نون) یې معناده .

داد لر غونې اویستا یوا زینۍ برخه ده چې بشپړه سا تل شوې ده اوله (۱۹) نسکو نو څخه عبارت ده او نورې ټولې برخې یې له پهلو یو او کتابونو څخه اخیستل شوې دي . (۱)

ویندیداد دهغو قوانینو او د ستور العملو نو مجموعه ده چې ددیوا نواو خبیثه ارواحو دشرلو او اشا (ارتا) دز هد او نیکۍ در اپهلوله پاره زردشتیانو په کارول او دزردشت او اهورمزد ترمنځه غالبا دسوال ځواب په شکل ترتیب ، دعبادت دچارو پاکۍ او دکتابونو دکفارې او دعبادت دستورالعملو نه لري . ټول (۲۲) (فرگرد، توتي) لري چې اسانوي عناصرهو ورکې ځای شوي دي .

تصور کیږي د اویستا دغه برخه په دپار تیانیوا کمنۍ په وخت کې تالیف شوې وي چې له دیرو لرغونو مواد وڅخه ورکې کار اخیستل شوی دی ، خوده ویشتم فرگردیې په کمزورۍ سره اد استنساخ شوي دي . (۲)

په لومړي فرگردکې د(سغو) او «بدو» هیوادو «سیمو» نومونه او جغرافیه تشریح شوي دي . په دغه سیمو کې خصوصا د افغا ـ نستان او عموما دمنځنۍ آسیا دسیمو نومو نه ښوول شوي دي چې «ښه» هیواد ونه یې داهورمزد پیداښت او «ناوړه» یې داهریمن پیداښت بللي شوي دي .

---

۱ ـ دار یانۍ فیلا لوژی اسا سو نه (۷۶) مخ

۲ ـ د پارسي ـ تا جیك ادب تار یخ » «۶۲» مخ همدا رنګه «د تاجیکي او فارسي ادب له تاریخ څخه » ۷م مخ

پـه دې اريا نـاو ېـجو، بـخدي (بلخ) ايسا يـه و يكر ېـتـه (و يـكر يـت ، كا-
بلستان ) (سورو ، مرغاو) گاوا (سوغد) خاه ركولجه (ورنه) چې دلته
هغه (تريتون) زاېږېدلي چې اژي دهاك يي وواژه او داسې نورچې تول
(۱۶) هيوزدونه (سوهى) كيږي.

پـه دويم فرگرد كي ديما (جمشيد) پـه باب افسانه تشريح شوې ده . دلته ويل كيږي چي يما دزمكې او آرېي درېځله پراخه كړه، له تو پان څخه دو كړ يو، ژويواو بوتو دبچولوله پاره يې دېوالونه جوړ كړل . پـه دغه افسانه كي دارهونوار يا يا نوددغه ټصورخرك ليدل كيږي چي گو يا زمكه لهاو بو څخه پيدا شوې ده . (۱)

پـه دريم فرگرد كي دزمكې دكرونډي ستاينه شوې او پر ښوونكي كا ربلل شوي دي او داو يستا پـه همدغه برخه كي خپلو ښځو سره دې ډېرې كراسي ځواته يوه انداز ميلان وينې . دلته بو ښتنه كيږي چې اهورمزد ته كوم كار ترټولو غوره اوکوم يې خو راډ پرناوړه دي.

ځواب : پـه او راوشيد و سره دده زمانخل ، دمخترا پـه نو ماوورشوكانو، دغو كورونو پـه ودانولو چي پـه او ، خاروبو، ماندينې او ماشو مانو سمپال وي. دكرنې ددانو پـه كرلو اودولو پـه كښتولو، خړ و بولو، دخاروبوا و مالونو پـه بولو او خاورې ته پـه سزه وركولو د ځښتن عبادت وكړي.

پـدكار: داهريمن پالنه ، خاصتا ذ خړلو پـه سراسمو كي دمغې مراسمو مراعات نه كول دي. (۲)

---

۱-(دتاجيكي اولسى لظم له تاريخ څخه (۱۷۹) مخ
۲-لا » » » » » (۱۸۰)

څلورم فرګرد د ځمکې او وعدې د تړلو او د هغو نه د نظافت په صورت کې د جزا په باب دی. په پنځم فرګرد کې هغه عملیې په ګوته شوې دي چې د ناپاکۍ سبب دي او د هغې ناپاکۍ نه د خلاصېدو لارې ورکې څرګند شوې دي . په شپږم کې ټولې د طبي تجربو او طبي مرستو په بدل کې داسې مواد او ورکړې لارښوونه شوې ده . ددې معنا داده چې تر دغه وخته نقود دومره مروج نه وو. د لته داهم د یادونې وړده چې دغو زردشتي کاهنانو له پاره چې د طبي تجربو په اکتساب بې پیل کاوه. لارښوونه کېده چې خپلې تجربې په هغو ناروغانو پخې کړي چې د زردشتي عقیدې پیروانه دي د زردشتي ناروغانو معالجې اجازه یوازې له پوره تجربو وروسته ورکول کېده . (۱)

له دغه ځایه د غیر زردشتي کسانو سره د زردشتي مذهب رابطه پوره څرګنده ده .

په اووم فرګرد ( پارګې) کې د دخمو (هغه برج چې مړي پرې ږدل کېدل ) د جوړولو د هغو لومړي اصول ، د مړي د کتنې (مړي ته په پېښې کېدنا و چې د ناروغیو د لېږدو ونکي «ناسو» څخه بې وساتي ) په باره کې لارښوونې لري. اتم فرګرد بهرام د اورو- نو کسپه کوي. نهم د نهمې شپې «ار شنوم وستر» پاکو ونکي رسم په باب دی . لسم د هغو ګاتو په باره کې دی چې دغه په لوستلو سره دیوان تښتي . یوولسم فرګرد دوایي چې د پاکې په مراسمو کې باید له ګاتو نه څخه څنګه کار واخیستل شي. په دولسم کې د ماتم د تېر ولو . دیارلسم د سپي په باب دی . په

---

۱- د پارسي - تاجیکي ادب تاریخ (۶۲-۶۳) مخونه

دیارلسم کی دسپیود پیلو پیلو تو کمو زوا ودهغوی دګټو ، ددوی دپالنی ، زاروغیو اوخصو صیاتو په باب ، څوارلسم یی دسګلاووږد وژلوله ګناه څخه دوژو نکی جزاء او کفاری په باب دی . پنځلسم یی د پنځوتیاه کوونکو ګناهوا ونو یوزیږید لو سا شوماتو او کوټ کر یوته دمر اجعی په باب . شپاړسم یی ماند ینوته دمیا شتو په تاکلو وختو کی دمراجعی . اولسم بی دو ینتود اصلاح کولو اود زوکانو دمر یکو لو په باب دی ( په زردشتی عقیده پر قیامت به تول مړی په نوی بدن چی حی دزا په بدن له عنا صر و څخه به جوړه شوی وی نو لازمه ده چی دژوند تر پایه دبدن عناصر ، پر یکړ شوی نوکان او ویښته وساتل شی چی راتلو نکی بدن ورنه جوړشی . بنا یی داد زردشتی ورو ستیو کا هنا نو منطق وی . په لومړی وخت کی محکمه د پری شویو نو کانواو ویښتو ساتل ضرو ری وو چی داربدل د دښمن لاس ته ورنه شی اوله هغه څخه دهغا وند په مقا بل کی دسحراو کوډو کار وانه خلی) ( ۱ ) .

اتلسم فرګر دبیخی ګډوډ دی : هلته د « ریښتو نی کاهن » او « غولوونکی کاهن » توپیر او دهغه چرګ په باب بولل شته چی په خپلو بانګو زوناو ره قوتو نه شړی . په نو لسم فرګرد کی په دی باب قصه درج ده چی اهریمن غوښتل زردشت تیر باسی . له مرګه وروسته دروح دمر نوښت اودګاهنا نو دطبابت په باب هم دلته خبری شوی دی . په شلم کی داهورمزد الهام اوپه هغه وخت کی دناروغیو شمیر ، په یوویشتم فرګردکی داو بود طبی طاقت اود

---

۱- ( دپارسي - تاجیکي ادب تاریخ )۶۳) مخ

افسون او جادو گری ، په در انده پار دحا ملوښځو در برو لونه احتیاط اودوه و یشتم یی دساري ناروغیو په باب دا هور مزد الهام اوله هغو څخه دلارو چارو په باب دی .

په وینند یدادګی کلمه کلمه نیغ په نیغه ګاتونه اقتباس کیږی. مثلا په لسم فرګرد کی خلورم شعر د ګا ت نه اقتباس شوی دی. په (۱۳-۱۴) فرګرد کی د ګا هنانو ، جګړه ماروا و ګروند ګرو دری پوړه یاد شوی دی .

یسنا : یسنا د ا و یستا یوه مهمه . اوخورا لویه اولر غونی برخه ده . ریښه یی په اویستا کی (ینز - yaz) د هچی دځینو پوهانو په عقیده د (جشن) له کلمی سره یی ریښه یوه ده او معنا یی (نما نځل ، پالل ، سرورته تیټول ) ده. او داویستا بود عباد اتو او مذهبی ادابو اساسی برخه ده (۱) یسناوی له (۷۲) عنوانونو جوړه دی چی په او یستایی ژبه ورته (هـا - Ha) یا (هایتی Haiti) ویل کیږی او (۱۷) عنوانونه یی د ګات (Gat) په نامه یاد شوی دی چی هغه له ( ۲۸ - ۳۴ - ۴۳ - ۵۰ - ۵۱ - ۵۳ ) ګاتونه تول په عروضی (متریک )تول جوړ شوی دی چی دا هنګ اوتال له مخی په پنځو ګروپونو ویشل شوی دی (۲) .

تول ګاتونه (۸۹۶) کرښی او نژدی (۵۶۶۰) کلمی دی . (۳)

---

۱ - (دتاجیکی اولسی نظم تهقاریخ څخه (۱۷۸) مخ

۲- ددغوا هنګو نو تفصیل اود پښتود او لسی ادب له اهنګو نوسره دهغوسموف په (د پښتود اولسی ادب لا ری) کی ورا ندی شوي

۳ - عصر اویستا (۳۰) مخ

(گات) چې د هندي د (گيت) او (گيتار) سره د ريښې او معنا سمون لري د (سندري ، سندري ويلو) په معنا دي، د ژبنيو خصوصيا تو له مخې گاتو له د اوستا د نورو برخو سره څه توپير لري : په هغو کې ځای شوي فوق العاده احساسات ، د مفهوم نيمگړتيا ، د مغلقو او ور- وستيو برخو تر منځه د منطقي ربط نشتوالي او داسې نور هغه سبب شوي چې د گاتونو تحليل گران کړي .

د گاتونو د جوړ ولو نسبت چې په عنعنوي ډول خوله زردښت ته کيږي د مضمون له مخې يې مخاطب انسان دي چې باید زردشت ته عقيده او اخلاص ولري ، د بديو له ټولو لاس واخلي او له تياري څخه ځان وژغوري او د روښنايي او نيکي لوري ته مخه کړي . (۱)

د گاتونو د ژبې خصوصيت د باختري آريايانو د خاوري پوري تعلق لري او د باختري تمدن څرگندوي دي ، نو د لويه پخوا ايرانيانو (۲)

د يسنا د نورو «۷۲» عنوانونو «ها يتي» په باب محققين نظر ورکوي چې زردښتي کاهنانو کوښښ کړي په لوی لاس د هغوی شمير «۷۲» ته ورسوي ، ځکه چې د دغه عدد په زردښتي عقيده تبرك درلود . له دغه ځايه ده چې څو عنوانونه ورکې تکرار راغلي دي لومړی او دويم په معترضه ډول ورکې ځای شوي دي (۳) .

يسنا چې د حجم له مخې هم د اوستا يوه ستره برخه ده کيدای شي چې په دريو برخو وويشله شي :

---

۱- (د آرياني فيلا لوژي اساسونه) (۷۷) مخ

۲ - فرهنگ نامهای اوستا ج دوم (۶۲۱) مخ

۳ - (د پارسي ـ تاجيکي ادب تاريخ) (۵۲) مخ

لومړی برخه : «۱-۷-۲» ، دوېمه برخه«۲۸-۳-۵۳»- دریمه برخه «۴۴-۵۰» او «۷۱-۷۲» دڅلورمه برخه .

په لومړی برخه کی داهور مزد ، امیشه سپنتا او دنیك عملو- نا محدود وموجود اتو په باب دعاوی اوستاینی ځای شوی دی.
په نهم عنوان کی په دی باب قصه کیږی چی هوما زر دشت ته ورځی او له هغه څخه هیله کوی چی په خوږ و کی یی و منی . له دی وروسته دهغولو مړیو وگړیو په باب حکایت کیږی چی دهوما یالنه یی کوله او له دوی څخه څلورم یی پور وشاسپ دزردشت پلار دی . لسم او یو ولسم عنوا نونه دنهم عنو ان متمم ښکاری .
دلته هوما ددر یڅ سوېڅلو موجود اتو «غوی ، اس او هوما» په ډله کی شمېرله کیږی .
او په دغه صورت دلومړی برخی ټول ټول عنوانونه ځانگړی د عاوی او ستاینی لری . دیسناو په دویمه برخه کی دگا تو نو ټنځه گروپو نه شامل دی .

دیسناو په دریمه برخه کی دڅلور ټنځوسم عنوان د (ایرما یشیو) دعا په سوېڅلتیا کی دگا تو نو سره برابره ده . په دغه برخه کی دارد ویسورا ناهیتا ، داوږ درب النوع (اتر) او دا هور مزد دلونو (اهورانی) دعاوی ځای شوی دی .
دیسناو په متممه (۷۱-۷۲) عنوانو کی دزردشت پوه لومړی پیرو- انو سپارښته په دی باب ځواب دی چی ټول ارباب الا نواع باید ونمانځل شی او دزر دشت قولو وینا و ته په در نده سترگه وکتل شی . (۱)

---

۱ - دتاجیکی اولسی نظم له تاریخ څخه (۱۸۱ - ۱۸۳) مخونه

ویسپرید (ویسپورات) : په اویستا کی دا کلمه (Vispe ratavo) ده چی تحت اللفظی معنا یی (تول عادلان، تول ارباب الانواع) ده (۱) دا ویستا دغه برخه د زردشتی کاهنانو له خوا په یسنا ورزیا ته شوی ده. او دغه دیوی دعا د سر د توتی نوم په دغه برخه ایښودل شوی دی هره برخه په کرده (Karda) یا ده شوی او په درېو بېلو بېلو نسخو کی دغی د (کردو) په شمېر کی توپیر موجود دی. په یوه کی (۲۷) په بله کی (۲۴) او په بله کی (۲۳) دی.

دغه برخه د فورم او مضمون له مخې د یاسنا سره دومره توپیر نه لري خو د یسنا او وندیداد په خلاف د زردشت نوم و رکی لیږ کړ شوی دی.

یشتونه: د اویستا د بېلو بېلو برخو مجموعه یشتونه او یښتونه چی تحت اللفظی معنا یی احترام، نمانځنه (۱)، ستاینه، د ستاینی وړ (۲) او ستاینه (۳) ده (۲) دا هغه ستاینی دی چی د بېلو بېلو قواو په نامه د ارباب الانواعو په ستاینه کی ویل شوی دی او شمېر یې (۲۲) ته رسېږي او زیات افسانوی عناصر لري.

په زردشتی عقیده ارباب الانواع او سپېڅلي ارواح زښت ډېر دي چی ستایل کېږی خو د لته یې هغه مشهور ستایل شوی چی د ټولو ډېر د یوی قوی سمبول دی او هغه (۲۱) دی اهورمزد، امشه سپنتان، اشه واهشته، خاورهوات، اردویسورا ناهیتا، نمر، سوپوسی، تیشترا، درواسپ (دغوی روح)

---

۱ـ اریا نی فیلالوژی اساسونه (۷۷ـ ۷۹) مخونه

۲ـ (د تاجیکی اولسی نظم له تاریخ څخه) (۱۷۸) مخ

میترا ، سر اوشه ، رشنو ، فره‌وه شی ، ورتراگن (بهرام) ، اریایی‌ه فر (اور) ، دکیا ایانو (فر) ، هوما او هونور. (۱)

د محققینو په نظر لومړی هلور پښتونه داسې کسانو لیکلی دی چی په او یستایی لرغونی ژبه نه او هیڅ ځکه یې نوزیاتی گرامری غلطی کړی دی په هغو او پوو پښتو پښت کی د غه غلطی کمی دی خو هغه د دیر و پخوانیو متنو د تو تونه یی پرورو سته جوړ شوی دی.

د مضمون او مفهوم له مخې اسم او نو لسم پښتو نه په زړه پوری دی چی د پلتو لکو بام یی ځان ته اړولی دی. پښتو نه که څه هم د عبارت پوه مجموعه ده خو د یسنا او په نسبت یو هان په خاص نظر ورته گوری ځکه چی په هغو کی تقریبا د زردشتی ارباب الا نواعو پښپړ فهرست ورکړ شوی دی. د دغو سند روا همیت په دی کی دی چی په هغو کی له ځورا لرغونو رواېتو څخه کار اخیستل شوی دی او د لرغونو ختیځ او ریا یا نو د حما سو د استکلیت په حیث ساتل شوی دی او وروسته کام په کام د فردوسی په شهنامه کی پیچل شوی دی او کله د هغو خرك په نو روداسی لرغونو روایاتو کی گوروچی فردوسی ور نه استفاده نه ده کړی.

پښتو نه ساما په یوه داسی عروض (میتر یك) لیکل شوی دی چی هره مصرع یی آووه او هیلایه ده.

متاسفانه له اوسی پوښت هم کومه پښپړه افسانه نه افاده کوی بلکی د هغو یو څرك دی.

داسی ښکاری چی یو وخت به هر پښت د یوی پښپړی افسانی معبرو. له دی امله چی هر پښت د طبیعت د یوی قوی ښکارندی دی

---

۱-( د پارسی - تاجیکی ادب تاریخ )(۳ ۵ ) مخ

دی نوله دغه محایه گومان کیږی چی پښتونه به داو پښتایوه خورا لرغونی برخه وی اوله خصوصیاتونی ښکاری چی له زردشت (دهغو له ریفورم) څخه به لا پخواچوړ شوی وی او بیا به ورو سته دزردشتی مذهب داستفادی له پاره برابر شوی وی .

نوشالبا دختیځوار یاپانو دحماسوډیری لرغونی توتی دزردشتی گاهانو په ذوق سره یکی په یوه تال او یوه آهنگ راغلی دی . البته گاتونه هم خورا ډیر لرغونی دی خود ژبی او ژبنیو خصوصیاتو له مخی پښتونه له گاتونو څخه ورو سته جوړ شوی ، خو د مضمون او مفهوم له مخی خورا ډیر لرغونی دی . (۱)

دخورا لرغونی حماسی په پابچی ورو سته مذهبی فارمولاورنه جوړه شوی ده د دوهمی نظر به ښکار ندوی (۱۹) پښت دی چی د (زمیاد) پښت یعنی (دزمکی سندره) په نامه یادیږی . په زمیاد پښت کی خوارنا د (خیراوبرکت) په تقریبی معناستایل کیږی او دخوارنا ستاینه دلرغونو زیاتوار یایی توکمونو په روایاتو کی راغلی ده . په هغو تصوراتو کی انسان په خپل اختیار دخوارنا خاوند کیدای نه شی . بلکی دهغو په برخه کیږی چی په پېلو پېلو څېرو : د پوه زوروړ گړ ، دکوم ښکاری مرغه او یا په گومه بله بڼه دی ته ورځی .

امکان لری چی دمنځنی اسیا په لرغونو رسمونو ، همدارنګه د هخامنشیانو په ډبرینو کتیبو کی دالو تونکی ترسیم ددغه خوارنا سیمبول وی .

په نوراسم یښت کی داستو گنی دساحی دبراخیدا دقصی نه وروسته

---

۱ - دیاری - تاجکی ادب تاریخ ۳۰-۵ مخو له

دیوه اباد او هیراز وخت په باب حکایت کیږي چې په یو دیرشم پشت او وزمیادیشت په ورېسې مصر عکانو کې دوام لري: اهورمزد یما (جمشید) ته وایي چې په زمکه سخت ژمی را روان دی، دیري واوري په وور یږي او کله چې هغه ویلې شي او به به ټوله زمکه لاندې کړي. اهورمزد یما ته امر کوي چې یوور Var ـ دیوه مربع چاپیرال جوړ کړي چې په هغه کې دغلو تخمونه، څاروي، مالونه وکړي، سړی او سرور تلاند او رغوندي وساتي. د چاپیرال د یو الوته باید یمادا ستوګنې کوزونه او دڅارو یود ساتنې ودانۍ چوړې کړي او دغلو او او بوزیرمه هم باید وساتي، یما داهورمزد امر په ځای کوي او په دغه صورت دزمکې پهمخ تولوسا کهوته نجات ورکوي. د یما په دغه چاپیرال کې نه ناقانو، نه لانجه، نه ناروغي، نه عیب نه هیڅ هغه څه چې اهریمن پیدا کړي دي. خود یما له لاسه کومه ګناه کیږي، غونه هوول کیږي چې هغه څه ګناه ده. ځینې پوهان دیستا دیوې برخې په تحلیل اتکال کوي چې د یما ګناه په دغو ینې غوښې خوړل وو. دلته باید وویل شي چې په زردشتي دیره لرغونې عقیده دڅاروي غوښه خوړل ګناه وه. (۱)

داوه دیوه پشت په روحیه لنډه رڼا. نور ځینې پښتونه هم په دغه شان مواد لري چې تفصیل یې موضوع اوږدوي.

وره اوستا: دزردشتي مذهب سوبځلي کتاب اوستا ته یوه بله برخه هم منسوبه ده چې د (وره اوستا ـ خورتك اوستك)

---

۱ ـ دیاښتو نوزیات تفصیل دپارسي ـ تاجیکي ادب تاریخ ۵۳ ـ ۶۲ مخونه.

(xvartak apastak) ) ـ په نامه یادیږی . دادویستا یوه‌دامی برخه ده چی په لرغونی (اویستا یی‌ژبه ‌نه ، بلکی په وروستی پارسی‌ژبه لیکل شوی چی د (پازند) په نامه یادیږی ، خو الفبا یی اویستائی ده . د روایتونوله مخی ددغی برخی مؤلف اتر پات مهر سپندان دی چی ساسانی دویم شاپور (۳۰۹-۳۷۹ میلادی) په وخت کی یی لیکلی ده . دغه برخه داویستادلب لباب اونچورحیثیت لری چی په اصطلاح د زردشتی مذهب دامیانو ( عوامو ) له پاره ورکی دزردشتی مذهب مهمی مسالی په‌ساده ساسانی پارسی لیکل شوی دی او په دغه صورت ورته اویستا دزردشتی مذهب‌دوروولو د عاومجموعه ده چی دهغو زده کړه په هر زردشتی باندی لازمه وه . (۱)

اویستا ته بله برخه هم منسوبه ده‌چی له پنځو دعاو (نیایشن) څخه‌عبارت ده . هغه نمر ، میترا ، سپوږمی ، ادویسورا ناهیتااو اورته خطاب دی . پنځه نوری چی د (گاه) په نامه یادیږی دوختو ایل کوونکوارواحوته خطاب دی او د ( سی‌روچک ) په نامه یاد شوی . همدارنګه دمیاشتود‌ایلو بیلو ورځوایل کوونکوارواحوته یوه برخه وقفه ده چی ( افرینګان ) نومیږی .

همدارنګه د(۲۱) ناسك یوه توته ( ایهر پستان) (دزر دشتی روحا نیونو قانون چی دهغه وخت دروحا نیونو د تسلط شواهدلری) بله برخه دنورنکستان په نامه دچی دعباداتو قانون دی.همدارنګه

---

۱- (دپار ـ تاسی‌جیګی ادب‌تاریخ) (۶۴) مخ

دشلم زامیک توتې هم ساتل شوي چې د مرګ نه وروسته دارواحو دسرنوشت په باب دي .

همدغه شان د اویستا د پهلو پهلو پر خويملي اولغات د تشريحاتو سره په منځنۍ پارسي ، د (منځنۍ پارسي - اویستا) په قاموس (فرهنګ ویم بوك) کې هم ساتل شوي دي .

همدارنګه د منځنۍ پارسي ، متونوکی هم د اویستا بيلې بيلې توتې ساتل شوي دي ، خو محققينو تراوسه هغه لا پوره بيلې کړې نه دي . (۱)

او په دغه صورت ګوروچې اویستا دهغو متنونو مجموعه ده چې په پهلوپهلو ختونوکې د پهلو پهلو اولسونو له خواجوړه شوي ده اوس دهغې لومړي متنونه په خپل لومړني شکل منوول امکان نه لري .

---

۱ - داریانی فیلالوژی اساسونه - (۷۹) مخ ، پارسي - تاجیکی ادب ۶۴ مخ

او د تاجيکی اولسی نظم له تاریخ څخه (۱۷۹) مخونه .

شپږمه برخه :

# داوېستا دخېړلو تاريخچه

په لرغونې اريا نې ځاوړه کې دزړ دښتي مذهب دمتنو نود مجموعې اوېستا «کتاب» دموجوديت په باب څېړا سناد او شواهد موجود وو. ددغه کتاب دموجوديت روايتونه هم دلرغوني يونان، داسوري، ارمني او هم د عربي مؤرخينو او لرغونو روايتونو په اثارو کې درج وو.

داوېستا دموجوديت روايتونه د اريانې مولفينو، مؤرخينو او پوهانو په هغو حماسي او تاريخي اثارو کې هم ثبت شوي چې په ميلادي اسمې دو-لسمې پېړۍ کې ليکل شوي چې له دغې مؤلفينو څخه يو هم نامتو حماسه ويونکی فردوسي دی.

خو داوېستا دمتونو او مضمون څخه معاصرانو او څېړونکې پېړۍ بې خبره او نا اشنا وو. داوېستا دموجوديت په باب روايتونو په تېره بيا دارو پايي محققينو سره ډېره تلوسه او مينه پيدا کړې وه چې ددغه له اسرارو

د کې کتاب څخه څرګنده شي او دغه په مضمون اور وح پوه شي، خود پروخت د دوی په لاس کې هیڅ معلومات په دې باب نه وو.

د زردشتیزم په باب د معلوماتو څرګند بدل پوازې په (۱۷) میلادی پېړۍ کې پیل شول. په (۱۶۳۰) کال کې (د پارسیانو مذهب) په نامه د هنري لارډ (Henrylord) کتاب خپور شوچې اوس یوازې تاریخي اهمیت لري نه معلومات. په (۱۷۰۰) کال کې د ت. هیډ (Th. hyde) اثرچې (د لرغونو پارسیانو، پارتیانو او میدیانو مذهب) نومیده خپور شو. دغه مؤلف په خپل کتاب کې له عربي او پارسي منابعو څه استفاده کړې وه خو دده د استفادې منابع یوازې د منځنیو پېړیو اسلامي اثار و، څو یقیني ده چې د زردشتیزم په باب د غو اثارو کې د معلومات لږ ل چې د تحقیق له پاره کافي او مستند نه وو او د. اویستا د متنو نو د روح او مضمون انعکاس پکې نه کاوه. له دې څخه پیدا ده چې دغه کتاب هم د اویستا او زردشتیزم په باب با ارزښته معلومات نه لرل.

د اویستا د څېړنې تاریخ په حقیقت کې د یوه فرانسوي زلمي محقق د وپرون ( ۱۷۳۱-۱۸۰۵) له نامه سره و ربط لري. دغه ځوان چې په پاریس کې د اویستا د ویندیداد یو ملخو لید. تر دغه وخته پوري لوید یخ کې هیڅوک د اویستا د الفبا سره بلد نه وو. محققینو ته یوازې هم دومره معلوم وه چې دغې متن د اویستا د مذهبي کتاب او د لرغوني زردشتي مذهب کومه نسخه ده. فکر کیده چې دغه معماو ز مه او نه لوستل کېږي ونکې نسخه په له دېرو پټوا سرارو ډکه وي. انګلستان له ځانه سره را یکړه وکړه چې په هر صورت چې وي اوله

هرې لارې چې ممکنه وه له دغه له اسرارو ډک کتاب څخه پرده
پورته کړي او د هغه په لوستلو قادر شي. ده ته معلومه وه چې د هند په
بمبۍ کې د زردشتي مذهب د پېروانو له لارې دغه مشکل حل کېدای
شي. ده هغه وخت د فرانسې له حکومت څخه وغوښتل چې په دې باب
له ده سره مرسته وکړي او دی د اویستا د لوستلو له پاره هند ته واستوي
خو فرانسوي حکومت ته دا یو پوچ خیال ښکاره شو او په دې لار کې یې
د مرستې او پیسو لګولو څخه ډډه وکړه. خوانکیټل له زیار او کوښښ
څخه لاس وانه خیست. دا وخت انګرېزانو د هند په نیمه وچه کې
د خپلوا ستعماري غرضونو د پراختیا له پاره په اروپا کې اجیر
عسکر استخدامول. انکیټل هم د یوه اجیر عادي عسکر په حیث دا-
ستخدام شو او عسکرو په لست کې ځان شامل کړ او د (۱۷۵۵)
کال د فبروري په میاشت کې د هند په لوري په کیښتۍ کې روان شو
او دغه بحري سفر شپږ میاشتې ونیو او د هماغه کال د اګست په
میاشت کې د پوندیشیر په بندر کې له کیښتۍ څخه ښکته شو. له دري-
ی کاله خدمت څخه وروسته دی په دې موفق شو چې له عسکري
خدمت نه په ځنګ او د سورات په نامه د زردشتیانو سیمې ته لاړ
چې هلته تر (۱۷۶۱) کاله پورې پاتې شو. (۱)

انکیټل په ډېر زحمت سره ځان زردشتیو ملکو ته نژدې کړ او د
زردشتي روحانیونو اعتبار او ډاډ یې حاصل کړ. د دوی له اولسي اد-
ابو او مذهبي مراسمو سره بلد شو او همدلته ده وکړای شول چې د
زردشتي مذهبي متنونو په لوستلو بریالی شي او د اویستایي متونو

۱- «د پارسي - تاجیکي ادب تاریخ» (۳۲) مخ

خو قلمي نسخې یې له ځانه سره واخیستې او په ( ۱۷۱۶ ) کال کې پاریس ته روان شو . په فرانسه کې یې په دغو نسخو باندې کار شروع کړ چې دغه په نتیجه کې د زردشتي مذهب متن د ترجمې سره په لویدیځ کې خپور شو او په حقیقت کې له همدغه وخته داو-یستاد څېړنې تاریخ په لویدیځ کې پیل شو.

دانکیتل اثر «زنداو یستا ـ دزردشت تالیف ... په فرانسوي ژبه ترجمه» د زند له اصل څخه دیادونو په ګډون (۱۷۷۱) کال په فرانسوي ژبه داویستا شعر ترجمه وه چې د منځنۍ پارسي «بونداهشن» د نړۍ د پیدایښت په باب کتاب او د هندوزردشتیانو د مراسمو او د-ودونو تشریح ضمیمه یې هم لرله (۱). د زردشتي مذهب اصول او د زردشتیانو دودونه په دغه کتاب کې ډیر ښه تشریح شوي وو، خو د فیلالوژۍ له پاره له ځینو نیمګړتیاو څخه خالي نه و. د زر-دشتي پیروانو د اوسني دودونو او عنعنو د څېړنې لپاره د انکیتل دغه کتاب اوس فوق العاده اهمیت لري . ځکه چې له هغه وخته تر دغه وخته د دغو زردشتیانو په دود او کلتور کې بیخي توپیر راغلی دی او دوی د دوه سوه کاله پخوا دود او عنعنې له مطالعې له پاره یوازینۍ منبع ده .

دانکیتل دو پورون فرانسوي ترجمې په اروپایي علمي ولکو کې سخت شور او زوږ پیدا کړ. ډېرو ختیځ پوهانو په دغه اثر باندې مسخر-ې او ملنډې وکړې. دوی ګومان کاوه چې انکیتل داویستا لرغونو متونو په ځای له ځانه کوم چټي او بې معنا څه د متن او د هغه د ترجمې په نامه وړاندې کړې دي . نامتو ختیځ پوه د بلیوجونس

(۱) ـ «دایراني فیلالوژۍ اساسونه» (۶۸-۶۹) مخونه

ده ته و لیکل: «... روښاني اروپا ستاموزند اوېستا ته اړه نلرله. دهغه په ترجمه تاسو خپل وخت عبث ضایع کړی دی ...» دغسې لیکنې او دغسې عکس العملونه څه د تعجب وړ نه و، ځکه چې د لرغونو مؤلفینو او پخوانیو روایاتو څخه اروپایي پوهانو سره داسې ذهنیت موجود و چې «د زردشت کتاب ښایي د زمکنۍ حکمت په ښکاره کولو کې کوم حیرانوونکی مضمون ولري او ښایي د ډېرو ژورو فلسفي افکارو پوه بلا په زیرمه وي.» همدغه وجه وه چې د دغه کتاب لوست او تحلیل ته چې د دوی له فرضیاتو سره یې سمون نه لاره د شک او ترد- دید په سترګه وکتل. دوی ولیدل چې د انکیتل دو پرون په کتاب ترجمه شوي اوېستا کې نه د کوم زمکني حکمت څرک شته او نه ورکې کوم ژور فلسفي فکر ځای شوی دی، بلکې یوازې بیا بیا تکرار شوي مذهبي فرمولاوی او دعاوی دی او ضمنا ییخی ساده او بدوی دودونه ورکې ځای شوي دي. همدغه وجه وه چې له دغه کتاب سره دوی دومره توافق ونه ښودلای شو او هغه یې د زلمي محقق انکیتل دو پیرون د فکر او ذهن مولود وباله. (۱)

د دغه شور او زوږ په بهیر کې داسې پوهان هم وو چې د انکیتل دو پیرون د لوست او تحلیل ملاتړ یې کاوه خو یوې خوا هم نه شو کولای چې مقابله خوا پرې قانع کړي او خپله دعوه په داسې اسنادو او دلیلو- نو اثبات کړي چې د مقابل لوري د منلو وړ وي، بلکې مشاجره یوازې په ذهني دلیلو نو ډیر وخت روانه وه ځکه چې په اروپا کې

۱ـ (د اریاني فیلالوژي اساسونه) (۷۱) مخ

پوهنې لاډ وړه وده نه وه کړې چې په عینې دلیلو نو او تجربو دغه لانجه یوې خوا ته کړی .

خو ان فرانسوي محقق انکیتل دنظر یې په ګټه ډیر مهم او لوړی اثر نامتود نمارکې ژبپوه راسموس کریستیان رسك Rasmus Cristian Rask (۱۷۸۷-۱۸۳۲ ) وړاندې کړ.
ددغه ژبپوه او په سانسکریت با ندې دستر لاس لرونکې محقق اثر چې په (۱۸۲٦) کې خپور شو او « دزند ژبې ، وزنداویستادارغونتوب او اصالت په باب » نومیده داویستا په باب دتحقیق او ترجمې سره زیاته مرسته وکړه . رسك چې دتاریخي مقایسوي ژبپوهنې یومو سس وده وکړه ای شول چې داویستا ارغونتوب او دسانسکریت سره دهغې نسبي خپلوی ثابته کړی او نور نو دغې پوښتنې ته ځای نه وچې دانکیتل اثرد ده دذهن مولود او دفکر زیږنده وبولی .

درسك په لاره بل نامتو سانسکریت پوه فرانسوي عالم بورنوف E. Burhouf ( ۱۸۰۱ - ۱۸۵۲ ) هم روان شو .
نوموړی داویستا اوسانسکریت دخپلوی داثبات په لاره کې زیات کاروکړ اوپه دې لاره کې یې ستر ستر تاریخي ګامونه واخیستل او هغه ژبنې ارخونه یې څرګند اوپه ډاګه کړل چې ددغودوارغونو ژبوتر منځه دقانوني نسبي خپلوی شواهد وو او ضمناً دهغې مقایسې په رڼاکې داویستا ځینې هغه برخې روښانه شوې چې انکیتل یابیخي لوستې نه وې او یا یې لوستاو تحلیل سم نه وو . نوموړی له هماغې ترجمې یاپه بل عبارت «ضمیمې» څخه استفاده وکړه چې

انکیتل دوپیرون له هانه سره فرانسی ته وړی وه، ده له هغو هغو برخوهخه هم استفاده کړی وه چی په منځنیو پیړیو کې یوه زردشتی پیر و نیر یو سنګه Neriosenk په سانسکریت اړولی وی
(۱) . د نیر وسنګ دغه ترجمه که څه هم په مستقیم دول له
اویستا څخه نه، بلکی له منځنی پارسی نه شوی وه خو د
اویستایی متنونو په لوستلو کی یې دیورنوف سره زیات ته مرسته وکړه
په (۱۸۳۳) کال کی په پاریس کی بورنوف «دیسنا تفسیر»
لومړی توك خپور کړ چی په هغه کې داویستا دګرامر مهم خصو-
صیات څرګند شوی وو، په دغو تحقیقاتو کی بورنوف په اویستا
داسی جدی کارو کړ چی دیوه بل ژبپوه او محقق م . مي په قول
«دسالم فکر قوت نبوغ ته نژدی شو» اودبورنوف څیړنو دآریایی
ژبو او دا یند وارو پایی ژبو د مقایسې او څیړنو لاره خلاصه
کړه . (۲) بورنوف په خپل دغه تحقیق کې د یستا یو متن چی په
پاریس کې په څلورو قلمی نسخو کې د سانسکریت له ترجمې سره و
دلومړی ځل پاره خپور کړ .
البته له دوه اویایسنا وهغه یوازی دیوی یسنا څپرکول په
دی باب یوازی د تحقیق یول وخت ترتولو مهمه د اوه چی ده په
خپلو تحقیقاتو سره وکړای شول چی داویستایی متنونو قدامت او
اصالت ثابت کړی او نور نود اویستا په باب دځل اشتباه لری

(۱)-(دپارسی - تاجیکی ادب تاریخ (۳۲-۳۳) مخونه
(۲) - د (آریانی فیلالوژی اساسونه(۷۱)

شوه او د هغو په باب په ډېره کلکه توگه فیلا لوژی تحقیقات را ترمنځه شول . (۱)

په (۱۸۳۳) کال دفرېدبوپ F. Bopp (۱۷۹۱ - ۱۸۶۷) له خوا د «مقایسوی گرامر» داومړی څېړونی سره اوېستا نه دسانسکریت، زړې یونانی، لاتینی او نورو لرغونو ژبو سره دمقایسې په لور د یو هانو پام واوښت .

په نوولسمه پېړی کې داوېستا د څېړنو په باب دوه اساسی ښوونځی منځ ته را غلل : یوه ښوونځی یې په دی اتکا لر له چې داوېستا دمتنونو په تفسیر او تحلیل کې ترهرڅه زیات په عنعنو او زاره دود باید تکیه وشی چې د منځنی پارسی په مذهبی ادبیاتو کی ساتل شوی وو . بل مکتب د ژبپوهی په اصولو ولاړو . دوی د منځنی پارسی متنونو او عنعنی ته دو مره پاملرنه نه کوله او حتی هغه یې سمه نه بلله . دوی داوېستا متنونو دسم لوستاو تحلیل په لاره کې له مقایسوی ژبپوهنی نه او په تېره بیا دسانسکریت سره دهغه له مقایسې او پرتلنی څخه کار اخیسته ( ۲ )- دمقایسوی ژبپوهنی له پوهانو سره فکر پیداشوچی دسانسکریت او زړې پارسی له مرستې متونو په لوستاومقایسه کیدای شی چې داوېستا هر متن او هره کلیمه سمه ولوستله شی او د هغې غږو نه تثبیت شی . خودغه نظریه ترزیاته وخته ثابته پاتی له شوه څکه دامی حقایق منځ ته را غلل چی دا یې ښووله چې داوېستا اوسا-

(۱) - (دپارسی - تاجیکی ادب تاریخ ). (۴۳) مخ

(۲)- ( دآریانی فیلالوژی اساسونه ) (۷۱) مخ

سنسکریت ترمنځه تل ترتله دغو ونوا ومعنا وترمنځه سمون اومو-
ازن حتمي نه دی . مثلاً دسانسکریت (دیوه Deva ) د (خدای)
معناوی چی ددغې کلیمې سره داویستا ( Dayva ) دغونو
مقایسوی سمون لری خو معنای (دیو) دی چی دیوه ضررناك موجود
معنالری ، او دامی نور .

نوځکه عنعنه یالو پوهانو استناد د ژبپوهنی په مقایسو باندی
نه کاوه بلکی دهغوسم لوست او تحلیل یی د زردشتی چاپیر یال په
عنعنو او اعقایدو کی لټاوه . خود مقایسوی ژبپوهنی پوهانو به ویل
چی داویستا په لرغونو متنونو حتی د ساسانیانو په دوره کی څوك
نه پوهیدل ، نو څرنګه کیدای شی چی دهغوسم لوست اوسم تحلیل
په اوسنی زردشتی چاپیریال کی ولټول شی . دهغو دوو مکتبونو ترمنځه
چې د نولسمی پیړی په سر کی منځ ته راغلی وه مشاجره بالاخره یوی
معتدلی تیوری ته ورسیده او په دی باب تر هر چا زیات رول برتولومی ولوباوه
چی د لرغونو ایرانی ژبو لوی قاموس یی جوړ کړ. دغه قاموس اوس هم
د دغو ژبو د څیړنی په باب یو ډیر باارزښته اثر ګڼل کیږی . ده په خپل
دغه اثر کی د لینګو یستیکو تحلیلاتو په رڼا کی د عنعنوی او روایاتو څخه
د استفادی پیشنهاد وکړ .

په دی کی شك نشته چی داویستا په زده کړه او د زردشتیزم په اصولو با-
ندی د پوهیدو یوه ښه لاره په ساسانی پهلوی داویستا ترجمه ده چی ځای په
ځای د متن او تحلیل او تفسیر هم لری . البته دا هم د تاسف وړ ده چی د ساسانی
پهلوی ژبه هم د دغو متنو په لوستلو کی زیات مشکلات پیښوی . نو د-

ومره زیاته اتکا او رباندې نشي کېدای خو په هر صورت د برتولومي پېشنهاد په دې باب معقول او د دوارو مکتبو نو پیروانو یې سره نژدې کړل.

په نولسمه او شلمه پېړۍ کې څخت په وخت د اوېستا په باب ډېر کار وشو او لا روان دی او سترو پوهانو لکه پروفیسر فریمین، دارمستېټر، وولف برو، کهاوس، گلډنر، هېګل، جکسن، بیر تلمي او نورو ژبپوهانو ډېرو پوهانو په دې باب ستر کارونه او خپل علمي اثار په دې باب مهمې اثارونه او پوهانو لکه پور داود ده هم اکثر اثارونه خپاره کړل خصوصاً د اوېستا پېچغرافیوي نومونو او په څېړنو او نورو موارد و کې چې تاریخي ارزښتونه لري د دوی اثار علمي ارزښت نه لري او لکه د مخه چې په څو برخو کې یې رڼا واچوله هر څه څرګند دي.

# مأخذونه

په دغه کتاب کې له دغو مأخذونو څخه زیاته استفاده شوې ده:


۱ـ (د پارسي ـ تاجیکي ادب تاریخ) مؤلف ی. ا. برتلس د شوروي اتحاد د علومو د اکاډمۍ خپرونه، مسکو (۱۹٦۰) کال.

۲ـ (د اریائي فیلالوژۍ اساسونه) مؤلف ی. م. ارانسکي د شوروي اتحاد د علومو د اکاډمۍ خپرونه مسکو (۱۹٦۱) کال.

۳ـ (د افغانستان تاریخ) لومړی ټوک مؤلفین و. م. مسون او ود. ا. رومودین د شوروي اتحاد د علومو د اکاډمۍ خپرونه مسکو (۱۹٦۴) کال.

۴ـ (د تاجیکي اولسي نظم له تاریخ څخه) مؤلف ی. س. براګینسکي د شوروي اتحاد د علومو د اکاډمۍ خپرونه مسکو (۱۹۵٦) کال.

۵ـ (د تاجیکي او فارسي ادب له تاریخ څخه) مؤلف ای. س. براګینسکي د شوروي اتحاد د علومو د اکاډمۍ خپرونه مسکو (۱۹۷۲) کال.

٦ـ (عصر اوستا) د شپیګل، ګیګر، ویندیشمن، سن جانا د لیکنو مجموعه د مجید رضي ترجمه ایران (۱۳۴۳) کال.

۷ـ (د خوارزم د لرغوني تمدن په لټونو) مؤلف س. پ. تولستوي د شوروي اتحاد د علومو د اکاډمۍ خپرونه مسکو (۱۹۴۸) کال.

۸ـ (تاجکان ـ خورا لرغونی، لرغونی او منځنی تاریخ) مؤلف ب. غ. غفوروف د شوروي اتحاد د علومو د اکاډمۍ خپرونه مسکو (۱۹۷۲) کال.

۹ـ (ادبیات مزدیسنا) د پورداود تالیف او تفسیر لو مړی توك ۱۳۲۸ کال بمبی .

۱۰ـ(د پاکستان اولسونه) مؤلف یو.وه گانکوفسکی دشوروی اتحاد دعلومو داکادمی خپرونه، مسکو ۱۹۶۴ کال .

۱۱ ـ (دروسی ژبی ایتیمو لوژیك قاموس ) مؤلف ا . گه پری اپریژنسکی د شوروی اتحاد د علومو د اکادمی خپر وله مسکو ۱۹۵۹ کال .

۱۲ ـ (فرهنگ نامهای اوستا) مؤلف هاشم رضی-ایران ۱۳۴۶ کال

۱۳ـ(گنجینهٔ اوستا) هاشم رضی دفروهر نشریات ، ایران د لیکلو کال یی ند ـ معلوم .

۱۴ ـ(جغرافیای تاریخی ایران )ـ دبرتولد ـ لو مړی چاپ ۱۳۰۸ کال تهران

۱۵ ـ(لرغونی پښتانه قومونه)ـ قیام الدین خادم ـ پښتو ټولنه ۱۳۰۳ کال.

# سمونلیک

ګرانو لوستونکوا د کتاب د لوستلو په وخت کې لطفاً د دغه څو ټکي په پام کې ونیسی :

۱ـ د توریو د زړښت له امله د ځینو پوله پله توپیر که څه هم لږ څه ګران دی، خو په لږې پاملرنې سره څرګندیدای شي .

۲ـ ځینې عنوانونه چې باید په خپل ځای کې په غټو توریو نیول شوي وای سهواً بې ځایه او په وړو توریو نیول شوي دي .

۳ـ لطفاً د دغه ضروري چاپي غلطي د سمونلیکه له مخې سمې کړي

| ګڼه | مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ٥ | ۱٦ | متشرقینو | مستشرقینو |
| ۲ | ۱۲ | ۲۱ | (لمنلیکه) ټکه | ټوټکه |
| ۳ | ۲۳ | ۷ | ایرج | ا ایرج |
| ٤ | ۳٥ | ۷ | الف | اولف |
| ٥ | ۳۸ | ۱۲ | مناکی ناپایل | (د اویل عنوان ذی) |
| ٦ | ٤٥ | ۱۹ | توسه توه د سیلد | ترسونده ورسید |
| ۷ | ٥۰ | ٦ | ستوی ـ | تنوی |

| کڼه | مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۵٦ | ۱۸ | خلوه | خپله |
| ۹ | ۵۸ | ۸ | دیرایکانا | دیریکان |
| ۱۰ | ٦۳ | ۱۰ | کهوی | کېدوی |
| ۱۱ | ٦۳ | ۱۹ | (لمونیکنك) »» | د افغانستان تاریخ لومړی ټوک |
| ۱۲ | ۷۵ | ۱ | جګړ | جګړی |
| ۱۳ | ۷٦ | ۱۰ | ور | کولتوری |
| ۱۴ | ۱۰۷ | ۱۹ | دیای | ویای |
| ۱۵ | ۱۱۲ | ۱۹ | الانواعو | الاالنواعو |
| ۱٦ | ۱۱۵ | ۱۱ | محبوسیان | مجوسیان |
| ۱۷ | ۱۲۵ | ۸ | جمنی | چی |
| ۱۸ | ۱۳۰ | ۷ | عبا ردت | عبادت |
| ۱۹ | ۱۳۹ | ۲۰ | بوزی | بوزای |

PROPERTY OF ACKU 4067